

# فکري جنګ


لیکوال: یحیی محمد الیاس
فارسي ژباړن: عبیدالله براهوئي

پښتو ژباړن: عطامحمد هیله من

بسم الله الرحمن الرحيم


## د کتاب ځانګړني

د کتاب نوم : فکري جنګ

لیکوال : یحیی محمد الیاس

ژبـــاړن : عطاء محمد هیله من ۰۷۹۵۰۶۰۵۴۲

کمـپـــوز : په خپله ژباړن

خپرندوی : مومند خپرندویه ټولنه - جلال اباد

بریښنالیک : momand.books@gmail.com

دیـــزاین : هدایت الله عادل

چاپشمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

چـــاپ وار : لومړی

چاپنېټـــه : ۱۳۹۵ لمریز

چاپځـــای : د مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي ځانګه



چاپ حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي



پتې

ننګرهار: عبدالمجید مومند کتاب پلورنځی - مخابراتو څلورلاری

اړیکې: ۰۷۰۰۶۲۶۱۶۱ / ۰۷۷۷۶۲۶۱۶۱ / ۰۷۸۱۶۲۶۱۶۱

کابل: اصلاح و افکار کتابپلورنځی / خیبر کتاب پلورنځی / دارالسلام کتاب پلورنځ / مستقبل کتاب پلورنځی

کندهار: امیر کروړ کتابپلورنځی / افغان کتاب پلورنځی / عرفان کتاب پلورنځی

خوست: غرغښت کتاب پلورنځی / رحیمي کتاب پلورنځی / لمر کتاب پلورنځی / سپاووږ کتاب پلورنځی / ایماني کتابپلورنځی

هلمند: سید جمال الدین کتابپلورنځی / تاج منور کتاب پلورنځی

پکتیا: علمي کتاب پلورنځی / روحاني بابا کتابپلورنځی

پکتیکا: مجاهد کتاب پلورنځی

غزني: قیومي کتاب پلورنځی



مکتبة الاندلس ⟵ @andlasbook

## د ژباړن یادښت:

په عربي ژبه لیکل شوی (الغزوه الفکری) د یحیی محمد الیاس اثر دی، چې له نن څخه یې نږدې ۲۳ کاله وړاندې یواځې د امام ابوحنیفه (رح) د معهد د زده کړیالانو لپاره لیکلی وو. د کتاب د منځپانګې بډاینې او د کفري نړۍ د فکري ښکیلاک چټکتیا ته په کتنه اوسمهال د نړۍ په بېلابېلو دیني مدرسو او اسلامي پوهنتونو کې تدریسېږي. دا کتاب په ۱۳۸۹ کال کې د زاهدان د بدرالعلوم مدرسې ښوونکي ښاغلي عبیدالله براهوئي په فارسي ژبه ژباړلی دی. په یاد کتاب کې داسې مسایل رانغاړل شوي، چې په مسلمانه نړۍ کې د فکري جنګ د شدت، قوت او څواک په اړه د همدې نن ورځې احصائیه وړاندې کوي. دا کتاب لوستونکي ته په ګوته کوي، چې کفري نړۍ د مسلمانانو د ښکیلتیا لپاره له کومو وسایلو ګټنه کوي. دا مهال زموږ په هېواد کې دا خبره په ډېر جوش و خروش سره کېږي، چې د ښاغلي حامد کرزي په مشرۍ په هېواد کې د رامنځته شوي نظام لویه لاسته راوړنه د بیان او رسنیو ازادي ده؛ خو که د همدې لاسته راوړنې شاته وګورو؛ نو ښکاره به شي، چې کفري نړۍ د همدې رسنیو د بډاینې او پراختیا لپاره د افغانستان د نورو لومړیتوبونو په پرتله ډېره پانګونه کړې او لا یې کوي، چې لامل هم همدا دی، چې د رسنیو له لارې دوی خپل موخې ( فکری ښکیلاک) ته په اسانه رسېدلای شي. دا مهال په هېواد کې یو شمېر رسنی د فکري ښکیلاک دپراختیا په موخه تمویلېږي او داسې خپروني لري، چې په هېڅ مانا له اسلامي کلتور او افغاني ارزښتونو سره سمون نه لري.

په دې کتاب کې د فکري جنګ پړاوونه، ډولونه او وسایل په خورا ښه ډول څېړل شوي، چې ما دلته د خپلې مسلکي اړیکې له مخې یوازې له رسنیو یادونه وکړه. درانه لوستوال به د کتاب په لوستو سره د فکري جنګ په بشپړ څرنګوالي لا ښه پوه شي.

درنښت

مدیر هیله من

۱۳۹۵ د وري لومړۍ نېټه

## د فارسي ژباړن سریزه:

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم امابعد:

د حق او باطل تر منځ جنګ او کشمکش د بشر د پیدایښت له هماغه لومړیو ورځو څخه پیل شوی او د تاریخ په اوږدو کې یې دوام موندلی دی. ددې جنګونو ښې بېلګې له طاغوتي او باطل پلویو سره د انبیاو علیه السلام او د هغوی د رښتینیو پلویانو تر منځ په شخړو او جنګونو کې ښې لیدلی شو.مګر په دې ټولو شخړو او جنګونو کې د پام وړ خبره دا ده کله، چې طاغوتي ځواک له مسلمانانو سره په مخامخ نظامي جنګونو کې ماتې خوړلې؛ نو د اخري ځواک په توګه یې د مسلمانانو په وړاندې فکري او رواني جنګ په لاره اچولی دی.

هغوی په دې برخه کې هڅه کوي، چې حقایق مسحه کړي او د حق ښکلې څېره د دروغو او بې بنسټه تورونو پر مټ پیکه او بدرنګه وښایي. هغوی غواړي د انبیاوکرامو او د بشر د مصلحانو کارنامې د دروغو او شک اچونې په وسیله د مسلمان امت له پامه وغورځوي.

قران مجید په ډېرى ایاتونو کې له هغوی نامناسبو او له سپکاوي ډکو الفاظو، القابو او کلماتو یادونه کړې، چې هغوی به انبیاوو او د هغوی د پلویانو لپاره کارول.

قران کریم په بشپړ صراحت او وضاحت سره د دوی د دروغو، شک اچونې او دسیسو په وړاندې خواب ویلی او په ښه ډول یې له دې دروغو او دسیسو څخه پرده پورته کړې ده ( یریدون لیطفئوا نورالله باءفواههم والله متم نوره و لوکره الکافرون)

مګر د اسلام په تاریخ کې کله، چې مسلمانانو د بشر مادي او مانیزه رهبري په لاس کې واخیسته او په ټولو علمي، دیني، سیاسي، نظامي، اقتصادي او

ټولنیزو ډګرونو کې یې بریاوې ترلاسه کړې، د اسلام دښمنانو په ځانګړې ډول مسیحیانو او یهودیانو، چې له اسلام له ظهور وړاندې یې ځانونو ته د بشر د رهبرانو تصور کاوه د کینې اور یې په غرغړو شو. هغوی هیڅکله ونه شو کولی، چې د اسلام برې و زغمي او له اسلام څخه د غچ اخیستنې احساس یې د خپلو عبادتځایونو او کلیساوو په تورو خونو کې وپاله، تر دې چې د پنځمې لېږدیزې سپوږمیزې پیړۍ په وروستو (۱۰۹۷ز) کې د ځینو لاملونو له مخې ورته زمینه برابره شوه، چې له مسلمانانو غچ واخلي. لنډه دا چې خپل ټول مادي او مانیز ځواک یې راټول او خونړۍ، ویجاړوونکي او تباکوونکي صلیبي جنګونه یې پیل کړل.اسلامي هیوادونه یو په بل پسې د مسلمانانو له لاسه ووتل، د مسلمانانو لومړۍ قبله (بیت المقدس ) یې اشغال او په زرګونه مسلمانان یې شهیدان کړل. بالاخره د خپلې ناحقې کینې پر مټ یې له مسلمانانو غچ واخیست.

مګر ډېر وخت نه وو تېر شوی، چې اسلامي امت په پښو ودرېدو، د اسلام ستر شخصیتونه رامیدان ته شول، د جهاد او شهادت روح یو ځل بیا په مسلمانانو کې غځونې وکړې. د اسلامي تاریخ نومیالي لکه شهید نورالدین محمود زنګي، صلاح الدین ایوبي او په زرګونه نور قهرمانان د نړۍ له هر ګوټ څخه د جهاد په موخه سره یو موټی شول. اسلامي ځواکونه پر طاغوتي هغوی بریالي او صلیبي جنګیالي، خوار، ذلیل او شرمیدلي خپلو کورونو ته ستانه شول. دا ځل صلیبي جنګي قوماندانان سره له دې چې ماتې یې هم خوړلې وه په اندېښنه کې وو، چې د مسلمانانو د بریا راز څه شی دی؟ ولې مسلمانان په هر میدان کې بریالي دي؟ ولې مسلمانان ماته نه مني؟

هو! هغوی دا ځل د خپلو ټولو پوښتنو ځواب موندلی وو. مسلمانان؛ بریالي دي، ځکه، چې هغوی دین او عقیده لري. مسلمانان بریالي دي ځکه، چې هغوی فرهنګ، هویت او ازادي لري.

هغوی و پتیبله چې له مسلمانانو سره باید د جنګ ډول ته بدلون ورکړي، باید ریښې یې وچې کړي، باید انګېزې ووژني، باید لومړی له هر څه د مسلمانانو دین او عقیده له منځه یوسي.

... او دا ددې غملړلي داستان پیل وو، د فکري جنګ،د هغه جنګ، چې ډېر پیچلی، ژور، نامحسوس، نامرئي مګر ډېر زیات خطرناک، تباکوونکي او ویجاړوونکي دی. هغه جنګ، چې په کې شیطان د انسانیت روح ته لویه ضربه ورسوله.

زه ددې له ماجراو ډک داستان دوام درانه لیکوال ته پرېږدم، هغه په دې کتاب کې په ډېر ښه ډول له دې ماجراو څخه پرده پورته کړې ده.

درانه لیکوال په دې کتاب کې هغه حقایق څېړلي او سپړلي دي، چې د ډېری مسلمانانو په ځانګړي ډول د ځوانانو له نظره پټ پاتې شوي دي.په دې اثر کې له هغو څېرو هم پرده پورته شوې، چې د انسان په لباس کې یې انسانیت ته خورا درانه زیانونه اړولي دي.

په یاد کتاب کې په ډېر منظم او هدفمن ډول د فکري جنګ ټول مرموز او پیچلي اړخونه په ښه ډول په ګوته شوي. هغه دامونه او لومې، چې په ټوله کې د مسلمانانو او په ځانګړي ډول د ځوانو زده کړیالانو د ښکیلتیا په موخه ایښودل شوي ټولو ته یې په خورا ښه شان روښانه کړي دي.دا یو حقیقت دی، چې یاد کتاب په داسې ډول اوډل شوی، چې د هرې کچې مسلمان ترې ګټنه کولای شي او دا هماغه څه وو، چې ژباړن (فارسي ژباړن) یې دې ته وهڅوو، چې دا کتاب په خپل مات و ګوډ قلم وژباړي. که څه هم ددې کتاب ژباړه به بلا ډېرې نیمګړتیاوې ولري؛ خو زه هیله لرم، چې لوستونکي په ځانګړي ډول ځوانان به ترې ګټنه وکړي.

د یادونې وړ ده، ددې لپاره، چې دا کتاب د ټولو د ګټنې وړ وګرځي په کې له پیچلیو عبارتونو، اصطلاحاتو او له تکي په تکي ژباړې ډډه شوې ده.

همدارنګه باید ووایم، چې اصل کتاب له ۱۳ درسونو څخه جوړ شوی، چې ژباړن د بحثونو د تفکیک او اسانتیا په موخه دیارلسم درس په دوو درسي واحدونو ویشلی دی.

په پای کې په ځان پور ګڼم، چې له خپلو ټولو هغو دوستانو، چې ددې کتاب په ژباړه، ترتیب او چاپ کې یې مرسته کړې د زړه له تله مننه وکړم.

درنښت

[illegible]یدالله براهونی

د زاهدان بدرالعلوم مدرسه

۱۳۸۹ روژه

**د ليکوال سریزه:**

ستاینه او ثنا ځانګړې هغه رب (ج) لره ده، چې مرګ او ژوند یې په دې موخه پیدا کړی، چې خپل بندګان و ازمایي، چې کوم یو یې ښه او غوره چارې ترسره کوي. د هغه ذات پاکي یادوم، چې هیڅکله د خپلو چارو په اړه تر پوښتنې لاندې نه راځي، په داسې حال کې، چې نور خلک د خپلو اعمالو له امله د هغه (ج) له لوري تر پوښتنو لاندې نیول کېږي.

ناپایه درود او سلام پر حضرت محمد(ص) او د هغه پر رښتینیو ملګرو، په هغه کسانو، چې پر هغه (ص) یې ایمان راوړی او ملاتړ یې ترې کړی دی او له هغې رڼا چې پر حضرت محمد (ص) نازل شوې پیروي کړې ده. له شکه پرته هغوی ټول رښتیني او پرهېزګاران وو.

امابعد:

په هره اندازه چې بشر د جنګي وسایلو او د ډله ییزو وژنو د وسلو په جوړولو کې پرمختګ وکړي، بیا هم فکري جنګ اسلامي نړۍ ته ډېر زیات خطرناک، وژونکی او له نظامي جنګونو زیات زیان اړوونکی دی. له شک پرته په نظامي جنګونو کې له پرلپسې ماتو وروسته لویدیځ دې ته چمتو شو، چې په اسلامي ټولنه د فکري جنګ له لارې برید وکړي. هغوی دا ځل له نویو او پرمختللیو کړنلارو سره، چې په کم لګښت یې لویې بریاوې تضمینوي د جنګ میدان ته راووتل.

همدا لامل و چې دیني مدرسو او اسلامي پوهنتونونو پرېکړه وکړه، چې د فکري جنګ مضمون په دې موخه په خپل درسي نصاب کې شامل کړي، چې طالبان او زده کړیالان ددې جنګ او د اسلام د دښمنانو له دسیسو او توطیو څخه ښه خبر شي.

ما چې دري پرلپسې دورې په امام ابوحنیفه (رح) معهد کې د فکري جګ مضمون تدریس کړی، احساس مې کړه، چې طالبان او زده کړیالان ددې کتاب له پیچلیو عبارتونو سره ستونزه لري د مخکینیو استادانو په شان مې د زده کړیالانو وړاندیزونه د معهد مدیریت ته وسپارل. د زده کړیالانو په دې ټولو وړاندیزونو کې غوښتنه شوې وه، چې د اوسني کتاب پر ځای باید بل کتاب داسې ولیکل شي، چې د دوی له سویې، ژبې او ادبیاتو سره همغږي ولري.

بالاخره ددې وړاندیزونو پایله دا شوه، چې زه ( یحیی محمد الیاس) په دې برخه کې یو کتاب ولیکم، او لاندې عناصر، چې په مخکیني کتاب کې یې شتون نه درلود په کې ځای کړم.

۱: امکان تر حده باید پر اصلي موادو او اساسي موضوعاتو ولیکل شي.

۲: .موضوعات باید په منظم او هدفمن ډول ترتیب شي

۳: له اسانو او روانو عبارتونو ځخه ګټنه، چې د زدکړیالانو له سویې، ژبې او ادبیاتو سره همغږي ولري.

۴: په کتاب کې له بې ځایه تفصیل او زیانمنوونکي لنډون ځخه ډډه کول.

د الله (ج) په مرسته مې د پام وړ موضوعات او مطالب راټول او د پورته ځانګړنو په پام کې نیوو سره مې منظم او ترتیب کړل. وروسته مې کتاب په ۱۳ درسي واحدونو وویشه او له هر درس وروسته مې پوښتنې مطرح کړې، چې زده کړیالان له هر درس وروسته پوښتنو ته ځواب ووایې، چې په دې سره به یې مطالب او مفاهیم په ذهن کې تلپاتې شي.

ددې لنډې مقدمې په ترځ کې غواړم د امام ابو حنیفه (رح) د معهد له مدیریت ځخه د زړه له تله مننه وکړم، چې پر ما یې ددې کتاب لیکلو باور وکړ. همدارنګه له درانه استاد ( ابوفیصل) ځخه، چې د یاد معهد د روزنیزې برخې

مسول دی نړۍ منته وکړم، چې ددې کتاب په سمونه، ترتیب او تنظیم کې یې راسره مرسته کړې ده.

په پای کې له الله (ج) مې هیله ده، چې زما دا وړه هڅه د خپلې رضا لامل، جاري صدقه او گټه رسوونکی علم وګرځوي، چې زما له مړینې وروسته یې ثواب دوام ومومي او د قبر په تنهایي کې مې په درد وخوري. له الله ج مې غوښتنه ده، چې زما مور و پلار او استادان د خپل رحم و کرم حقدار وګڼي، له شک پرته الله(ج) د هیلې او ارزو پواځنی سرچینه ده.

و صلی الله علی سیدنا و قدوتنا محمد و علی اله و صحبه وسلم

یحیی محمد الیاس

سه شنبه ۱۷/٦/۱۴۱۴

# ليکلړ


لومړۍ برخه ............ 1
د فکري جنګ تعريف او پړاوونه ............ 1
لومړی درس ............ 1
فکري جنګ: ............ 1
د فکري جنګ تاريخ: ............ 2
پوښتنې: ............ 9
دويم درس ............ 10
د فکري جنګ پړاوونه ............ 10
د فکري جنګ څلورګوني پړاوونه: ............ 10
صليبي جنګونه: ............ 10
د صليبي جنګونو تاريخ: ............ 11
صليبي جنګونه څه ډول پای ته ورسېدل؟ ............ 11
•په صليبي جنګونوکې د صليبيانو ځينې جنايتونه: ............ 13
د صليبي جنګونو موخې: ............ 14
پوښتنې: ............ 16
درېيم درس ............ 17
ښکېلاک ............ 17
پوښتنې: ............ 22
څلورم درس ............ 23
ختيځ پېژندنه (استشراق) ............ 23
•د ختيځ پېژندنې تعريف: ............ 23
د ختيځ پېژندنې تاريخ: ............ 24
د ختيځ پېژندنې پړاوونه: ............ 25
د ختيځ پيژندونکيو موخې: ............ 25

علمي انگېزه: ........................ 26
مذهبي انگېزه( صليبي) ........................ 26
دفاعي انگېزه: ........................ 27
سوداگريزه انگېزه: ........................ 27
سياسي انگېزه: ........................ 27
د ختيځ پيژندونکيو ابزار او وسايل: ........................ 29
•د ختيځ پيژندنې موضوع: ........................ 30
پوښتنې: ........................ 32
۱:- ختيځ پيژندنه تعريف کړئ او ووايې،چې ختيځ پيژندونکي څوک دي؟ ........................ 32
پنځم درس ........................ 33
تنصير (تبشير) ........................ 33
د تبشير پړاوونه: ........................ 33
د تنصير( تبشير) موخې: ........................ 35
د تنصير ( تبشير) وسايل: ........................ 36
خپرونې او مجلې: ........................ 37
د ښوونيز او روزنيز نظام لويديځوال کول: ........................ 37
په افغانستان کې تبشير: ........................ 43
پوښتنې: ........................ 46
دويمه برخه ........................ 47
د فکري جنګ موخې او ابزار ........................ 47
شپږم درس ........................ 48
د فکري جنګ موخې: ........................ 48
۱:- په اروپايي ملتونو کې د اسلام د خپراوي مخنيوی: ........................ 48
۲- د اسلام د تصوير تخريب او مسخه کول: ........................ 49
۳: د اسلامي امت په تاريخ کې شک اچونه: ........................ 50

٤: د مسلمان ملت په اوسني عصر کې شک اچونه: ............ 51
٥: د اسلامي امت د راتلونکې په اړه د شک اچونه: ............ 52
٦: د اسلامي امت د هویت ویلې کول (له منځه وړل) ............ 53
٧: د نویو فرهنګي عناصرو ځایناستي کول: ............ 54
پوښتنې: ............ 57
اووم درس ............ 58
د فکري جنګ ابزار ............ 58
د سیکولریزم د خپراوي وسایل: ............ 64
**رسنۍ:** ............ 64
**ښوونه او روزنه:** ............ 65
د سیکولریزم نښې او پایلې: ............ 67
•په دولتي او قانون جوړونکیو ادارو کې د سیکولرانو نفوذ. ............ 68
**سیاست:** ............ 68
قضایې او تشریعي مراکز: ............ 69
هنر،فرهنګ او فکر: ............ 69
**روزنیز پلاوي:** ............ 71
پوښتنې: ............ 73
اتم درس ............ 74
د نژادي تعصباتو ژوندي کول او د نژادپالنې (ناسونالیزم) شعارونه ورکول: ............ 74
نژاد پالنې د تفکر په خپراوي کې د دښمنانو کړنلارې: ............ 78
•د احزابو او سازمانونو بېلګې: ............ 79
پوښتنې: ............ 81
نهم درس ............ 82
د قانون جوړونې او تصمیم نیونې په مراکزو حاکمیت ............ 82
په ښوونیز او روزنیز نظام کې نفوذ او له هغې ګټنه: ............ 84

•د پردیو ژبو لمانځل او هغه درسي او تدریسي ژبې گرځول: ............86
•د فکري جنگ له موخو سره د ځینو درسي موادو بدلون: ................87
• ..............د جغرافیې د تدریس په وسیله په مسلمانانو کې د بېلتون رامنځته کول:............................................................88
لسم درس ............................................................90
په رسنیو واک او ترې گټنه:............................................................90
پوښتنې:............................................................93
یوولسم درس ............................................................94
ددیني رهبرانو، مسلمانو او انقلابي شخصیتونو تخریب:......................94
پوښتنې:............................................................98
دولسم درس............................................................99
په اسلامي هیوادونو کې د ساختگي او دروغجنو قیادتونو جوړول..............99
پوښتنې:............................................................102
دیارلسم درس............................................................103
د مسلمانانو په تولنیز نظام برید ............................................103
څوارلسم درس ............................................................106
د ښځې ازادي(فمنیسم) ............................................106
•پردې (حجاب) له منځه وړل: ............................................112
•د هلکانو او نجونو یو ځای والي ( اختلاط) ته هڅونه: ................116
•له کوره د کار په موخه د ښځې وتل: ............................................117

# لومړۍ برخه
# د فکري جنګ تعریف او پړاوونه
# لومړی درس

## فکري جنګ:

**د فکري جنګ تعریف:** استاد محمد قطب فکري جنګ دا ډول تعریفوي:
((فکري جنګ هغه جنګ ته وایې، چې صلیبیان په کې د اسلامي زندګی مظاهر له منځه وړي او هم مسلمانان د اسلام له پیروۍ څخه لرې ساتي او هغه څه، چې په اسلامي عقېدې پورې تړلي لکه فکر، درک، فرهنګ، اداب او رسوم د غیر نظامي وسایلو پر مټ یې ویجاړوي.))[1]

په هر ترتیب فکري جنګ د جنګ یوه نوې بڼه ده، چې صلیبیانو په نظامي بریدونو کې له پرلپسې ماتې وروسته طرحه کړې ده.هغوی د یوې داسې غېرې نظامي تګلارې په لټه کې و، چې له مخې یې وکولای شي مسلمانانو ته ماتې ورکړي، ځکه ، چې د هغوی هر نظامي برید ناکام شوی او پرته له دې چې هغوی په کې رسوااو شرمینده شي بله پایله یې نه ده لرلې.

استاد محمد قطب زیاتوي: ((لومړی کس، چې اروپا یې ددې اغېزمنې تګلارې پلي کولو ته راوبلله هغه د فرانسې پاچا ( نهم لویس ) و. هغه په صلیبي جنګونو کې د مسلمانانو په لاس بندي شوی او د مصر په منصوره زندان کې یې څه وخت تېر کړی و، وروسته بیا د فدیې په بدل کې ازاد

[1] واقعنا المعاصر ۱۹۵ مخ

شو.د مصر په زندان کې يې په دې موضوع ډېر فکر کړی و، چې څنګه به وکولی شي مسلمانانو ته ماتې ورکړي؟

هغه د يوې داسې تګلارې په اړه، چې په نظامي ډول په کې مخامخ کېدل نه وي ډېر فکرمن و او په پای کې دې پايلې ته رسېدلی و،چې پر جګړه ييز ډګر مسلمانانو ته ماتې ورکول شوني نه دي او بايد له هر څه لومړی يې له عقېدې، فکر او فرهنګ سره وجنګېږو. دا و، چې څنګه پاريس ته ورسېدو مسيحي نړۍ ته يې اعلان وکړ: که غواړئ،چې مسلمانانو ته ماتې ورکړئ يواځې په وسله ورسره مه جنګېږئ؛ ځکه په وسله والو نښتو کې موږ تل ماتې خوړلې.

بلې! بايد له عقېدې سره يې وجنګېږئ؛ ځکه د مسلمانانو د بري راز د هغوی په عقېده کې پټ دی)).2

## د فکري جنګ تاريخ:

په دې کې د الله ﷻ خپل حکمت دی، چې د بشر د تاريخ په اوږدو کې حق له باطل سره په جنګ او مبارزه کې پاتې شوی او هېڅکله له دې مبارزې ستړی شوی نه دی، همدارنګه د حق پلويانو هم په دې مبارزه کې هيڅ ډول ستړيا نه ده احساس کړې او لکه څنګه، چې د باطل پلويانو هېڅکله د حق پروړاندې له دسيسو، توطيو او مکر مخ نه دی اړولی، د حق پلويانو هم په ټوله وړتيا له حقه ملاتړ کړی.

الله ﷻ فرمايلي دي: د سورت بقرې ۲۱۷ ايات:

---

[2] دې ته په پام سره،چې فکري جنګ د تاريخ په اوږدو کې له ډېرو پېچلو پړاوونو تېر شوی او په اوسنی نړۍ کې هم په علمي،فني،اطلاعاتي او فرهنګي برخو کې د لويو بدلونونو په رامنځته کېدو سره ورځ تر بلې پېچلی کېږي.د فکري جنګ ټولو اړخونو او بدلونو د معرفي کولو لپاره ډېرو زياتو امکاناتو ته اړتيا ده.نو له دې امله يې دلته په لنډه پېژندنه بسنه کوو.( فارسي ژباړن)

وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّى يَرُدُّوكُمْ عَنْ دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا ۚ

ژباړه: هغوی(مشرکان) به له تاسې سره وجنګېږي، ترڅو وتوانېږي، چې تاسې له خپل ايين څخه وګرځوي.ددې ايات د تفسير په اړه د بلاغت او معاني علما داسې ليکي: په دې ځای کې د (يقاتلونکم او يزالون) صيغې مضارع فعل دی او د استمراري تجديد مانا ورکوي، په دې تفسير کې ويل شوي، چې د اسلام په وړاندې دسيسې د اسلام له ځرګندېدو سره سمې پيل شوي او تر هغې، چې مسلمانان خپلې عقېدې ته ژمن وي دا دسيسې او مکرونه به د وخت له غوښتنو سره سم په نوي انداز دوام ولري.

نو ويلی شو، چې د فکري جنګ تاريخ د اسلام تاريخ ته رسېږي،په دې مانا هر وخت چې حق شتون درلودلی،له هماغه وخته يې په وړاندې باطل سنګر تود ساتلی دی. په دې اړه قرآن مجيد موږ ته د ادم (ع)کيسه په تفصيل سره بيان کړې ده؛کله چې لعين ابليس حضرت ادم (ع) ته د دوستی او خيرخواهی تظاهر وکړ او خپل مغلظه قسمونه يې ياد کړل؛( و قاسمهاانی لکما لمن النصحين)

بلې! دا خپله ددې ناپاکه جنګ يو ډول دی، چې وسايل او ابزاريې پټ او پايلې يې څه وخت وروسته ښکاره کېږي. همدارنګه د حضرت محمدﷺ د امت په تاريخ کې هم ددې خطرناک جنګ بېلګې ليدلای شو، چې يو شمېر يې په نبويﷺ عصر او د اصحابو کرامو په زمانه کې رامنځته شوي، داچې اصحاب او د نبي کريمﷺ ملګري د کلکې عقېدې خاوندان و ، ويې نه شول کړای، چې عقايد او افکار يې تر تاثير لاندې راولي او يا يې په اخلاقو او سلوک کې بدلون رامنځته کړي.

د حضرت کعب ابن مالک (رض) داستان د اصحابو کرامو د مبارزې او د فکري جنګ د تاثیراتو د نه منلو ښه بېلګه ده.
حضرت کعب ابن مالک (رض) یو له هغو دریو تنو څخه و،چې د تبوک جګړه یې پر ځای پرېښې وه او د توبې منل یې هم ځنډېدلي و او د قرآن کریم په استناد زمکه پرې باندې تنګه . وې وه ( وضاقت علیهم لارض بما رحبت)
په دې بحث کې د دلیل وړ ټکی د داستان هغه برخه ده، چې د غسان د پاچا استازی د حضرت کعب ابن مالک څنګ ته راځي او یو لیک ورته وړاندې کوي، چې په کې ترې غوښتل شوي، چې له دوی سره یو ځای شي او د دوی د تجلیل او تقدیر وړ وګرځي.باید پام مو وي،چې دا پیغام حضرت کعب (رض) ته په داسې مهال ورسېد، چې له خلکو د ګوښه توب او له ده څخه د نبي کریم ﷺ د مخ اړونې له امله تر سخت روحي فشار لاندې و؛ خو د حضرت کعب رض ځواب دې لیک په اړه څه و؟ ددې وسوسه اچوونکي او شیطاني پیغام پروړاندې د هغه غبرګون څه و؟ ددې خوابونو د موندلو لپاره به ښه وي، چې ددې کیسې په اړه خپله له هغه څخه واورو، چې وایې:
کله، چې مې د مدینې په بازار کې قدم واهه، سترګې مې د شام په یوه سوداګر ولګېدې، چې له خلکو یې پوښتل کعب ابن مالک څوک دی؟ خلکو زما په لوري اشاره وکړه او هغه زما په لوري راغی، د غسان د پادشاه لیک یې راکړو، لیک مې ولوست داسې په کې لیکل شوي وو:

خبر شوی یم، چې ستا صاحب درته په قهر شوی او ته یې تر سزا لاندې نیولی یې،د خپګان ځای نه دی،ستا خدای ته د خوارۍ او سپکاوي ور نه یې ګرځولی.له ما سره یو ځای شه، زه به دې خواخوږی او غمخور و اوسم. حضرت کعب ابن مالک وایي: کله، چې مې دا لیک ولوست له خانه سره مې وویل دا د الله ﷻ له لوري د ازمویني یو بل ډول دی.چټک د تنور په لوري لاړم او لیک مې په تنور کې واچاوه.

د فکري جنګ بله بېلګه، چې د رسول الله(ص) په وخت کې رامنځته شوې او د قرآنکریم دې ایت کې هم ورته اشاره شوې (يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوْا فَرِيْقًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ يَرُدُّوْكُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ كٰفِرِيْنَ ۱۰۰)

ژباړه: ای مومنانو! که د اهل کتابو د کومې ډلې اطاعت مو وکړ نو له خپل ایمان وروسته به مو کافران کړي.

د پورته یاد شوي ایات لپاره بېلابېل شان نزول یاد شوي، مګر په حقیقت کې ټول په یوه ټکي پای ته رسیږي او هغه دا چې کله خدای ﷻ د مسلمانانو تر منځ اختلاف د حضرت محمد ﷺ په وسیله پای ته ورساوه، یهودیان سمدستي لاس په کار شول، چې د مسلمانانو تر منځ اختلافات پیدا کړي او غوښتل یې، چې مسلمانان په خپلو کې سره اخته کړي. ددوی دا هڅه تر یوه ځایه بریالۍ هم وه؛ خو ډېر ژر الله ﷻ مومنانو ته د حق په لوري لارښوونه وکړه.3

3 (جامع البیان عن تاویلای القران) امام ابو جعفر محمد ابن جریر الصبری ج/۴.۳ مخونه /۲۵.۲۴ (مفردات القران) محمد ابن حسن حمصی مخونه/۹۹.۹۸

په دې اړه ډېرې بېلګې شته، چې دلته به د ټولو بیان شونی نه وي؛ مګر باید په دې وپوهېږو، چې ټول یې همدا یو پیغام لري، چې مسلمانان د اسلامي دعوت له پیله او د اسلام په طلایي دوره کې د فکري جنګ تر یرغل لاندې وو؛ مګر د وروستیو پېړیو له مسلمانانو سره یې توپیر په دې کې دی، چې هغه مهال د دښمنانو غولوونکیو او شیطاني پیغامونو د اورېدو لپاره د هغه وخت پاکو مسلمانانو غوږ نه نیوه، هغوی د زړه له پاکۍ څخه برخمن و، ایمانونه یې درست او یقین یې ثابت و، هغوی له الله ﷻ سره رښتیني و او زړونه یې د نصیحت منلو ته پوره اماده وو.دا هغه لاملونه و، چې د دښمنانو شوم پلانونه او دسیسې یې ناکامې کړې وې.

مګر په وروستیو پیړیو کې، چې د مسلمانانو ایمانونه کمزوري شوي، دنیا او مادیاتو یې لېوالتیا ډېره شوې، د څواک او درناوي اصلي وسایل څنګ ته کړي.ارزښتونو یې بدلون کړی.نور دین یوازې د درناوي او څواک سرچینه نه وه؛ بلکې د درناوي او څواک د موندلو لپاره د نورو سرچینو په لټه کې شول، همدلته وو، چې فکري جنګ وتوانېدو، چې د مسلمانانو تر منځ ځانته ځای پیدا کړي، موخې یې وپیژني او غوښتنو ته یې رسیدګي وکړي.لنډه دا چې فکري جنګ د اسلامي دعوت له پیل سره سم رامنځته شوی؛ مګر له وروستیو پیړیو پرته د اسلام په تاریخ کې هیڅکله ونه توانېدو، چې خپلو موخو ته ورسېږي او د پام وړ لاسته راوړنه ولري؛ خو په دې وروستیو کې یې د بریا لاملونه لکه څنګه مې چې پورته یاد کړل، د مسلمانانو د ایمانونو کمزوري، د مفاهیمو ګډوډېدل، د اسلام د پراختیا د سرچینو زیاتوالی، ناپوهي او د اسلام په اړه د پوره معلوماتو نه شتون او هم د

دوست او دښمن نه پېژندل ددې لامل شول، چې فکري جنګ د خپلو موخو پر لور چټک ګامونه واخلي.

- **د فکري جنګ خطر او د مسلمانو بلونکیو لپاره د هغې د پېژندنې ارزښت:**

فکري جنګ څو ځله له نظامي جنګونو څخه خطرناک دی؛ ځکه، چې نظامي جنګ ټولو ته ښکاره وي، عالم، ناپوه، وړوکی او لوی د ټولو لپاره څرګند وي، ټول خلک د وسله وال برید لپاره سره یو موټی کېږي او له خپل ټاټوبي او ازادۍ څخه د ساتنې په موخه لاس پر جهاد او مبارزه پورې کوي.دا هغه څه دي، چې ممکن او د مشاهدې وړ دي.
مګر فکري جنګ په بشپړ ډول یو پټ جنګ دی، چې له ګوتشمېر کسانو پرته نور څوک یې په اړه نه پوهېږي او تر هغې یې، چې خپل منفي اغېز نه وي څرګند شوی او د فکري او فرهنګي جنایت مرتکب شوی نه وي، هیڅوک یې په اړه نه پوهېږي.
بلې! فکري جنګ په کراتو کراتو له وسله وال جنګ څخه خطرناک دی؛ ځکه،چې فکري جنګ، هیوادونه مبارزې ته نه رابلي؛ بلکې عقل او فکر له ګواښ سره مخامخ کوي.
فکري جنګ له پوځ او وسله والو ځواکونو سره نه مخ کېږي؛ بلکې له ملتونو او ټولنو سره جنګېږي.فکري جنګ غرونه او درې نه اشغالوي؛ بلکې فکرونه او فرهنګونه تر خپل یرغل لاندې نیسي. فکري جنګ نظامي اډې او تاسیسات تر برید لاندې نه راولي؛ بلکې پر شخیصتونو او هویتونو برید کوي.فکري جنګ تجهیزات او وسلې له منځه نه وړي؛ بلکې اخلاق او عقاید مسخه کوي. دا یې ځای دی، چې باید پوه شو، فکري جنګ یوه

ډېره پېچلې او ژوره موضوع ده، چې په وړاندې يې دفاع او مقاومت پراخه جهاد، نه ستړې کېدونکيو هڅو، فوق العاده صبر، زغم، ارام او تدريجي حرکت، دقيقو برنامو جوړولو او پياوړې رهبرى ته اړتيا لري؛ نو مسلمانو بلونکيو ته، چې د مسلمانانو روحاني طبيبان او وروستى پټنځاى دى د فکري جنګ په اړه پوهېدل يو لازمي او برخليک جوړوونکى امر دى.هر مسلمان بلونکي ته په کار ده، چې فکري جنګ ته يې پوره پام وي او د هغه له تګلارو، وسايلو، موخو او هڅو توطيو او برنامو څخه، چې د اسلام دښمنان يې د مسلمانانو لپاره طرحه کوي پوره خبر واوسي، چې دا ډول مسلمان بلونکى به وکړاى شي په سمه توګه خپل مسوولیت ادا او خپل رسالت په بريالیتوب سره اعلان کړي، مسلمانان ويښ کړي او ددې جنګ له شره او د دښمنانو له لوري د مسلمانانو لپاره له اېښودل شويو دامونو څخه يې خبر کړي.

(د سورت يوسف ۱۰۸ ايات )

قُلۡ هَٰذِهِۦ سَبِيلِيٓ أَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِيۖ وَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿١٠٨﴾

ژباړه: او تر تا مخکې چې له کليوالو څوک لېږلي او وحې مو ورته کړې له سړيو پرته بل څوک ( فرشتې) نه و، ايا د ځمکې پرمخ نه دي ګرځيدلي او نه يې دي ليدلي، چې تر دوى د مخکنيو پايله څنګه وه؟

## پوښتنې:

۱:- فکري جنګ تعریف کړئ او ووایاست،چې ولې صلیبیانو دا جنګ پیل کړ؟

۲:- د فرانسې د پاچا نهم لویس چې پاریس ته وګرځېدو مسیحیانو ته یې څه وویل؟

۳:- ولې فکري جنګ د اصحابو کرامو په وخت کې موثر نه و او ولې په دې وروستیو پېړیو کې د پام وړ لاسته راوړنې لري؟

۴:- فکري جنګ خطرناک وي که وسله وال جنګ؟ په تفصیل سره یې ولیکئ.

۵:- د مسلمان بلونکي لپاره د فکري جنګ په اړه پوهېدل څومره اړین دي. روښانه یې کړئ.

٦:- ( ولایزالون یقاتلونکم حتی یردوکم عن دینکم ان استطاعوا) د مسلمانانو لپاره څه پیغام لري روښانه یې کړئ.

# دویم درس

## د فکري جنګ پړاوونه

فکري جنګ تر اوسه څلور مهم پړاونه تېر کړي دي، دا څلور پړاوونه په حقیقت کې پیلییز/مقدماتي وو، چې وروستیو موخو ته د رسېدو لاره یې پاکه کړې او همدارنګه هر پړاو پیلییز و، چې د وروستي پړاو لپاره یې لاره هواره کړې، البته ځینې وخت دوه پړاونه د شرایطو او وخت د غوښتنې په اساس یو په بل کې ننوتي او هممهاله د نقشو او برنامو د جوړونکیو له لوري په یوه پړاو کې ترسره شوي.

## د فکري جنګ څلورګوني پړاوونه:

صلیبي جنګونه

ښکېلاک

ختیځ پېژندنه/ اشتشراق

تنصیر /تبشیر

## صلیبي جنګونه:

هغو جنګونو ته ویل کېږي،چې مسیحي راهبانو او صلیبي کشیشانو اروپایي ملتونه تر دې عنوان لاندې ( صلیب او د هغه د بېرغ لاندې) د اسلام او مسلمانانو په وړاندې سره راټول کړل.4

دا چې دا جنګونه په صلیبي جنګونو ونومول شول لامل یې دا و، چې لویدیځوالو جنګیالیو به د صلیب نښانونه په خپلو سینو را ځړولي وو،چې

---

4 ( اسالیب الغزو الفکری للعالم الاسلامی) د،علی جریشه ۱۶ مخ

ټولو ته اعلان کړي، دا جنګونه په څرګند او مانیز ډول دیني او مذهبي جنګونه دي.

## د صلیبي جنګونو تاریخ:

لومړی کس، چې اروپا یې صلیبي جنګونو ته راوبلله دویم پاپ سلفستر و . هغه په ۱۰۰۲ز کال اروپایي ملتونه له اسلام او مسلمانانو سره جنګ ته راوبلل؛ مګر اروپایي ملتونو د پاپ سلفستر دې بلنې ته هرکلی ونه وایه، تر هغه وروسته پاپ خورفوریوس په ۱۰۷۵ز کال د دویم سلفستر بلنه را ژوندۍ کړه.هغه هم خلک له مسلمانانو سره جنګ ته وهڅول؛ مګر دده بلنه هم د څینې لاملونو پر بنسټ ۲۰ کاله شاته وغورځول شوه، تر دې، چې په یولسمه پېړۍ کې پر کال ۱۰۹۷ ز پر اسلامي هیوادونو ټولې اروپا په ګډه یرغل پیل کړ.صلیبي جنګیالیو د مسلمانانو د ښارونو په نیولو لاس پورې کړ، پرته له استثنا یې مسلمانان ووژل،مالونه یې لوټ کړل او مسلمانان یې له خپلو کورونو څخه وشړل.5

## صلیبي جنګونه څه ډول پای ته ورسېدل؟

صلیبي جنګونو نږدې دوه پېړۍ (۴۸۹ــــــ ۶۹۰ هـــ) له ټولو فشارونو او سختیو سره دوام وکړ، صلیبیانو ددې جنګونو په دوران کې مسلمانان په ډله ییز ډول ووژل، ډول ډول تاوتریخوالی او جنایات یې تر سره کړل خو بیا یې هم ونه شو کولای، چې په اسلامي هیوادونو کې د اسلام ریښه وباسي.

5 (واقعناالمعاصر) استاد محمد قطب ۱۸۶ مخ

بلې! مسلمانان له خپلې عقیدې او مقدساتو څخه د ملاتړ په موخه سره یو موټی شول او په دې لاره کې یې هر ډول کړاو په ځان ومانه، تر ټولو باارزښته سرمایې یې وړاندې کړې، ښکلي ځوانان یې د اسلام په لاره کې قرباني کړل. کله به، چې د مجاهدینو یو قهرمان په شهادت ورسېدو، بل قهرمان به په ټولې مېړانې سره د اسلام بېرغ پورته کړو او د اسلامي ځواکونو رهبري به یې کوله، تر دې، چې الله ﷻ برى د مسلمانانو په برخه او کفري لښکرې یې له سترې ماتې سره مخامخ کړې.

د اسلامي تاریخ د مجاهدینو د ځواکمنو رهبرانو څخه د شهید سلطان صلاح الدین ایوبي او شهید نورالدین محمود زنګي (رح) نومونه د یادولو دي.

بلې! همدوی وو، چې خپل جنګیالي یې تر هغې په سمه توګه رهبري کړل، چې برى یې وګاټه، هغوی په پوره صبر او زغم سره د الله ﷻ په لاره کې تر هغې خپلې مبارزې ته دوام ورکړ، چې د کفر او شیطان لښکرو ته د اسلام اوالله ﷻ جنګیالو شرموونکې ماتې ورکړه.

بلې! صلیبي لښکرې له سترې ماتې وروسته خپلو هېوادونو ته ځوړند سرونه وګرځېدل، مګر دې ماتې له نورو ماتو سره ښکاره توپیر درلود او هغه دا، چې صلیبیان د مسلمانانو د بریا په راز پوهېدلي او دا یې د یوه مهم جنګي درس په توګه له ځانه سره ساتلې وه، هغوی پوهېدلي وه، که اسلامي امت په ځرګند ډول هر څومره کمزوری وي؛ مګر تر کومه وخته، چې په ایمان، اعتقاد او پوره یووالي سره د شریعت او اسلامي قوانینو او د رسول الله ﷺ له سنتو تابعداري کوي او له هغو ابزارو او وسایلو چې شریعتیې په

اړه حکم کړی ګڼنه(استفاده) کوي الله ﷻ به په هر ډګر کې بری د دوی په برخه ګرځوي.[6]

(احزاب ۲۵/۲٦ ایاتونه)

وَرَدَّ اللَّهُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوا خَيْرًا ۚ وَكَفَى اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ الْقِتَالَ ۚ وَكَانَ اللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزًا 25

وَأَنزَلَ الَّذِينَ ظَاهَرُوهُم مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِن صَيَاصِيهِمْ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ فَرِيقًا تَقْتُلُونَ وَتَأْسِرُونَ فَرِيقًا 26

ژباړه: ترڅو الله رښتينو ته د خپلې ريښتينولۍ بدله ورکړي او منافقين يا له خپل مشيت سره سم تعذيب کړي يا يې توبه قبوله کړي، يقيناً چې الله مهربان بخښونکی دی.

او الله هغه وګړي له خپلو غصو ( ډکو زړونو ) سره په شا وتمبول چې کفر يې کړی وو په داسې حال کې چې په هيڅ خير او ښېګڼې ته وو نائل شوي، او الله د دې جنګ په اړه مومنانو ته کافي شو او الله عزتمن ځواکمن دی.

- **په صليبي جنګونوکې د صليبيانو ځينې جنايتونه:**

د ۴۹۳هـ ق د رمضان په درېيمه يې د بيت المقدس ښار ونيو او د مسلمانانو په ټولوژنه يې لاس پورې کړ، چې په ترڅ کې يې ۷۰ زره بې دفاع او بې ګناه مسلمانان ووژل، د جومات انګړ د مسلمانانو له مړو ډک و،جسدونه يو پر بل پراته وو، د صليبيانو اسونه تر سينو پورې د مسلمانانو په وينو کې ډوب وو، هغوی يوازې انطاکيې ته په لاره له سل زرو بې دفاع مسلمانانو

[6] وسايل مقاومة الغزو الفكري للعالم الاسلامي ۲۰ مخ د حسان محمد حسان

څخه زيات وژلي وو.د صليبيانو مشهور کشيش ددې وژنو په اړه ليکلي:
زمونږ خلک د ښار په کوڅو او عمومي واټونو کې ګرځېدل او چې څوک به په مخه ورتلل وژل به يې.هغوی د مسلمانانو په وژنه په خپلو زړونو کې دننه غم او کينه تسکينوله، په هيڅا يې رحم نه کاوه، ماشومان، خوانان، بوډاګان او ښځې ټول يې له يوې مخې وژل او ټوټه کول.کله به يې د وخت د کموالي له امله څوکسان په يوه رسۍ اعدامول.7

## د صليبي جنګونو موخې:

په دې کې شک نشته،چې کشيشانو او صليبي راهبانو ددې جنګونو د پردې تر شا ډېرې موخې په نظر کې لرلې، زه دلته هغه کوم، چې په لنډ ډول يې ځينو موخو ته اشاره و کړم.

- په اسلامي هېوادونو کې د مسيحي قانون خپرول او د اسلام ځای ناستی کول.
- له هغو مسلمانانو غچ اخيستل، چې په خپلو هېوادونو کې ورسره جنګېدلي.د مديترانې سمندرګی يې په اسلامي سمندرګي بدل کړی. په اروپايې هېوادونو يې يرغل وکړ او د فرانسې تر جنوبه يې سيمې فتحه کړې.
- له هغو مسلمانانو غچ اخيستنه،چې ختيزې سيمې يې د ختيځ روم او کليسا له ولکې ازادې کړې.

د اندلس (اسپانيا) بېرته نيونه،چې مسلمانانو هغه په ۹۲ هجري کال فتحه کړې او هلته يې د يوه اسلامي حکومت بنسټ ايښی و.
پر اسلامي هېوادونو ولکه او د هغوی مادي سرچينې لوټل.

---

7 (اساليب الغزو الفكري للعالم الاسلامي) د . علي جريشه الزيبق ۱٦ مخ

د یهودیانو پټو موخو ته رسېدل، چې غوښتل یې مسیحیت او اسلام په خپلو کې سره اخته او کمزور کړي او پر نړۍ د دوی واکمنی ته لاره اواره شي.[8]

8 ( واقعنا المعاصر) استاد محمد قطب۱۸۶ مخ /الاتجاهات الفکریه المعاصره) د.علی جریشه ۳۹_۳۷ مخونه

## پوښتنې:

۱:- صلیبي جنګونه تعریف کړئ او ووایاست،چې ولې په صلیبي جنګونو مشهور شول؟

۲:- د اسلام د هغو دوو تنو نومیالیو نومونه واخلئ، چې په صلیبي جنګونو کې یې مسلمان خواکونه رهبري کول.

۳:- د هغه لومړي کس نوم واخلئ، چې اروپایان یې د اسلام او مسلمانانو په وړاندې جنګ ته راوبلل.

۴:- صلیبي پوځونو په کوم کال پر اسلامي هیوادونو یرغل وکړ؟

۵:- صلیبیانو د انطاکیې په لار څومره مسلمانان شیهدان کړي وو؟

٦:- صلیبیانو په دې جنګونو کې کومې موخې خارلې؟

۷:- صلیبي جنګونو څنګه د یهودیانو موخې ترسره کولې؟ روښانه یې کړئ.

۸:- په صلیبي جنګونو کې د مسلمانانو د بریا راز په څه کې و؟

# درېیم درس

## ښکېلاک

صلیبي جنګونه د صلیبیانو په شرمېدلې ماتې پای ته ورسېدل او اسلامي خواکونه دالله ﷻ په مرسته،د مسلمانانو د یووالي او د جهاد او مقاومت په برکت د تل په څېر الله ﷻ له دې ازمونه بریالي راوویستل.مګر اروپا هیڅکله ارامه کښېناستله؛بلکې د بلې ډله ییزې حملې لپاره په تیاري بوخته شوه؛ مګر دا ځل له نویو برنامو او نویو تاکتیکونو سره،سره له دې، چې موخه یې هماغه د صلیبي جنګونو موخه وه؛ خو په څرګند ډول یې اقتصادي موخې وې یانې د ملتونو یرغمل کول او د هغوی د شتمنیو له لوټلو پرته بله موخه نه وه.

بلې! لویدیځوالو دا ځل په ځانګړې څیرکۍ او پام سره مخ پر وړاندې قدم واخیست،هغوی په دې ښه پوهېدل، چې یواځې عثماني خلافت د مسلمانانو د یووالي چورلیز(محور) دی، ټول مسلمانان د عثماني خلافت تر بېرغ لاندې راټولېږي او خپل ژوند ته ادامه ورکوي؛ نو په ټوله مانا یې خپلې هڅې دې اصل ته راټولې کړې، چې د خپل لاسپوڅي په مټ عثماني خلافت له پښو وغورځوي؛نو خپل لاسپوڅی مصطفی کمال اتاترک یې تجهیز کړ، چې دا شیطاني ماموریت پای ته ورسوي، هغه هم لاس په کار شو او د خپلو لویدیځوالو بادارانو لارښوونې یې په ډېرې څیرکتیا سره پلې کړې، تر دې چې اسلامي خلافت یې ونړاوه، چې ورسره د اسلامي امت د یووالي چورلیز مات، مسلمانه ټولنه او مسلمانان سره تیت و پرک شول. اسلامي ټولنه په بېلابېلو حزبونو ډلو ټپلو وویشل شوه او عثماني خلافت

هم په کمزورو اماراتو او هیوادونو بدل شو، چې له خپله ځانه یې د دفاع او ساتنې وړتیا له لاسه ورکړې وه. مسلمانانو د جهاد وسله یوې غاړې ته کړه او نفسي غوښتنې پرې غالبه شوې، فتنې څرګندې شوې او ناپوهي او بې سوادي عامه شوه، چې په دې ډول لویدیځوالو ته زمینه په لاس ورغله، چې اسلامي هیوادونه یرغمل او د هغوی طبعي او ملي شتمني لوټ کړي. اروپایانو، چې له کلونو راهیسې د اسلامي هېوادونو د ښکیلولو ارمان په زړه کې پاللی و په نولسمه او شلمه پېړۍ کې یې ددې ارمان د ترسراوي لپاره زمینه په ټوله مانا برابره ولیده او له خپلو ټولو جنګي تجهیزاتو په مټ یې په اسلامي هیوادونو یرغل وکړ البته په دې یرغل کې د نورو هېوادونو په پرتله د انګستان او فرانسې ونډه تر ټولو لویه وه. د یادونې وړ ده، چې په دې پراخه یرغل کې پرته له دوو اسلامي هیوادونو افغانستان او عربستان څخه نورو هیڅ هیواد خوندي پاتې نه شو9

په دې ترتیب اسلامي هیوادونه د اروپا په مستعمرو او د ښکیلاکګرو ځواکونو تر منځ د اخ و ډب په میدانونو بدل شول.10

د لوستونکیو د ډېرو معلوماتو لپاره به لاندې د هغه اسلامي هېوادونو څو بېلګې وړاندې کړم، چې د صلیبیانو په مستعمرو بدل شوي:

- د فرانسې مستعمرې:

الجزایر ۱۸۳۰ز/۱۲۴۶هـ ق

---

9الاتجاهات الفکریه المعاصره د. علی جریشه ۳۹ او ۴۱ مخونه( وسایل مقاومه الغزو الفکری) حسان محمد حسان ۴۰ مخ (الفکر الاسلامی الحدیث باالاستعمار ) د .محمد البهی ۲۹ او ۳۵ مخونه ( قلاغ المسلمین مهدده من داخلها و خارجها) د محمد عبدالقادر هنادی ۱۶ مخ ( المخططات الاستعماریه لمکافحه الاسلام) محمد محمود الصواف ۱۲۵ مخ.

10 ( وسایل مقاومه الغزو الفکری) حسان محمد حسان ۴۰ مخ

تونس ۱۸۸۱ز/۱۲۹۹ هـ ق
سنګال ۱۸۸۲ز/۱۳۰۰ هـ ق
مراکش (لویدیځ) ۱۹۱۲ز/۱۳۳۰ هـ ق
شام (سوریه) ۱۹۲۱ز/۱۳۳۸ هـ ق
د انګلستان مستعمرې:
هندوستان ۱۸۵۷ز/۱۲۷۴ هـ ق
مصر ۱۸۸۲ز/۱۳۰۰ هـ ق
عراق ۱۹۱۴ز/۱۳۳۲ هـ ق
اردن او فلسطین۱۹۱۸ز/۱۳۱٦ ه ق
سوډان ۱۸۹۸ز/ ۱۳۱٦ هـ ق
نیجریه ۱۸۱۵ز/۱۲٦۸ هـ ق
زنګبار ۱۸۷۰ز/ ۱۲۸۸هـ ق
- د ایتالیا مستعمرې:

سومالیه او اریتره ۱۸۸۷ز/۱۳۰۵ هـ ق
لیبی ۱۹۱۱ز/۱۳۲۹ ه ق [11]

ښکیلاکګرو د اسلامي هیوادونو په اشغال او د هغوی د شتمنیو په لوټلو بسنه ونه کړه؛ بلکې د مسلمانو ملتونو په کمزوري کولو،د هغوی په منځ کې دښمنۍ تخم شیندل او د مسلمانانو د افکارو او عقایدو مسخه کول یې د برنامو برخې وې.هغوی په دې کار سره غوښتل،چې په مسلمانانو کې د جهاد او مقاومت روحیه له منځه یوسي او په اسلامي هیوادونو کې خپل نامشروع شتون تضمین کړي،هغوی دا هم غوښتل،چې د مسلمانو ملتونو

[11] (الاتجاهات الفکریه المعاصره) د.علی جریشه ۴ مخ

شتمني ولوټي او مسلمانان خیر ټولو او سوال ته کېنوي،خو د ښکیلاکګرو تر ټولو ستره هڅه په مسلمانانو کې د جهاد د روحیې کمزورې کول وو،د هغې روحیې کمزوري کول،چې تل یې مسلمان له کافر سره جنګ ته هڅولی،د هغې روحیې له منځه وړل،چې د مومن په زړه کې یې له کفر،شرک او صلیبیانو سره تلپاتې دښمني پاللې، د هغې روحیې مسخه کول،چې مسلمانان یې د خپلو عقایدو او مقدساتو څخه دې ته اړ کول،چې په یوه صف کې سره ودرېږي او د ښکیلاکګرو صلیبیانو په وړاندې جهاد وکړي.

په مسلمانانو کې د جهاد د روحیې د له منځه وړلو لپاره د ښکیلاکګرو ځینې ابزار او وسایل:

لکه څنګه،چې مخکې یاده شوه ښکیلاکګرې اروپا په مسلمانانو کې د جهاد د روحیې د خپلو لپاره له هیڅ لارې چارې دریغ ونه کړ، هغوی خپل ټول تکتیکونه په کار واچول،چې په مسلمانانو کې د جهاد جذبه او روحیه د تل لپاره ووژني،هغوی ددې لپاره له داسې مېتودونو ګټنه وکړه،چې خپلې موخې ته رسېدل یې ورته تضمین کړي وو،تر ټولو مهمه وسیله او مېتود،چې ښکیلاکګرو ترې د خپلې دې شومې موخې لپاره کار واخیست هغه اسلامي فکر او اندیشه وه،هغوی اسلامي فکر او اندیشه مسخر کړه او د خپلې موخې ته د رسېدو لپاره یې ترې ګټنه وکړه،یانې په روښانه تعبیر سره،هغوی اسلام د اسلام په نوم د اسلام د بچیانو په لاس له منځه وړلو،هغوی دې موخې ته د رسېدو لپاره له دوو خانګړو مېتودونو څخه کار اخیسته:

د متفکر او روڼاندو په نوم د يو شمېر مسلمانانو تشکيل رامنځته کول، حرکتونه او ټولنې، چې په ښکاره يې د پرمختګ او سمون پلوي وو هڅه يې کوله، چې د ښکيلاکګرو شرعي شتون ثابت کړي. هغوی داسې وسايل لرل، چې له ښکيلاکګرو څخه اطاعت کول واجب او په وړاندې يې جهاد او مقاومت حرام وو؛ ځکه هغوی فعلا د مسلمانانو ولی الامر وو او د ولی الامر له امر څخه سرغړاوی شرعا ناروا دی.

د مسلمانانو مذهبي اختلافاتو ته لمن وهلاو د هغوی په منځ کې بې اتفاقي اچول، چې د اسلامي اخوت د يووالي فکر په مسلمانانو کې کمزوری او په منځ کې درزونه او بېلوالی پيدا کړي.په دې برخه کې يې تر ټولو خطرناکه کړنه د خينو داسې اشخاصو رامخ ته کول وو، چې په ښکاره د دينداره، مذهبي او د دين پلويان وو، دې بې وجدانو، چې په فکري لحاظ کمزوري شوي وو د ټولو عقيدوي او اسلامي اصولو په ماتولو سره ديني احکام او لارښوونې د وخت له غوښتنو او بدلونونو سره تفسيرولې.لنډه دا چې ښکيلاکګر په دې وتوانېدل، چې په اسلامي ټولنه کې په خانګړي ډول د فرهنګي قشر په منځ کې يو لوی فکري جنګ رامنځته کړي، چې په يوه لوري کې يې روڼاندي او په بل لوري کې يې هغه خلک راټول شوي وو، چې د دې پديدې په وړاندې يې مبارزه کوله.12

---

12 ( الفکر الاسلامی الحديث بالاستعمار ).د.محمد البهسی ۳۵ او ۳۶ مخونه (المخططات الاستعماريه لمکافحه الاسلام) محمد محمود الصواف ۹۹ او ۱۴۳ مخونه.

## پوښتنې:

۱:- اروپا د عثماني خلافيت د بربادۍ لپاره څوک اجير کړ؟

۲:- لاندې هېوادونه په کوم کال د کوم اروپايي هېواد له لوري مستعمره شول:

نايجيريا، زنګبا، الجزاير، ليبي، فلسطين او مصر.

۳:- ښکيلاکګرو د جهاد او مقاومت روحيې د ځپلو لپاره له اسلامي انديشې څخه څنګه ګټنه وکړه؟

۴:- هغه دوه مېتودونه، چې ښکيلاکګرو ترې د خپلې موخې ته د رسېدو لپاره کار اخيست څه وو؟

۵:- ځينې په دې عقيده دي،چې ښکيلاک پای ته رسېدلی او اسلامي هېوادونه ازاد دي او خپله خپلواکي لري په دې اړه ستاسې نظر څه دی؟

# څلورم درس

# ختیځ پېژندنه ( استشراق)

## • د ختیځ پېژندنې تعریف:

ختیځ پیژندنه چې له نومه يې څرګندېږي هغو کړنو ته وايي،چې اصلي چورلېز(محور) يې ختیځ او یا هم هر هغه ځای ته، چې د اروپا له قلمرو بهر وي؛ مګر له علمي او اصطلاحي لحاظه، ختیځ پیژندنه پر علمي او اکاډیمیکه څېړنه اطلاق کېږي، چې په کې لویدیځوال د ختیځ بېلابېل اړخونه لکه، عقیده، شریعت، فرهنګ، تمدن، تاریخ، ژبه،ادب او رواجونه ارزوي او په اړه يې څېړنه کوي.

**ختیځ پېژندونکي:** هغه ډله لویدیز پوهانو ته وايي، چې خپلې کینې او مذهبي تعصب دې ته اړ کړي وي، چې د ختیځ په علم، معارف او هم د ختیځوالو په فرهنګ، تمدن، اداب او رواجونو پر زده کړه  بوخت دي، هغوی له دې انګېزې سره چې له مخې به يې اسلام او اسلامي احکام او د مسلمانانو اثار او ګروهي ښکلاوې تحریفوي.

ختیځ پیژندونکي د بېلابېلو مذاهبو او افکارو لرونکیو اشخاصو څخه تشکیل شوي وي.سره له دې، چې د دوی ټولو موخه یوه او هغه هم د اسلام بربادي او د مسلمانانو د باورونو کمزوري کول دي، مګر ځینې له هغوی څخه مسیحیان دي او د مسیحي مبشرینو موخې تعقیبوي، ځینې يې یهودیان دي او د یهودیانو موخو ته کار کوي، څه يې بې دینه دي او په نړۍ کې د الحاد او کمونیستي مفکورو د خپرولو لپاره کار کوي.

## د ختيځ پېژندنې تاريخ:

د ختيځ پېژندنې د تاريخ په اړه کره معلومات نه شي وړاندې کېدی؛ خو ډېری څېړونکي په دې اند دي، چې د ختيځ پيژندنې لومړی هستي هغه مهال بنه ونيوله، چې لويديځ په اسپانيا کې د اسلام ستر تمدن ته سترګې واړولې او دې ته يې پام شو، چې په ټوله اسپانيا، جزايرو او په مديترانې سمندر کې د اسلامي تمدن د پراخېدو اصلي سرچېنې د قرطبه، طليطله او صقليه پوهنتونونه دي. مګر وروسته له دې،چې لويديځوالو په صليبي جنګونو کې ماتې وخوړه د ختيځ پيژندنې د موضوع په اهميت پوه شول او په دې اړه يې هڅو ته دومره پراختيا ورکړه، چې د صليبي جنګونو ځای يې ونيوه، مګر د ختيځ پيژندنې اصطلاح د اوولسمې زيږديزې پېړۍ په وروستيو کې په انګلستان او فرانسه کې د اروپا د علمې ټولنې له خوا مطرح شوه او په ۱۸۳۸ز کال کې د فرانسې د اکاډمۍ په رسمي قاموس کې ثبت شوه.13

خينې څېړونکي په دې عقېده دي، چې د ختيځ پيژندنې تاريخ ۱۳۱۲ز ته رسېږي،کله، چې د فينيا د کليساو ټولنې امر وکړ، چې د اروپا په خينو پوهنتونونو کې ځانګړې علمي څانګې پرانېزئ او د ختيځ د ادب، علومو، د اديانو د تاريخ په اړه په څېړنو بوخت شئ.وروسته دې کړنو پراختيا وموندله تر دې، چې په نولسمه او شلمه زيږديزه پېړۍ کې يې د ختيځ د علومو ټول اړخونه په بر کې ونيول.

13 ( الاتجاهات الفكريه المعاصره).د.على جريشه ۱۷مخ ( اساليب الفزو الفكرى للعالم الاسلامى ) د.على جريشه الزيبق ۱۹ مخ

## د ختیځ پېژندنې پړاوونه:

ختیځ پېژندنې خپلې موخې ته د رسېدو لپاره تر اوسه درې پړاوونه تېر کړي دي،چې دلته یې د هر پړاو په اړه په لنډ ډول یادونه کوو:

**د پېژندنې پړاو:** په دې پړاو کې ټولو ختیځ پېژندونکیو خپل ټول مطالعات او څېړنې په دې ټکي راخرخولې،چې د مسلمانانو د بري راز پیدا کړي، د دوی مادي او مانیز ځواک له کومو سرچینو څخه تامېنېږي؟ د اسلام سوبمنو اتلانو د تاریخ په اوږدو کې څه ډول روحیه درلوده؟

**د ګډوډېدلو پړاو:** په دې پړاو کې د اول پړاو موضوع( د مسلمانانو د بریا د راز موندنې په اړه څېړنه) پر اسلامي هېوادونو د لویدیځ د نېغ په نېغه تېریو او یرغل سره ګډه شوه،یانې دا هماغه پړاو دی، چې ختیځ پېژندونکیو له صلیبي جنګونو سره اوږه په اوږه حرکت کاوه.

د ښکاره تیري او یرغل پړاو: په حقیقت کې دا پړاو د ختیځ پېژندونکیو هغه وروستی پړاو دی،یانې د مسلمانانو په فکري حریم د ختیځ پېژندونکیو نیغ تېری دی،هغوی په دې پړاو کې خپل ټول ځواک دمسلمانانو تفکر او عقیدې ته متوجه کړ،چې د هېوادونو او ټاټوبو پر ځای یې فکرونه او عقلونه اشغال کړي.

## د ختیځ پېژندونکیو موخې:

ختیځ پېژندونکي ډېرې او اوږدمهاله موخې لري،چې تر دې دمه یې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره ډېرې هڅې کړي؛مګر دلته یې د دوو مهمو اهدافو په اړه په لنډ ډول خبرې کوو:

- د اسلامي عقيدې له منځه وړل، چې هغوی د خپل تحريف شوي دين او لويديځ لپاره د يوه جدي خطر په توګه پېژني.
- له اسلام منلو ځخه د لويديځو ملتونو مخنيوی او د هغوی او اسلام تر منځ د خنډونو پيدا کول.مګر پام مو وي، چې ختيځ پيژندونکي له دې دوو لويو هدفونو ځخه پرته نورې موخې او سازمان شوې انګېزې هم تعقيبوي، چې دلته به ترې لنډه يادونه وکړو.

## علمي انګېزه:

يو شمېر ختيځ پيژندونکي پرته د اروپايې دولتونو د موخو او سياستونو په پام کې نيولو سره يواځې له دې انګېزې سره،چې د اسلام د تمدن او فرهنګ په اړه ځېړنې کوي، دې لور ته راغلي او ډېری يې له زړه نه د اسلام په حقانيت منلی او مسلمانان شوي دي.

## مذهبي انګېزه( صليبي)

خينو ختيځ پيژندونکيو د مذهبي تعصب او له مسلمانانو د غچ اخيستنې له احساس او هم له دې انګېزې سره مل چې خپل تحريف شوی دين مسيحيت د اسلام پر ځای حاکم کړي په دې برخه کې ونډه اخيستې ده.دا ډله ختيځ پيژندونکي خپلو موخو ته د رسېدو لپاره له لاندې کړنلارو ځخه ګټنه کوي:

- د حضرت محمد ﷺ د رسالت د حقانيت په اړه شک او ترديد پيدا کول او هم د احاديثو د سمون او رښتينولی په اړه خلکو ته شک اچول،چې ګواکې دا خو د مسلمانانو له لوري په وروستيو پيړيو کې راټول شوي.
- د قرآن کريم په اړه خلکو ته شک اچول،چې ګواکې قرآن کريم دالله ﷻ کلام نه دی دا د حضرت محمد ﷺ له لوري ليکل شوی کتاب دی.

- د اسلامي فقهې د کم ارزښته ښودلو په اړ خلکو ته دا درواغ وایل،چې فقه؛خو د لرغوني روم د قوانینو په استناد لیکل شوې ده.
- پر عربي ژبې او ادب برید او دا تور پور کول،چې عربي ژبه او ادبیات،وروسته پاتې او د جمود او رکود په حالت کې دي.
- د یهودیت او مسیحیت سرچینو ته د اسلام نسبت ورکول.
- د مسیحیت لپاره بلنه او د مسلمانانو تر منځ د تثلیث عقیدې خپراوی.

د خپلو ادعاوو د ربښتینولي لپاره له ضعیفو او موضوعي احادیثو ګټنه.

## دفاعي انګېزه:

ځینې ختیځ پیژندونکي له مسیحیت څخه د ملاتړ او دفاع لپاره د ختیځ په اړه په مطالعه او څېړنه بوخت دي،هغوی دا انګېزه لري، چې د اسلام د روښنایې د څپو او په نړۍ کې د اسلام د پراخېدو مخه ونیسي؛ نو د ختیځ د علم او پوهې په اړه په بحثونو او ارزیابیو بوخت دي.

## سوداګریزه انګېزه:

یو شمېر ختیځ پیژندونکي په لویو اروپایي موسسو او شرکتونو کې په خدمت بوخت دي،چې د ختیځ د اقتصادي سرچینو لکه واردات، صادرات او خامو موادو په اړه څېړنه وکړي او په اړه یې ګزارش هغوی ته ورکړي،چې په بدل کې یې پرېمانه پیسې د انعام په توګه تر لاسه کړي.

## سیاسي انګېزه:

د ختیځ پیژندونکیو یوه مهمه انګېزه د اروپا د حاکمیت او د مسلمانو هېوادونو اشغال او د اسلامي هیوادونو سیاسي او فکري رهبري کول

دي.هڅوی دې موخې ته د رسېدو لپاره له ډېرو مېتودونو کار اخیستی، چې په لنډ يې له ځینو څخه یادونه کوو:

- په مسلمانانو کې د ورورولۍ د روحیې کمزوري کول.
- د مسلمانو ملتونو او هېوادونو په منځ کې ډلې او ټپلې رامنځته کول.
- د عربي د فصیحې ژبې د کمزورتیا لپاره چې په اسلامي نړۍ کې د افهام او تفهیم ژبه ده د محلي ژبو او لهجو را ژوندي کول او همدارنګه د قرآن د ژبې په مقابل کې د ملي غیر عربي ژبو را ژوندل کول.
- د مسلمانانو د ادابو او رسمونو په اړه څېړنه،چې د مسلمانانو کمزوري ټکي پیدااو د اړتیا په وخت ترې ګټنه وکړي.
- له مسلمانانو سره د چټکو اړیکو د تنظیم په موخه د هڅوی ژبه او فرهنګ زده کول.
- د کمزورو مسلمانانو هېوادونو له لوري د ربنتیني دوست په توګه د لویدیځ لمانځنه او ستاینه.
- د مسلمانانو سپکاوی او کمزوري ښودل او دا ویل، چې مسلمانان کمزوري،بې فرهنګه، بې سواده دي او هیڅکله نه شي کولی، چې په سیاسي، اقتصادي او زده کړییزو چارو کې له لویدیځ څخه بې پروا شي.
- د جهاد د اصلي مانا تحریفول، چې وکړای شي په مسلمانانو کې د جهاد روحیه وځپي.
- په مسلمانانو کې د قومپالنې او نژادپالنې روحیه پیاوړې کول.

## د ختيځ پېژندونکيو ابزار او وسايل:

ختيځ پېژندونکي خپل هدف ته د رسېدو لپاره له ګڼ شمېر وسايلو او ابزارو ګټنه(استفاده) کوي، چې دلته يې په دوو برخو ويشو.

- **مستقيم وسايل:** له مستقيمو وسايلو څخه موخه هغه وسايل دي، چې هر وخت په ګوته او د ګټنې (استفادې)وړ وي، دلته هڅه کوم، چې د لوستونکيو لپاره يې په يوه ليکلړ کې په ترتيب سره وړاندې کړم.
- د اسلامي موضوعاتو په اړه د کتابونو او مجلو ليکل.
- د اسلامي دايرةالمعارفونو ليکل او راټولول.
- د مجلو او ورځپاڼو چاپول، چې په کې د اسلام په اړه د نظر څرګندولو لپاره مقالې چاپوي.
- د علمي بحثونو، سيمينارونو او کنفرانسونو جوړول.
- د اسلام د مقدس دين په اړه د شک او ترديد رامنځته کول.
- د عربي ژبې او ادبياتو او هم د اسلامي فقې په اړه شک پيدا کول او پر فقهي علماو نيوکه کول.
- د ختيځ د لرغونو اثارو ژوندي کول او هم له اسلام وړاندې تاريخ لمانځنه.

**نامستقيم وسايل:** د ختيځ پېژندونکيو نامستقيم وسايل په کراتو کراتو له مستقيمو وسايلو څخه خطرناک دي؛ ځکه، چې نښې او اثار يې له څنډ وروسته را څرګندېږي، نامستقيم وسايل کولای شو په دوه اساسي چوررليزونو(محورونو) کې رانغاړو.

- د پوهنتونونو جوړول،په اسلامي هيوادونو کې د پوهنتونونو جوړول،چې نبغ په نبغه د ختيځ پيژندونکيو تر څار او نظر لاندې وي او هم د لويديځو هېوادونو په پوهنتونو کې د ختيځ پيژندنې ځانګړې ځانګې پرانستل.
- د اسلامي امت د ځينو بچيانو ښوونه او روزنه،چې د هغوی په پوهنتونو کې د خپلې خوښې پوهنځيو څخه فارغ شوي وي او وروسته د خپل مسوليت د ترسراوي په پار، چې دده استادان ترې عاجز و خپلو هېوادونو ته ستنبرې او د خپلو استادانو د افکارو په خپراوي کې پوره هڅه او هاند کوي د هغوی له بنستيزو اصولو او ارزښتونو څخه په ښه ډول ساتنه کوي.

## • د ختيځ پيژندنې موضوع:

ختيځ پيژندونکي د اسلام او د مسلمانانو د عقيدې په اړه په ټولو برخو کې په مطالعې او څېړنې بوخت دي، په دې اړه به لنډ بحث وړاندې کړو.

د الله ﷻ ذات او صفات: ختيځ پيژندونکي د الله ﷻ د ذات او صفاتو په اړه خلکو ته د شک اچونې په موخه په دې پروپاګند لګيا دي، چې ګواکې د الله ﷻ صفات متناقض او مبهم دي.

**د حضرت محمد ﷺ رسالت:** هغوی د حضرت محمد ﷺ د رسالت او قرآن د حقانيت او هم د وحې د نزول په اړه په بحث او ارزيابی بوخت دي او په دې برخه کې بې شمېره درواغو، تهمتونو او تورونو نسبت رسول الله ﷺاو اسلام ته ورکوي.

قرآن او سنت: هغوی د اسلامي احکامو د سرچینې ( کتاب الله او سنت رسول الله) په اړه بېلابېل شکونه مطرحوي.

نبوي سیرت او اسلامي تاریخ: ختیځ پیژندونکي په دې انګېزې سره، چې د اسلامي امت اړیکه د حضرت نبی کریم ﷺ له ښکلي سیرت او د اسلام له روښانه تاریخ سره د تل لپاره پای ته ورسوي، په دې برخه کې هم د شکونو په رامنځته کولو بوخت دي.

اسلامي فقه: هغوی اسلامي فقه هم د خپلو نیوکو لاندې نیولې او پر اسلامي فقې د جمود،رکود،سختي کوونکې او وروسته پاتې والي تورونه پورې کوي،هغوی د وحې او اجتهاد په اړه په شک اچونه بوخت دي او ددې دواړو تر منځ هیڅ توپیر ته قایل نه دي.

د قرآن ژبه: هغوی د قرآن ژبه او ادبیات هم په پیچلتوب او وروسته والي تورنوي او د قرآن د ژبې پر ځای د محلي ژبو په لاتیني تورو لیکل او هم د صرفي او نحوي قواعدو د نه التزام موضوع مطرح کوي.

راشدین خلفا: هغوی اسلامي تاریخ،د راشدو خلفاو سیرت او د اسلامي تاریخ وروستي ستر شخصیتونه د خپلو نیوکو او تورونو تر برید لاندې نیولي دي.

اسلامي مذهب: د توپیر او اسلامي مذاهبو موضوع یوه بله هغه ده،چې ختیځ پیژندونکیو ورته ځانګړې پاملرنه کړې او په دې برخه کې په مطالعه او څېړنو بوخت دي.

اسلامي خوځښتونه: د ختیځ پیژندونکیو د بحث او څېړنې وړ بله موضوع اسلامي او سمووونکي خوځښتونه دي،هغوی اسلامي

خوځښتونه،چې داسلام په تاریخ کې یې ټل د مسلمانانو د بېدارۍ لپاره پاڅونونه کړي تر نیوکو لاندې نیولي دي.
(د ال عمران سورت ۱۸٦ ایات )

لَتُبْلَوُنَّ فِيٓ أَمْوَٰلِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوٓا۟ أَذًى كَثِيرًا ۚ وَإِن تَصْبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ ٱلْأُمُورِ ١٨٦

ژباړه: حتماً به په خپل مال او ځان کې وازمویل شئ او هرو مرو به له هغو چې ترتاسو دمخه کتاب ورکړی شوی او له هغو چې مشرکان شوي، ډېرې خورونې واورئ او که صبر او تقوا وکړئ نو دا له همت ناکو کارونو څخه دی.

## پوښتنې:

۱:- ختیځ پیژندنه تعریف کړئ او ووایې،چې ختیځ پیژندونکي څوک دي؟

۲:- لاندې اصطلاحات تشریح کړئ.

د ګډوډۍ پړاو،د ختیځ پیژندونکیو علمي انګېزه،د ختیځ پیژندونکیو مستقیم وسایل.

۳:- د ختیځ پیژندونکیو دیني انګېزه تشریح کړئ.

۴:- دختیځ پیژندونکیو اساسي موخې بیان کړئ.

۵:- د ختیځ پیژندونکیو نامستقیم وسایل تشریح کړئ.

٦:- د ختیځ پیژندونکیو له موضوعاتو څخه څلور موارد بیان کړئ.

# پنځم درس

# تنصير (تبشير)

د تنصير (تبشير ) تعريف: تنصير هغه خوځښت ته وايي، چې صليبيانو مسيحيت ته د ملتونو په ځانګړي ډول مسلمانانو د را اړولو لپاره پيل کړی، چې خلکو ته د دوکې ورکولو لپاره يې تبشير بولي.

**د تبشير تاريخ:** وروسته له دې چې اروپايانو په صليبي جنګونو کې ستره ماتې وخوړه د ختيځ پېژندنې او تبشير خوځښتونه يې په رسمي ډول پيل کړل، چې له دې لارې خپلو شومو او شيطاني موخو ته ورسېږي؛ نو ويلای شو،چې تبشيري خوځښت د اروپايانو له نورو ښکيلاکګرو او استشراقي خوځښتونو سره يو ځای پيل او هيڅکله يې تر منځ واټن نه دی رامنځته شوی، څرنګه، چې په کوم ځای کې هيوادني ښکيلاک صورت نيولی ورسره سمدستي مبشرينو او مبلغينو هم خپل تبشيري خوځښت ته ادامه ورکړې او همدارنګه چېرته، چې تبشيري خوځښت حس شوی ضرور په راتلونکي کې د هغه هيواد ښکيلول په نظر کې نيول شوي دي.14

## د تبشير پړاوونه:

تبشيري خوځښت د خپل دعوت او فعاليت په مسير کې دا درې مهم پړاوونه تېروي:

د مسلمانانو مسيحي کول، دا د مسيونرانو يا د مسيحي مبلغينو د فعاليت لومړی پړاو دی، دوی په دې پړاو کې هڅه کوي، چې يو مسلمان په توله

14 ( الموسوعه الميسره فی الاديان والمذاهب المعاصره ) ۱۵۹ مخ

مانا له خپل دين څخه واړوي (مرتد يې کړي) او په مسيحي قانون کې يې رسما داخل کړي. په دې اړه يو مسيحي مبلغ داسې وايي: موږ ټول ځواک په کار اچوو، چې يو تن له محمدي ﷺ قانون څخه مسيحي قانون ته راواړوو.

**د مسلمانانو شکمنول:** دوی په دې پړاو کې هڅه کوي، چې يو مسلمان له اسلام راوګرځوي يا هم لږ تر لږه د اسلام په اړه ورته شکونه پيدا کړي. سموئيل زومير د تبشيري ټولنو عمومي رئيس په ۱۹۳۵ز کال د قدس په کنفرانس کې مسيحي مبشرينو ته داسې ويلي وو: ((هغه تبشيري ماموريت، چې مسيحي ( اروپايي) هېوادونه تاسې محمدي هيوادونو ته لېږي، يوازې دا نه دی، چې تاسې مسلمانان په مسيحيت کې داخل کړئ، ځکه چې دا د هغوی لپاره يوه لارښوونه او عزت ګڼلی شو ؛بلکې ستاسې اصلي ماموريت دادی، چې مسلمانان له اسلام بېل کړئ، چې له الله ﷻ سره يې اړيکه پرې شي او په يوه بې روحه او بې ايمانه موجود بدل شي)) هغه زياتوي: ((که چېرې تاسې په دې وتوانېږئ، چې يو مسلمان د اسلام په اړه شکمن کړئ که څه هم مسيحيت وهم نه مني، بيا هم تاسې ډېره لويه بريا ترلاسه کړې ده.))

**له اسلام څخه د مسلمانانو لرې کول:** په دې پړاو کېچې دا په حقيقت کې د هغوی د فعاليتونو وروستی پړاو دی، په ټول ځواک هڅه کوي، چې يو مسلمان له اسلام څخه لرې کړياو له هغه يو په ظاهر مسلمان جوړ کړي؛ داسې مسلمان، چې اسلامي احکامو لکه لمونځ، روژې، زکات،حج او نورو ته پابند نه وي.داسې مسلمان، چې د خپلو شرعي دندو په اجرا کې سست او کمزوری وي، داسې مسلمان ترې جوړ کړئ، چې هغه ته اسلامي

او شرعي احکام هيڅ ارزښت ونه لري، داسې مسلمان ترې جوړ کړئ، چې په فرهنګي، اخلاقي او ټولنيزه برخه کې د شرعي مسايلو التزام ته هيڅ قايل نه وي او داسې مسلمان ترې جوړ کړئ، چې له اصلي سرچينو( قرآن او سنتو) سره هيڅ ډول اړيکه ونه لري او په هر څه کې له لويديځ څخه تقليد وکړي.

بلې! دا د تبشير وروستی پړاو دی؛ يانې وروسته له دې، چې هغوی په تېرو دوو پړاوونو کې له مشکلاتو سره مخامخ شول او ويې نه شو کړای، چې څوک له اسلام څخه اوباسي، دې پايلې ته ورسېدل، چې هيڅ امکان نه لري يو مسلمان په خپله پېژندپاڼه او پاسپورت کې مسلمان پاتې شي؛ مګر په فرهنګي، فکرياو اخلاقي لحاظ مسيحي او اروپايي وي.15

## د تنصير( تبشير) موخې:

د تبشير له تعريف او د درې ګونو پړاوونو په اړه له وضاحته به يې د موخو په باب پوه شوي يو؛ خو بيا هم هڅه کوم،چې په لنډ ډول يې دلته په اړه بحث وکړم.

- د اسلامي عقيدې له منځه وړل او پر ځای يې د تثليث عامول
- د اسلام په اړه په مسلمانانو کې د بې باورۍ رامنځته کول
- د حضرت سرور کائنات ﷺ د سپېڅلي رسالت په اړه مسلمانانو ته شک او ترديد اچول.
- د قرآن کريم تحريف او له هغه څخه د مسلمانانو لرې ساتل
- د اسلامي هېوادونو د حکومتدارۍ له سيستم څخه د اسلامي قوانينو ويستل.

15 ( الاتجاهات الفکريه المعاصر) د.علی جريشه له ۲۸ تر ۳۴ مخونه

- په اسلامي ټولنو کې د ټولنیزو او اخلاقي ارزښتونو کم رنګه کول.
- په مسیحي ټولنو کې د اسلام د پراختیا مخنیوی.
- په مسلمانو ملتونو حاکمیت او د مسلمانو هېوادونو ښکېلول.
- د مسلمانو هېوادونو پر اقتصادي سرچینو حاکمیت او د خپلو مقاصدو د تر لاسه کولو په موخه یې استعمال.
- د اسلامي هېوادونو په قانون جوړونکیو، ښوونیزو، تبلیغاتي او اقتصادي ځایونو حاکمیت او له هغوی څخه د خپلو موخو لپاره ګټنه کول.

## د تنصیر ( تبشیر) وسایل:

مسیحیان خپلو موخو ته د رسېدو لپاره له بېلابېلو وسایلو څخه ګټنه کوي،چې دلته به یې په لنډ ډول په اړه بحث وکړو.

**پوهنتونونه او علمي مرکزونه:** د تبشیري وسایلو له ډلې څخه تر ټولو مهمه وسیله د پوهنتونونو او علمي مرکزونو جوړول دي، هغوی په دې برخه کې د یو شمېر ملتونو له بې سوادۍ څخه ګټنه کړې او هلته یې د پوهنتونونو او علمي مرکزونو په جوړولو لاس پورې کړی دی.

### الف: د علمي مرکزونو بېلګې:

**د لبنان او بېروت امریکایي پوهنتون:** دا پوهنتون اوس هم په ټول ځواک سره خپلو موخو ته د رسېدو او هم د خپل تبشیري ماموریت دترسراوي لپاره کار کوي.د بېلګې په ډول ددې پوهنتون یو له مهمو فعالیتونو څخه ددې پوهنتون د فارغالتحصیل محصلینو د ټولنې جوړول وو، چې وکولای شي،له دې لارې د محصلینو او پوهنتون تر منځ اړیکه

وساتي او ډېرى هغه محصلين، چې له دې پوهنتونه فارغ شوي د خپل ماموريت د ترسراوي لپاره تشويق کړي.

## د قاهرې امريکايي پوهنتون: دا پوهنتونو د تبشيري فعاليتونو يو مهم مرکز دی،چې د هغوی موخو ته کار کوي.

## خپرونې او مجلې:

**د (العالم الاسلامي) مجله:** دا مجله په پاريس کې خپرېږي او ځينې مقالې يې په کتابي بڼه په عربي ژبه د (الغارت على العالم الاسلامي) يا په اسلامي نړۍ يريد په نوم د شيخ محب الدين او ساعد الباقي له لوري تر ژباړې وروسته چاپ شوي دي.

**الشباب الافريقايي:** دا مجله هم د هماغې موخې او انګېزې لپاره د چاپېدو په درشل کې ده.

## د ښوونيز او روزنيز نظام لويديځوال کول:

د لوېديزوال يو مهم ابزار د اسلامي هېوادون د ښوونيز او روزنيز نظام لوېديزوال کول دي، هغوی په ښوونيزو او روزنيزو برنامو کې د بدلون په راوستو سره په اسلامي هېوادونو کې د لوېديزوال ښوونيز نظام د حاکمېدو لپاره په هڅه او تلاش کې دي.16

16خو لسيزې وړاندې ډبليو،ايچ،ټي ګاردنر W.H.T Gairdner د تبشير په نړيوال کنفرانس کې، چې د اډينبورګ په ښار کې جوړ شوی وو ويلي وو، چې د اسلام همدا ستني ښوونه او روزنه اوس هم په ټوله نړۍ کې د مسلمانانو د ژوند اساس دی،مسلمانانو تل ورسره د يوه بالقوه خواک او قوت په توګه يادونه کړې ده.ډاکټر وېليام هانټر،چې د نولسمې پېړۍ په وروستيو کې د انګلستان د دولت له لوري په هند کې د مسلمانانو د احوال په اړه د ګزارش ورکوونکي په توګه ګومارل شوی وو، په مسلمانانو د حاکميت موندلو په اړه له ډېرو خبرونو وروسته داسې وړانديز کړی وو: ((موږ بايد په پوهنتونونو کې د اسلامي فقې تدريس د يوې اصلي خانګې په توګه ومنو.داسلامي فقې تدريس په اسلامي نړۍ کې د اسلام د پراختيا په مانا دي، چې همدې موضوع مسيحي دولتونه له لويې ستونزې

۳:- **زده کړیز پلاوي**: له زده کړیز پلاوي څخه موخه هغه شمېر مسلمان محصلین دي،چې د خپلو زده کړو د دوام په موخه یې اروپایي هېوادونو ته سفر کړی او یا دا چې مسیحیانو هغوی انتخاب کړي او هلته یې لېږلي دي،چې له یوې بشپړې مغز مینځنې وروسته یې خپلو هېوادونو ته ستانه کړي او هلته ورڅخه د خپلو تبشیري موخو لپاره د الې په توګه ګټنه وکړي.

٤:-**د روغتونونو جوړول**: د روغتیایي مرکزونو جوړول او په کې په نښه شوي(ټارګیټ) روغتیایي کارکوونکي په دندو ګمارل.

٥:- **دکتابونو او رسالو لیکل**: د مجلو، ورځپاڼو، راډیو، تلویزون او نورو ډله ییزه رسنیو څخه ګټنه.

٦:- د ویناوو سیمینارونه او کنفرانسونه تشکیلول.

۷:- د فرهنګي ټولنو او ورزشي لوبغالیو جوړول.

۸:- **د کنفرانسونو دایرول**: مسیحیان د خپلو تبشیري فعالیتونو د مطالعې په موخه د مسیحیانو د ویناوو کنفرانسونه او خپرونې په لاره اچوي، چې دلته یې له څو هغو یادونه کوم:

**د قاهرې کنفرانس**: د تبشیري ټولنو د مشر سموئیل زویمر په بلنه د احمد عرابي په کور کې په ۱۳۲٦سپوږمیز ـ ۱۹۰٦ زیږدیز کال کې جوړ شوی وو.

---

سره مخ کړي دي،موږ باید هڅه وکړو،چې د مسلمانانو راتلونکي نسلونه د منځنیو پېړیو( د اسلامي تمدن د طلایي دورې) له قوانینو څخه لرې وساتو،دې موخې ته د رسېدو لپاره موږ باید هغوی له لویدیځو علومو او انګریزي ښوونې او روزنې ته مایله کړو او د کار او ژوند کولو امکانات ورته برابر کړو.

د عصریت ظهور او سقوط ۵۷ مخ (ژباړن)

ب) د ادنبرې کنفرانس، چې په( ۱۳۲۸ )سپوږمیز (۱۹۱۰ ز )ېږدیز کال له ټولې نړۍ څخه د تبشیري ټولنو د( ۱۵۹ )تنو استازو په ګډون په اسکاټلنډ کې جوړ شوی و.
ج) د لکهنو کنفرانس، چې په ۱۳۳۹ سپوږمیز - ۱۹۱۱ زیږدیز د سموئیل زویمر په شتون کې په هندوستان کې جوړ شوی و.
د) د قدس کنفرانس، چې په ۱۳۴۳ سپوږمیز _ ۱۹۲٤ زیږدیز کې جوړ شوی وو.
۹:- په اسلامي هېوادونو کې د فرهنګي مرکزونو جوړول او د مسلمانانو بچیو ته د **بهرنیو ژبو ورزده کول**:د یادولو وړ ده، چې د IRC د مرکز په شان د انګلیسي ژبې مرکزونه یې د افغان ملت د بچیو لپاره په پاکستان کې هم جوړ کړي دي.
۱۰:- په اسلامي هېوادونو کې د عمومي کتابتونو جوړول او په دې کتابتونو کې د مسیحي کتابونو ځای پر ځای کول د کتابونو بېلګې:
په عربي ژبه د انجیل چاپول او په وړیا ډول په اسلامي جوماتونو کې ویشل، د یادونې وړ ده، چې په جنوبي افریقا کې د مسیحیت لپاره یوه ځانګړې راډیو هم لري، چې تر ختیزې افریقا پورې اورېدل کېږي. جالبه یې لا داده، چې دا راډیو اوریدونکي هڅوي، چې خپل ادرسونه ورته ورولېږي، چې بیا دوی په همدې ادرسونو د مسیحیت کتابونونه ور واستوي، ما(د کتاب لیکوال) خپله په دې ښار کې له ګڼ شمېر څوانانو سره کتلي، چې له همدې لارې یې د مسیحیت کتابونه تر لاسه کړي.17

17: د مسیحیت د تبلیغ لپاره نه یوازې په افریقا کې ځانګړي راډیویي شبکې فعالیت کوي؛ بلکې د پاکستان په مرکز اسلام اباد کې هم یوه راډیو هر سهار د دوو ساعتونو لپاره د مسیحیت تبلیغ کوي،

زما له دوستانو څخه یو په مدینه منوره کې د قرآن مجید د چاپ په کار مشغول دی، یوه ورځ یې راته وویل چې مسیحیانو انجیل د قرآن مجید په پوښ کې چاپ کړی او وروسته یې د افریقایي هېوادونو د خلکو تر منځ د قرآن مدینه په عنوان ویشلی و.18

۳:- انجیل یې په پښتو او فارسي ژبو چاپ کړی او بیا یې د افغان کډوالو په کمپونو کې د انجیل شریف په نوم ویشلی و، ددې تر څنګ یې څنې نور کتابونو لکه عیسی مسیح په اسلام کې،د عیسی مسیح بیا راتګ او عیسی مسیح د قیامت په ورځ تر عنوان لاندې چاپ کړی او په مختلفو مناسبتونو کې یې د افغان زده کوونکیو تر منځ ویشلي وو.

۱۱:- د مسیحیت د تبلیغ لپاره د میرمنو روزنه یو بل مهم تبشیري ابزار دی.هغوی یو شمېر میرمنې د مسیحي مبلغینو په توګه روزي او بیا په مسلمانو مېرمنو پسې لېږي.

څه مو چې پورته یاد کړل دا یواځې د تبشیري ابزارو یوه برخه وه،چې مسیحیان هغه په نړۍ په ځانګړي ډول په اسلامي هېوادونو کې تري ګټنه کوي.مګر باید پوه شو،چې د تبشیري ابزارو لویه برخه،چې په کراتو له ځرګندو شویو ابزارو څخه خطرناکه ده لا زموږ له سترګو پټ دي او څوک یې په اړه نه پوهېږي.

خبردار!

---

چې نه یواځې د پاکستان په ښارونو بلکې د افغانستان د ختیځو ولایتونو په کلیو او ښارونو کې هم اوریدل کېږي. د پاکستان په هر ښار کې د مسیحیانو بې شمېرې کلیساوې شتون لري.(پښتو ژباړن)

18 څرنګه،چې په خبرونو کې مو واورېدل،په کویټ کې میشتو امریکایې نظامیانو د یو ویشتمې پېړۍ د قران په نوم خپور کړی دی،چې ۷۷ سورتونه او هغې ته (فرقان الحق) نوم ایښی( د اسلامي جمهوریت ورځپاڼه) ( د ندای اسلام مجله) ۲۴مخ ۷۳۱ مخ ( فارسي ژباړونکی)

ممکن داسې تصور وکړئ،چې تبشیر د صلیبي جنګونو یو پړاو و ، دا چې
په نړۍ کې پای ته رسیدلی په دې اړه معلومات نشته.مګر باید
وپوهېږئ،چې تبشیر اوس هم اسلامي نړۍ ګوابني؛بلکې له اسلامي
بېدارۍ سره د پخوا په پرتله نور هم خطرناک شوي او خپل فعالیتونه یې
چټک کړي دي.
بلې! حقیقت دا دی تر هغې چې مسیحیان خپلې شومې موخې تر لاسه
نه کړي، تر هغې به له اسلام سره له دښمنۍ لاس وانخلي دا هغه څه
دي،چې قرآن مجید په صراحت سره ویلي دي (بقره سورت ۱۲۰ ایات)
وَلَنْ تَرْضٰى عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَلَا النَّصٰرٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ؕ ... ۱۲۰
ژباړه: یهودیان او مسیحیان به تر هغې درنه خوشاله نه شي،چې د هغوی
له قانون( تحریف شوي کتاب او ناسمو غوښتنو) پیروي و نه کړئ...
(د بقرې سورت ۲۱۷ ایات)
ؕ وَلَا يَزَالُوْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ حَتّٰى يَرُدُّوْكُمْ عَنْ دِيْنِكُمْ اِنِ اسْتَطَاعُوْا
ژباړه: مشرکان به تر هغې درسره وجنګېږي،تر څو وکړای شي تا له خپلې
لارې(دین) څخه واړوي.
په دې ترتیب جنګ اوس هم دوام لري،دښمني او عداوت اوس هم په
خپل ځای دی،هیڅ بدلون یې نه دی کړی،څه چې بدلون کړی هغه
طریقې او ابزار دي،چې له ځانګړي ځای او وخت سره سم بدلون یا
پرمختګ کوي؛نو تبشیر په نویو بڼو او ډولونو ښکاره کېږي.کله د
مسیحي راهبانو او کشیشانو په شکل خلک مسیحت ته رابولي، کله هم د
روغتونونو علمي مرکزونو، ورزشیلوبغالیو، فرهنګي ټولنو، پلاویو،

راډیو،تلویزون، ورځپاڼو او نورو بڼو څرګندېږي.ځیني وختونه د دیني مذاهبو او د علمي او فکري ښوونځیو څرګندېږي.ځیني وختونه د ملي سازمانونو او سیاسي احزابو تر عنوان لاندې،چې په څرګنده په کې د تبشیر نښې نه لیدل کېږي؛ خو په حقیقت کې د تبشیر د موخو او ګټو لپاره کار کوي او د هغه له اصولو او اساساتو سره مخکې ځي.ځینې وختونه د اقتصادي او پانګونې د موسسو په بڼه،چې له دې لارې غواړي د مسلمانو ملکونو په شتمنیو حاکم شي را څرګندیږي.19

(حسبناالله و نعم الوکیل)

19 دا مهال مسیحي مبلغین او بلوونکي د پخوا په څیر په سختو او توهینوونکیو الفاظو د مسیحیت تبلیغ نه کوي ؛بلکې خپله کړنلاره یې بدله کړې او په خوږه او غولوونکې ژبه او الفاظو له خلکو سره خبرې کوي او هڅه کوي،چې خلک خانته جذب کړي.ځینې وختونه دعقل د اصالت،عصریتوب او تجدید طلبی شعارونه طرحه کوي،چې له دې لارې د دا ډول ټولخوښیو شعارونو په مټ د مسلمانانو په پیاوړیو لیکو کې نفوذ وکړي او هغوی سره تیت و پرک کړي او د مسیحیت تګلاره خلکو ته ورسوي.( د ندای اسلام مجله) ۲٤ نه تر ۷۳ مخه( فارسي ژباړن)

## په افغانستان کې تبشیر:

مسیحي مبلغین درې څانګړې سوړې لري،چې تل له همدې لارې د نړۍ په ملتونو کې نفوذ کوي. ۱:- فقر ۲:- بې سوادي. ۳:- ناروغي

هغوی له همدې دریو کانالونو تل په هغو ملتونو کې نفوذ کړی، چې له فقر، بې سوادۍ او امراضو کړېږي، دوی د مرستې، علم او زده کړې په پلمه د مدرسو، علمي مرکزونو او روغتونو په جوړولو لاس پورې کوي.تر دې، چې هغوی د زده کړو څانګړي مرکزونه جوړوي، چې په کې د مسلمانانو بچیو ته د طبي پالنې روزنه ورکړي.

مسیحیان له دې لارې د خلکو باور خپلوي او اولادونه یې دا ډول مراکزو ته جذبوي، چې وروسته یې د مسیحیت د افکارو او عقایدو خپرولو ته استخداموي.مګر افغان ملت دې ته په پام سره،چې کلونه یې د ښکیلاګګرو په وړاندې جهاد کړی او ددې جهاد په پایله کې کډوال شوي، وژل شوي،علمي مرکزونه یې نړېدلي او د کرنیز نظام له منځه تللی، په ټوله مانا د افغانستان دا وضعیت د مسیحي مبلغینو لپاره برابر و، چې ناوړه ګټنه ترې وکړي او له یادو دریو لارو څخه ددې کړیدلي ملت په منځ کې خپل افکار او عقاید خپاره کړي.دا مهال (۱۳۷۲ل)ګورو، چې نږدې ۶۰ اروپایي موسسې په افغانستان کې د بشري مرستو تر عنوان لاندې پر فعالیتونو بوختې دي.یادې موسسې په دوو برخو کې په چارو بوختې دي. ۱:- هغه موسسات، چې د مرستو د رسونې د همغږۍ په نوم له افغاني ټولنې سره غړیتوب لري.دا برخه له ۷۵ موسساتو جوړه ده،چې له ډلې یې ٤٦ لویدیځوالې موسسې دي.دا ټولې نبغ په نبغه د ملګرو ملتونو د سازمان

له لوري تمویلیږي، چې د افغانستان د ابادۍ په عنوان یادو موسسو ته بې دریغه نغدي مرسته ورکوي.

۲:- هغه موسسې، چې د افغان همغږۍ ټولنې سره غړیتوب نه لري.

په دې برخه کې ۱۵ موسسات شامل دي، چې په رسمي ډول په افغانستان کې کار کوي او ځینې یې له ملګرو ملتونو سره تړاو لري، لکه د سره صلیب نړیواله اداره له خپلو ټولو څانګو سره، د روغتیا نړیوال سازمان، د خوړو نړیوال سازمان او نور...د یادولوده، چې یواځې په ۱۹۸۹ز کال کې ددې موسساتو کلنی بودیجه سل میلیونه امریکایي ډالره وه.دا موسسات د افغانستان په داخل او بهر کې د افغان کډوالو په کمپونو کې پر چارو بوخت دي، چې د فعالیتونو څو بېلګې یې په لاندې ډول دي:

۱:- **روغتیایي برخه** :

د روغتونو او روغتیایي مرکزونو جوړول، د عاجلو طبي مرستو برابرول، په طبي برخه کې روزنه او د جنګي جبهو لپاره د طبي ماشین الاتو او امبولانسونو تهیه کول.

۲:- **د روزنې او پالنې برخه**:

دا برخه عمومي روزنه( سواد زده کړه) بدني روزنه، د فرهنګي مرکزونو تاسیسول، د انګلیسي، فرانسوي او نورو ژبو د زده کړې زمینه برابرول، د عمومي کتابتونو جوړول او د خلکو تر منځ د کتابونو د پلورلو او ویشلو چارې په بر کې نیسي.

**۳:- کرنیزه برخه:**

بزګرانو ته د تخم ویش،د اوبو د کانالونو بیاجوړونه،سړک جوړونه او بزګرانو ته په کرنیزه برخه کې د ورکشاپونو جوړول ددې برخې عمده فعالیتونه دي.

**٤:- د عمومي مرستې رسونې برخه:**

د عامه خلکو په منځ کې د بیلابیلو مرستو ویش، د بیلابیلو مناسبتونو په ترڅ کې د ځانګړیو ډالیو ورکړه.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو د رسونې مرکز(ACBAR) ۲۳۵ مرستندویه طرحې د افغانستان په بیلابیلو برخو کې اجرا کړي، چې په لاندې ډول یې یادونه کوو: ۲۵ مرستندویه طرحې په غزني،٤۲ په ننګرهار،۱۹ په کونړ،٦ په هرات،۲٦ په پکتیا،۳۹ په کندهار،۱۱ په پکتیکا،۳ په کابل،۱۰ په وردګو،٥ په پغمان او ٥ کابل کې اجرا شوي دي.

باید دې ته مو پام وي څه مو، چې یاد کړل په دې کې د هغو موسساتو فعالیتونه نه دي شامل، چې د مرستو د رسونې د همغږۍ افغاني ټولنې سره غړیتوب نه لري.مګر ددې تبشیري فعالیتونو پایله پرته له دې، چې د افغان ملت په وړاندې ماتې وخوري بل څه نه وو.

هو! د دوی ټولې نقشې له خاورو سره خاورې شوې او افغان ملت د تل په څیر د قرآن او سنتو پابند پاتې شول او دا هغه څه وو، چې الله ﷻ په قرآن کریم کې فرمایلي و: (۳٦ انفال سورت)

ژباړه: کفار خپل مالونه مصرفوي، چې (خلک) د خدای له لارې واړوي او ( الله څخه یې ایمان) وګرځوي، هغوی به خپل مالونه مصرف کړي؛ خو پایله به یې پښیماني او خپګان وي او ماتې به هم وخوري.

## پوښتنې:

۱:- د هغو درېو کانالونو نومونه واخلئ،چې مسیحي مبلغین یې پر مټ د نړۍ په ملتونو کې نفوذ کوي او هم ووایې،چې هغوی څنګه په افغانستان کې له دې کانالونو ګټنه وکړه؟

۲:- الف) په افغانستان کې څومره لویدیزې موسسې فعالیت کوي؟

ب) لویدیزې موسسې په افغانستان کې په کوم شعار سره فعالیت کوي؟

ج) ستا له نظره دا شعارونه حقیقت لري او کنه؟ روښانه یې کړئ.

۳:- په مختلفو فرصتونو کې چې تبشیري موسسات په هغې کې په فعالیت بوخت دي،کوم یو یې د افغانستان لپاره ډېر خطرناک دی؟ ستا له نظره هغوی بریالي شوي دي؟

٤:- ستاسې له نظره ولې لویدیځوال تل په افغانستان کې له ماتې سره مخامخ شوي؟

٥:- خیني په دې عقیده لري که غربي موسسې په لنډه موده کې بریالۍ نه شي،په اوږد مهال کې به ضرور هدف ته رسیږي؛څکه هغوی ډیری ځوانان د خپلو تبلیغاتو لاندې نیولي دي.په دې اړه ستاسې نظر څه دی؟ موافق یاست که مخالف؟ ولې؟

# دويمه برخه

# د فکري جنګ موخې او ابزار

# شپږم درس

## د فکري جنګ موخې:

له شک پرته ددې پليد او ناولي جنګ اساسي موخه د مسلمانانو له زړونو څخه د اسلامي عقېدې ويستل او هم د يوې عقېدې، قانون او د ژوند د تګلارې په توګه د اسلام له منلو يې مخ اړول دي.مګر په دې بايد وپوهېږو،چې اساسي موخې ته تر رسيدو وړاندې نور اهداف هم شته،چې په حقيقت کې د اساسي موخې د ترلاسه کولو لپاره لار هواروي.دا موخې په لنډ ډول لاندې تشريح کوو:

## ۱:- په اروپايي ملتونو کې د اسلام د خپراوي مخنيوی:

د اسلام د سپيڅلي قانون تر ټولو ستر امتياز دا دی،چې د اسلام د فطرت دين دی؛ نو پاک زړونه او سالم فطرتونه يې په ټول رضايت سره مني او قرآن مجيد هم په دې اړه د مشرکانو غوږونو ته د الهي ايات په رسولو امر کوي. قرآن مجيد په دې اړه وايي: (د توبې سورت ٦ ايات)

وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَامَ اللَّهِ

ژباړه: ای پيغمبره! که چېرې يو له مشرکانو څخه( او له هغو کافرانو څخه، چې تاته ورسره د جنګ امر شوی) پناه وغواړي؛ نو پناه ورکړه، چې د الله ﷻ کلام يانې د قرآنکريم اياتونه واوري( او له دين څخه خبر شي)

همدا و، چې کله مشرکينو د مکې د خلکو په وجود کې دا بې سارې تاثير وليد او د مکې د خلکو تر منځه يې په چټکۍ سره د اسلام خپراوی مشاهد کړ؛ نو امر يې وکړ ،چې د قرآن کريم د تلاوت پرمهال بايد ګډوډي او مزاحمت جوړ شي، چې خلک د قرآن کريم اياتونه وانه اوريدی شي او د

اسلام د خېراوي مخنیوی وشي.په دې اړه قرآن کریم داسې فرمایلي:
(فصلت ۲٦)

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَالْغَوْا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ‎_26

ژباړه: کافران (په خپل منځ کې یو بل ته وایي): دې قرآن ته غوږ مه نیسئ!( او د تلاوت پرمهال يې) چغې جارو جنجال کوئ، چې خلک یې هم وانه وري او د مفاهیمو په اړه يې له خلکو تفکر واخیستل شي او تاسې کامیاب شئ.

نو کله، چې لویدیځوالو دا خطر احساس کړ، چې اسلام په اروپايي هیوادونو کې د پراختیا په حال کې دی د دوی بنوونځي او فلسفي افکار یې له ګواښ سره مخامخ کړي او د نړۍ ملتونه هم اسلام ته تود هر کلی وايي، ممکنه ده، چې ټوله اروپا په یو ځل اسلام ته لبیک ووايي، له همدې وېرې یې خپل ټول امکانات په کار واچول ، چې د نړۍ هغې سر ته د اسلام له خپراوي مخنیوی وکړ او له دې لارې غواړي،چې اروپایې ملتونه د تل لپاره په مسیحیت کې پاتې شي.

## ۲- د اسلام د تصویر تخریب او مسخه کول:

دا هدف یې په اصل کې هغه ابزار دی، چې خپل پخواني هدف ته پرې خان رسوي یانې لویدیځوال غواړي، چې( د اسلام بنکلی تصویر لویدیځو ملتونو ته ناسم وبنيي چې د اسلام په اړه د هغوی نظر بدل کړي.)[20]

20 د اسلام د خرنګوالي په اړه په لویدیځو رسینو کې د نوې مطالعې یوه بېلګه څېړنه ده،چې د اسلام خشنه څېره او مخالفت نومېږي په ARD او ZDF تلویزونو کې چې یو یې امریکا یې او بل یې الماني شبکه ده خپرونې لري.

مګر باید په دې پوه شــو، چې د اســلام د تخریب دغه برنامې یوازې د اســلام په یوې برخې پورې اړه نه لري؛ بلکې د اســلام ټول اړخونه لکه، قرآن مجید، نبوي سیرت، پیغمبري رسالت، اسلامي فقه، اسلامي تاریخ او ټول هغه څه، چې په اســلامي عقېدې، د دین ا ســاسي اصــولو، د اسلامي علماوو علمي میراث او... په بر کې نیسي.

نو ویلی شو چې د اسلام دښمنان د اسلام د تخریب په اړه په دوو ساحو کې عملا خپلو فعالیتونو او برنامو ته دوام ورکوي، یو خپله د مسلمانانو په منځ کې، چې په هر قیمت وي له اسلام سره یې اړیکې پرې کړي او هغوی یو بې روحه، بې ایمانه او بې پلانه موجود وګرځوي او دویمه یې د غیر مسلمانو ملتونو په منځ کې ده، چې د اسلام ته د ګرځېدو او حتی د اسلام او د اسلام د اصولو په اړه له فکر کولو څخه یې مخنیوی کوي. الله ﷻ په دې اړه داسې فرمايي: (سورت توبه ۳۲)

يُرِيدُونَ أَنْ يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَنْ يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ 32

ژباړه: غواړي د الله ﷻ نور په خپلو خولو سره مړ کړي، په داسې حال کې، چې الله ﷻ تر هغه لاس نه اخلي، چې خپل نور بشپړ کړي، که څه هم کافران (ترې ) کرکه ولري.

## ۳: د اسلامي امت په تاریخ کې شک اچونه:

د اسلامي امت د تاریخ په اړه د شک اچونې اصلي انګیزه دا ده، چې ددې ملت اړیکه له خپل روښانه تاریخ سره پرې او له دوی داسې یو ملت جوړ کړي، چې هیڅ تاریخ او هویت ونه لري.په دې اړه د دوی کړنلاره دا ده، چې ټولې څېړنې یې د مسلمانانو د تاریخ په کمزورو ټکو متمرکزه کړې او

له هغو تیروتنو، چې د اسلام په تاریخ کې یې کله شتون درلودی هوا ورکړي.دوی د اسلام د تاریخ زرین بابونه هیڅ نه یادوي او تل یې پټ ساتي؛ نو ددې ملت راتلونکي نسلونه به پرته له وینې تویونې، ظلم، وحشت او ... څخه پرته به په بل څه نه پوهیږي او دا هغه څه دي، چې په دوه ټکیو کې زموږ له زده کړییزو برنامو څخه په واضح ډول موندل کیږي. لومړی د ختیځپېژندونکیو او د هغوی د زده کوونکیو په اثارو کې د اسلام د تاریخ تخریبونه او د هغه روښانه څېره په بدرنګه معرفي کول.دویم د لویدیځ د تاریخ معرفي او نوي نسل ته یې ستاینه.

## ٤: د مسلمان ملت په اوسني عصر کې شک اچونه:

ختیځ پوهانو یواځې د اسلام په تخریب بسنه نه ده کړې ؛بلکې هغوی د مسلمان ملت اوسنی عصر هم تر تیري او برید لاندې نیولی او په مسخه کولو یې لګیا دي.هغوی د اسلامي امت له اوسني ناوړه اقتصادي، فرهنګي، علمي او ... وضعیت څخه، چې دا مهال یو شمېر اسلامي هیوادونه ورسر مخامخ دي ناوړه ګټنه کوي او د اسلامي امت په اوسني وضعیت کې شکونه را پیدا کوي. هغوی د مسلمانانو د نوي نسل په زړونو کې خپګان او ناهیلي اچوي، هڅوي یې، چې له دې مشکلاتو څخه د خلاصون او خپلو هیلو ته د رسیدو لپاره په نویو لارو فکر وکړي او په اخره کې داسې ښکاره کوي، چې پرته له دې، چې پرمختللي لویدیځ ته مخه نه کړئ او د هغوی په پل لاړ نه شئ؛ بله هیڅ لاره نه لرئ.21

[21] په زړونوکې د خپګان او ناهیلیو اچول د رواني جنګ یوه بله کړنلاره ده.د مسلمانانو په زړونو کې د خپګان او ناهیلیو د اچولو لپاره هغوی د بحران،محرومیت،ورانی د ماتې او وینې تویونې له کلماتو بې دریغه ګټنه (استفاده) کوي.د رواني جنګ د کتاب په ٥٥ مخ کې په دې اړه داسې ویل شوي: د یوه

## ٥: د اسلامي امت د راتلونکې په اړه د شک اچونه:

ددې ملت تیر وخت، تیاره ماضي، له ظلم،فساد او وینې تویونې ډکه وي، په اوسني وخت کې هم له وروسته والي، شاه تګ، فقر او بیوزلی ځوریږي او د پرمختګ، تمدن او تکنالوژی په لور یې کومه لار په مخ کې شتون ونه لري؛ نو ددې ملت راتلونکې، چې له اوسني او تیر وخت څخه په لاس راځي څنګه به وي؟

له شک پرته د دا ډول سوال ځواب به په ټول صراحت سره داسې وي، چې ددې ملت راتلونکې به یوه تیاره، له وروسته والي او کړاونو څخه ډکه راتلونکې وي. که چیرې غواړو، چې روښانه، پرمختللې او متمدنه راتلونکې ولرو؛ نوله دې بله لاره نه لرو، چې د خپل تاریخ تیرې پاڼې بندې کړو، له اوسني عصر څخه هم ناهیلي شوي یو هغه هم باید لرې وغورځوو او د یوې متمدنې راتلونکې د جوړونې د نویو اصولو او کړنلارو په لټه کې شو.د یوې داسې راتلونکې په هڅه کې، چې له تیاره ماضي او دردناک اوسني حالت سره هیڅ اړیکه ونه لري.

دا ځای دی، چې زموږ په مخ کې پرته د پرمختللي او متمدن لویدیځ څخه بله لار نشته.نو باید د هغوی له فکري دریابه کنډول په سر واړوو او په پل یې پل کیږدو.د هغوی د ادابو او اصولو څخه باید پیروي وکړو ځکه، چې عدالت او برابري یواځې په لویدیځ کې شته، دلته ظلم دی، ستم دی او دیموکراسي یواځې هلته ده.دلته خپل دی او دیکتاتوري ده، هلته

هیواد خلک خپګان او ناهیلي ته د سوقولو په موخه باید د محرومیتونو،بحرانونو،ورانیو او وینې توېونې له کلماتو ډېره ګټه وشي....او ددې ستونزو عوامل په اقتصادي،رواني او سیاسي حالاتو کې ولټول شي،،چې د یوه لنډ مهال وروسته دا هر څه په خپله په خپګان او ناهیلي بدلیږي( فارسي ژباړن)

پرمختګ او ټکنالوژي شتون لري.دلته وروسته والی او په شاتګ دی، روغتیااو سلامتي هلته وجود لري، دلته مرضونه او ناروغی دي، شتمنی او پانګه هلته ده، دلته فقر او بیوزلي ده، خواک هلته شتون لري، دلته ضعف او دربدري ده، علم او پوهه هلته شتون لري، دا ناپوهی او بی سوادی خای دی.

## ٦: دا سلامي امت د هویت ویلې کول( له منځه وړل)

د تذویب لغات د ( ذاب، یذوب ذویانا) څخه اخیستل شوی دی. دبېلګې په ډول وایو، مالګه په اوبو یا قند په چای کې ذوب شو؛ یانې هویت او اصلي بڼه یې له لاسه ورکړې ده.
کله، چې د اسلامي امت اړیکه له ماضي سره پرې شوه، له اوسني وخته ناخوښه شول او د راتلونکې په اړه هم شکمن وي؛ نو اړینه ده، چې دا ډول امت به د ژوند په ټولو چارو کې نورو ته مخ اړوي، شخصیت یې د نورو په وجود کې ویلي کیږي او خپل اصلي هویت له لاسه ورکوي. خپل دین او فرهنګ هیر ته سپاري او یو بې روحه او بې ارادې ملت ترې جوړیږي. په ژوند کې د امر او مخنیوي خواک یا هم د نظر د څرګندولو او مشورې ورکول حق نه لري.نور یې په اړه تصمیم نیسي او تر سره کوي یې.نور امر کوي او دوی پرته له کوم ځنډ و ځنډ اجرا کوي.دا هر څه له دې امله دي، چې هغوی خپل اصلي هویت او ارزښت له لاسه ورکړی او د بل منوونکی او ذلیل امت ترې جوړ شوی وي. دا لاندې شعر، چې د تمیم د قبیلې په هجوه کې لیکل شوی له دې حالت سره ښه صدق کوي:
د تمیم د قبیلې حضور او نه حضور یا شتون او نه شتون یو برابر دي.
کله چې شتون نه لري؛ نو خلک یې د مشورې لپاره انتظار نه کوي.

او چې کله حضور پیدا کړي بیا ترې څوک مشوره نه اخلي

## ۷: د نویو فرهنګي عناصرو ځایناستي کول:

ختیځپوهان او غربي یرغلګر ددې لپاره چې خپلو یادو اهدافو لکه تخریب، بدګوماني، تذویب( ویلي کول له منځه وړل) ته ورسیږي او وکولی شي، چې په ټوله مانا په اسلامي هیوادونو بشپړ حاکمیت ولري، نوې برنامې او فرهنګونه د اسلامي فرهنګ د ځای ناستي په توګه وړاندې کوي، چې د مسلمان عقلي او فکري جوړښتوو ته په ټوله مانا بدلون ورکړي.هغوی وي سیاسي، ټولنیز اقتصادي نظامونه جوړ کړي او اسلامي هیوادونو ته د خپلو ادابو او رسمونو برنامې طرحه کوي.نو دا دلیل دی، چې مسلمانان د اصل و نسب، پلارو مور، نژاد او هویت په لحاظ مسلمانان دي؛ خو په فکري، فرهنګي او اخلاقي لحاظ او هم په سیاسي،اقتصادي، ټولنیز او ښوونیز لحاظ غرب ځپلي او بې دینه دیاو د مسلمان عقیده یواځې له اسمان سره د اړیکې د وسیلې تر حده پاتې ده او د ژوند په نورو اړخونو کې هیڅ اړیکه سره نه لري.

۸: د اسلامي خوځښتونو تخریب او د حقانیت په اړه یې شک اچونه:

له شکه پرته په دې کبد الله ﷻ خپل حکمت پروت دی،چې د حق او باطل تر منځ جنګ دوام لري.که چېرې دا مرحله پای ته رسیدله؛ب له مرحله به ضرور پیلیده.مګر څه، چې روښانه دي هغه دا دي، چې په دې مبارزه کې به برې تل د حق وي: (انبیا-۱۸)

وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ ﴿١٧١﴾ إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنصُورُونَ ﴿١٧٢﴾ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ الْغَالِبُونَ ﴿١٧٣﴾

ژباړه: !خو بیا یې د هغه په اړه کفر وکړ، نو حتماً به پوه شي، او یقیناً چې زمونږ وینا لا د مخه زمونږ د انبیاوو بنده ګانو په اړه تېره شوې، چې یقیناً همدا دوی به بریالي وي.(صافات ۱۷۱-۱۷۳)
ژباړه: بندګانو ته زما راجع وعده په لوح محفوظ کې ثبت شوې او هغه دا ده، چې له هغوی قطعي ملاتړ کیږي او زما لښکر به ضرور بریالی کیږي.
په دې اړه حضرت محمد ﷺ داسې فرمایلي دي: ( لاتزال طائفه من امتی یقاتلون علی الحق ظاهرین الی یوم القیامه)
ژباړه: زما په امت کې یوه ډله شته، چې د حق په لار کې جهاد کوي او د قیامت تر ورځې به بریالي وي.
دې حدیث کې راغلې وعدې ته په پام سره الله ﷻ ددې امت فطرت داسې جوړ کړی، چې هر کله د اسلام په اړه د دښمنانو دسیسو، توطیو او حملو زور اخیستی د همدې ملت له منځه کسان پورته کیږي او خپل هر څه د الله ﷻ په رضا کې فدا کوي.د الله ﷻ دین د خپراوي په موخه په جهاد او مبارزه لاس پورې کوي او په دې لار کې به تل غالب او کامیاب وي.
پورته مطلب هماغه څه دي، چې موږ یې د اسلامي تاریخ په اوږدو کې په هغه خوځښتونو او نهضتونو کې، چې د اسلامي بیدارۍ، د امت د بیا راژوندي کولو او د اسلام په لوري یې قیام کولو ته هڅولي مشاهده کوو، نو په دې ترتیب د اسلام دښمنان په دې ښه پوهیدلي تر هغه وخته، چې اسلامي خوځښتونه په صحیح قیادت او لارښوونې سره داسلامي امت په منځ کې شتون ولري او تر هغې، چې دا خوځښتونه په ټولې ازادۍ سره

خلک د الله ﷻ لور ته بلي او هغوی د دښمن د دسیسو او توطیو په اړه خبروي هغوی به هیڅکله هم خپلو موخو ته په رسیدو کې بریالي نه شي. نو د اسلام دښمنانو خپل ټول امکانات په کار اچولي، چې په هر ډول وي روښانه اسلامي خوځښتونه په ډول ډول بې اساسه تورونو او هم د متحدینو تر منځ یې فتنه او اختلاف په راپیدا کولو سره هغوی تخریب کړي او هغوی د خلکو او اسلامي ټولنې په منځ کې بدنامه کړي.

**پوښتنې:**

**د فکري جنګ اساسي هدف بیان کړئ.**

**د لاندې مواردو دلایل روښانه کړئ.**

**الف) لویدیځوال په اروپایي ملتونو کې د اسلام د پراختیا د مخنیوي لپاره ډیره هڅه کوي.**

**ب) لویدیځوالو وروسته له هغې، چې اسلامي فرهنګ له منځه یوړو پر ځای یې خپل فرهنګ ځایناستی کړ.**

**ج) لویدیځوال د اسلامي حرکتونو د بدنامولو او تخریبولو لپاره زیاته هڅه کوي.**

**۳. و یقضی الامر حین تغیب تمیم....ولایستاذنون و هم شهود.**

**ووایې، چې پورته شعر څنګه دمسلمانانو له اوسني حالت سره سمون خوري.**

**٤. د فکري جنګ یو هدف په اسلامي تاریخ کې شکونه اچول دي.تاسې ددفاع او ځواب ویلو لپاره څه مطالب لرئ؟**

# اووم درس

## د فکري جنګ ابزار

د اسلام دښمنان په تېر درس کې یادو شویو اهدافو ته د رسیدو لپاره له دوو ډولو ابزارو ګټه کوي:

**مستقیم ابزار**: دا هغه ډول ابزار دي، چې د ټولو لپارده د درک وړ او مشخص دي.

غیر مستقیم ابزار: دا هغه ابزار دي، چې برنامې او فعالیتونه یې پټ؛ خو پایلې او اثار یې ټولو ته ښکاره دي.

د فکري جنګ مستقیم ابزار کولی شو، چې په دریو اصلي محورونو کې را لنډ کړو. ۱ : تبشیر ۲: غربي کول ۳: سکولریزم

د بشیر په اړه بشپړ معلومات په تیر پنځم درس کې ورکړل شوي؛ مګر تغریب ( غربي کول) د مسلمانانو د ژوند ټول اړخونه له ښوونې او روزنې نظام نیولې تر سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو نظامونو پورې. همدارنګه، فکر، فرهنګ او اسلامي اخلاق دا ټول په غربي سبک اړول دي.په داسې ډول، چې اسلامي ژوند په بشپړ ډول بدلون موندلی او په یوه غربي ژوند بدل شي. سیکولریزم کولی شو په یوه جمله کې داسې تعریف کړو: له سیاست څخه د دین او ټولنې بېلوالی.په سیکولرستي افکار کې دین انساني اعمالو ټولګه ده، چې د مسلمانانو له سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي او زده کړیزو چارو سره هیڅ تړاو نه لري.د یادولو وړه ده څرنګه، چې سیکولریزم یوه پراخه موضوع ده د فکري جنګ په غیرمستقیمو ابزارو کې به د پوره بحث لاندې ونیول شي.باید په دې پوه شو هغه ابزار، چې اوس

مو ترې يادونه وکړه هغه څه دي، چې د اسلام دښمنان تر يو په بل پسې او کله هم يو ځای د اسلام او مسلمانانو په ضد ګټنه کوي.البته ځينې وختونه هغه ابزار،چې تاثير يې چټک، عمل يې ډير او لګښت يې کم دی پرې بسنه کوي؛ څرنګه، چې سيکولريزم نسبت نورو ابزارو ته له ډير موثريت څخه برخمن دی؛ نو د اسلام دښمنان يې په مسلمانو ټولنو کې د خپراوي لپاره پوره هڅې کوي او د ډېری مسلمانانو ذهنونه او افکار يې نيولي دي.

داسې، چې ډيری مسلمانان دنوم،کورنی، محل، پيژندپانې له مخې مسلمانان دي؛ خو په فکري، فرهنګي او روزنيز لحاظ سيکولر دي.

پام مو وي، چې د فکري جنګ غير مستقيم ابزار ډېر زيات دي زه هغه کوم، چې د هغوی ډير مهم يې دلته ياد کړم.

- له سياسته د دين د بيلوالي پر اصل ټينګار(سيکولريزم):

په عربي کې د سيکولريزم اصطلاح په (علمانيه) له علم څخه مشتق ده،چې مانا يې پوهيدل دي،په ښکاره ډول داسې په ګوته کوي، چې يوه علمي موضوع يا يو څيړنيز بحث دی؛ خو په حقيقت کې د سيکولريزم ، علم او د علم اړوند مسايلو تر منځ پراخه واټن شتون لري. رښتيا دا دي، چې سيکولريزم يو غولوونکی او شيطاني شعار دی، چې د سيکولريزم رواجوونکي ترې په عربي ټولنه کې ګټنه کوي.په دې وسيله هغه کمزوري انسانان، چې د هر چا په شعار پسې منډې وهي تر خپل اغيز لاندې راولي؛ نو سيکولريزم هماغه بې ديني ده؛ يانې، چې دين په ژوندن کې هيڅ نقش ونه لري او دين له سياست او ټولنې

ځکــه د بیلــوالي اصــطلاح د همــدې مفهــوم لپــاره کــاروي.د سـیکولریزم نظریـه پـه اسـلامي ټولنـه کـې یـوه نـوې رامنختـه شـوې نظریــه ده، چــې لــه هــیڅ پیــاوړي دریځــه برخمنــه نــه ده. ځکــه د اسـلام دیـن یـو جـامع دیـن دی خپلـو پیروانـو تـه د دنیااو اخرت پـه لـور بلنـه ورکـوي، د ژونـد د ټولـو اړخونـو لپـاره قواعـد او اصـول لـري.د سیاسي،اقتصــادي،ټولنیزو او ښــوونې او د ښــوونې او روزنــې د مسایلو لپاره برنـامې لـري.د ژوند پـه هـیڅ اړخ کـې بـه داسـې مسله نـه وي،چـې حکـم یـې د اسـلام پـه لانـدې احکـامو پـورې اړونـد نـه وي( واجـب، مسـتحب، حـرام، مکـروه، مبـاح) یـانې پـه ژونـد کـې هـر عمـل، قـانون او خوځښـت بـه لـه دې پنځـو حـالتونو خـالي نـه وي یـا بـه و اجـب وي، چــې پریښــودل یــې ګنــاه ده، یــا بــه حــرام وي، چــې دداسـې عمـل کـول هـم ګنـاه ده، یـا بـه مکـروه وي، چـې اسـلام پـه داسـې اعمالـو د ځـان سـاتنې امـر کـوي یـا بـه مبـاح وي، چـې کـول او نـه کـول یـې دواړه یـو برابـر دی.بایـد پـام وي،کلـه، چـې اروپـا لـه شپاړسـمې تراتلســمې پیــړۍ پــورې دیني،ســیاسي او تــولنیزې اوضـاع تـه پـه کتـو یـې پـه بشـپړ ډول د دا ډول پدیـدو ځرګنـدولو تـه امـاده و.22اســلامي نــړۍ پــه تــولې چتکتیــااو څــواک سره د پرمختــګ پـر لـور روان و.اسـلامي نـړۍ لـه انګیزیسیون لـه شبکو، د پلټنـې لـه

22دیری موندنې په خانګړي ډول د اتلسمې پېړۍ اوج ددې لامل شو،چې د مسیحیت په دین کې تردید او شک پیدا شي،ځکه،چې د مسیحي دین جوړښت داسې شوی،چې د نړۍ د شتون پر حقایقو له پوهیږي او پر ناپوهی ولاړ دی.د نویو ساینسي خبرتو او موندنو په رامنځته کیدو سره لکه د (کپرنیک) نظریه،چې د لمر محوریت یې د (ځمکې محوریت) یا یې هالوسنتري په ژئوسنتري ارایه کړ.یا ګالیله،چې د لمر د حرکت قوانین یې کشف کړل او لومړی تلسکوب یې جوړ کړ او...

محـاکمو، لـه عمـلي افکـارو او عقایـدو سره مبـارزې او خلـک بنـدګی او ذلت تـه لـه رابښکلو سره هـیڅ اشـنایې نـه درلـوده.د ساینسي علم او کشـفیاتو سره د مخالفـت پـه نـوم پـه اسـلامي نـړۍ کـې هـیڅ شي شـتون نــه درلود.مســلمانان د کلیســا د حاکمیــت او د راهبــانو او کشیشـانو د واکمنـۍ پـه نـوم هـیڅ نـه پیژنـدل؛ ځکـه، چـې اسـلام د علـم، پـوهې او ازادۍ دیـن دی. پوهـانو علـماو او مخترعینـو تـه پـه ځــانګړي مقــام او حیثیــت قایــل دی او د هغــوی د ارزښــتونو او ښـینګنو پـه اړه یـې ډېـرې لارښـوونې کـړې.د اسـلام مبـارک دیـن د الله ﷻ او د الله ﷻ د لــویې او عظمــت د پیژنــدنې پــه موخــه مسـلمانان د علـم زده کـړې تـه رابـولي او هغـوی دې تـه هڅـوي،چې دالله ﷻ پـه کاینـاتو او طبعیـت کـې ځیرنـو تـه رابللي دي.الله ﷻ پـه دې اړه فرمایلي دي: (مجادلې سورت ۱۱ )

يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ

ژباړه: او کله چې درته وویل شي، اوچت شئ؛ نو اوچت شئ، الله به ستاسو د هغو درجې لوړې کړي چې ایمان یې راوړی او هغه چې علم ورکړی شوی، او الله به هغه څه ښه خبر دی، چې تاسو یې کوئ.

(یونس سورت ۱۰۱) فرمایلي:

قُلِ ٱنظُرُواْ مَاذَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَمَا تُغْنِى ٱلْءَايَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠١﴾

ژباړه:... او هیڅوک نشي کولی چې ایمان راوړي مګر د الله په اذن، او پلیتي یې پر هغو تپلې چې تعقل نه کوي. »

په هر ترتیب، اسلام هغه دین دی، چې خپل پیروان د علم او پوهې زده کړې ته هڅوي او هغوی په کایناتو کې تفکر ته رابولي او هم د بشري ژوند د ټولو اړخونو لپاره احکام او برنامې لري؛ نو هیڅ دلیل شتون نه لري، چې دا وژونکی ویروس (سیکولریزم) د اسلامي نړۍ پاک بدن ته داخل شي.لومړی کس، چې دا ویروس یې اسلامي نړۍ ته ولیږداوه هغه د ( الاسلام و اصول الحکم) کتاب لیکوال علي عبدالرزاق و23. په دې کتاب کې په دروغو او افترا سره دا ډول دعوې کړې:

- اسلامي شریعت د روحي او عبادي احکامو مجموعه ده،چې له سیاست،حکومت او ټولنې سره هیڅ اړیکه نه لري.
- د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم جهاد او مبارزه یواځې د هیواد پراختیااو د حکومتونو تر لاسه کول وو.نه د الله ﷻ لپاره و او نه د دین دپراختیا لپاره.

---

- 23د تامل ځای دی، چې د سیکولریزم لومړي مخکښان له محسي اعرابو له ډلې ښځه و، چې د سورې په پروتستا کالج کې یې زده کړې کړې وې او وروسته مصر ته کوچېدلي و. د دوی مهمې څېرې عبارت دي له شمیل له (۱۹۱۷-۱۸۵۰) فرح انطون بورې له (۱۸۶۱-۱۹۱٤) جرجي زیدان (۱۸۵۲-۱۹۱۷)، یعقوب صوروف له (۱۸۸۷-۱۹۵۸) سلامه موسی او نیکولا حداد له (۱۸۷۸-۱۹۵٤) هغه لیکوالان و، چې د المقتطف،الهلال مجلې، چې په ترتیب سره په ۱۸۷۶ او ۱۸۹۲ کې تاسیس شوې وې ورته مقالې لیکلې او له دې ډلې بورې ترلي لیکوالان و.(ندای اسلام ش ۲۵ مخ ۳۷) مګر د عرب سیکولارنو وروستي پوهان له مسلمانانو ښځه و، چې علي عبدالرزاق (۱۸۸۸-۱۹۶۶) پورې یې ژوند کړی ددې نسل یوه مهمه څېره وه.نوموړي په الازهر او اکسفورډ کې زده کړې کړې وې او په ۱۹۲۵ کال یې الاسلام و اصول الحکم: بحث فی الخلافه و الحکومه فی الاسلام ) په نومونو یې کتابونه چاپ کړل،چې دا کتاب د اسلام په نوي تاریخ په یوه جنجالي کتاب بدل شو.هغه په دې کتاب کې دعوه کړې وه،چې د اسلام د سیاسي اصولو په نوم هیڅ شتون نه لري.

- د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم حکومتي سیستم یو پیاوړی او ثابت سیستم نه و.
- د خلیفه او حاکم د ټاکنې لپاره اجماع شتون نه درلود.
- دخلفای راشدینو حکومتي سیستم یو سیکولر او بې دینه سیستم و.24

په دې ډول د سیکولریز نهضت په اسلامي نړۍ کې تر نن ورځې دوام پیدا کړ او ټول اسلامي هیوادونه یې تر پوښښ لاندې راوستل. که چېرې اسلامي نړۍ ته نظر وکړو، احزاب او سیکولر شخصیتونه به مشاهده کړئ، چې په ټول صراحت سره د اسلامي شریعت په وړاندې ولاړ دي او مخنیوی یې کوي. د الله ﷻ دین یې په مساجدو کې ایسار کړی سیاسي، اقتصادي، تبلیغاتي، ښوونیزې او روزنیزې برخې ته د پراختیا مخنیوی یې کوي.

لنډه دا چې سیکولریزم یوه له پیاوړو وسیلو څخه ده، چې دا سلام دښمنانو ترې د اسلام په ضد د مسلمانانو( هغه کسان چې ځانته مسلمان وایې) په منځ ګټنه وکړه او تر ډېره حده بریالي هم شول.هیڅ داسې اسلامي هیواد نشته، چې هلته دې د اسلام ټول سیاسي، اقتصادي او ټولنیز قوانین په بشپړ ډول په د اجرا وړ وي؛ بلکې برعکس په اسلامي هیوادونو کې د شرعي قوانینو د اجرا او عملي کیدو بلنه او هڅونه یوه نابخښل کیدونکې ګناه ده، چې سخت مجازات له ځانه سره لري.

( حسبناالله و نعم الوکیل)

---

- 24. محمد عبدالقادر هنادي ( قلاع المسلمین مهدده من داخلها و خارجها) مخونه ۲۸۰ تر ۲۸۱

## د سیکولریزم د خپراوي وسایل:

سیکولریزم هم د لویدئخوالو د نورو تخریبي خوځښتونو په څیر یوه پیاوړې او ډېره فعاله وسیله ده. سیکولریزم داسې یو خوځښت دی، چې پښې یې په اسلامي ټولنه کې کلکې او راتلونکی یې د تل لپاره تضمین شوی دی. هغه وسیله، چې اساسات او اصول یې په اسلامي ټولنه کې په ځانګړي ډول د فرهنګیانو، زده کړیالانو په علمي او ښوونیزه برخه کې پراختیا موندلې.غوام، چې ګرانو لوستونکیو ته د سیکولریزم د خپراوي د وسایلو په اړه په لنډ ډول معلومات وړاندې کړم.

**رسنۍ:**

سیکولریستان په دې ښه پوهیږي، چې تبلیغاتي مرکزونه او ټولنیزې رسنۍ د عمومي افکار په لارښوونه او توجیه کې ځومره مهم نقش لري او همدارنګه د فکري، سیاسي، او حتی د خلکو په اخلاقي لارښوونو کې ځومره اغیزمن ثابتېدای شي.هغوی پوهیدل، چې رسنۍ د یوه فکر په وړاندې یا د یوه فکر ي مکتب څخه په ملاتړ د خلکو د موقف نیونې په برخه کې ډېر اغیزمن رول لري. هغوی له همدې امله ټول تبلیغاتي مراکز او ټولنیزې رسنۍ په خپل واک کې نیولي، چې د سیکولریزم دافکارو په خپراوي کې ترې ګټنه وکړي.

**ښوونه او روزنه**

لـه شـک پرتـه پـه هـره ټولنـه کـې ښـوونه او روزنـه، چـې بیلابیـل میتودونـه، برنـامې او بیلابیـل پړاونـه لـري، د هماغـې ټـولنې اساس او بنسټ ګڼـل کيـږي؛ نـو کـه چېرې د يـوې ټـولنې ښـوونيز او روزنيز نظام خپلو اهدافو تـه پـه رسـيدو کـې بريـالی وي، ټولنـه بـه هـم يـوه بريـالی او هوسـا ټولنـه وي، چـې خپلـو ارمـانونو،موخو او هيلـو تـه بـه ورسـيږي. بـرعکس کـه چېرې يـوه ټولنـه يـو ناکـام ښـوونيز او روزنيز نظـام ولـري طبعـي ده، چـې دا ټولنـه بـه هـم يـوه وروسـته پـاتې او کمزورې ټولنه وي.

نـو ويـلی شـو، چـې ښـوونيز او روزنيـز نظـام يـواځنی تکيـه ده، چـې کـولی شـو پـر مـټ يـې د اسـلامي امـت هويـت او شخصـت ورغـوو او هـم کـولی شـو، چـې د فـداکاره رهبرانـو، مومنـو پوهـانو او غيـورو او باايمانـه اشخاصـو د روزنـې لپـاره پـرې تکيـه وکړو.همـدا لامـل و، چـې سيکولريسـتانو خپـل ټـول ځـواک او دسيسـې پـه دې ټکـي متمرکـزې کـړې، چـې پـه اسـلامي هيوادونـو کـې ښـوونيز او روزنيـز نظـام پـه خپـل واک کـې ونيسـي- او د خپلـو شـومو موخـو لپـاره تـرې ګټنـه (اسـتفاده) وکـړي او پـه پايلـه کـې داسـې يـو نسـل وروزي، چـې پـه فکري لحـاظ پـه بشپړ ډول سـيکولر وي، نـه ديـن تـه پـه کـوم ارزښت قايـل وي او نـه هـم اسـلامي عقيـدې تـه کـوم اهميـت ورکړي.لـه ښـوونيز او روزنيـز نظـام څخـه د نـاوړه ګټنـې ځـو بيلګـې بـه پـه لانـدې ډول وړاندې شي:

- له سېکولریستي ښوونیزو او روزنیزو نظامونوڅخه ګټنې ته هڅونه.
- په ټولو زده کړییزو پړاونو کې د هلکانو او انجونو ګډې برخې اخیستنې ته پراختیا ورکول.
- د پردیو مدرسو او علمي مرکزونو زیاتوالی او په کې د ثبت نام لپاره د زده کړیالانو هڅونه او همدارنګه د دیني علومو د مدارسو تر فشار لاندې راوستل.
- د اسلامي او شرعي علومو د مدارسو په ښوونیزو برنامو کې د هغوی د پرمختګ او پراختیا په بانه لاسوهنه او په سیکولریستي مدرسو یې اړول.
- په تقدیرولو او ستایلو کې تبعیض ته قایلیدل، د بستونو او منصبونو رامنځته کول او د شرعي علومو او د نورو علومو د استادانو د حقوقو په ټاکنه کې تبعیض.

د پورته مطلب د روښانولو لپاره ډېر بېلګې شتون لري.زما له نظره هیڅ داسې اسلامي هیواد به نه وي ،چې له پورته یاد شوي تبعیض څخه په امان کې پاتې وي. اساساً د خلکو ډلبندي په دوه ډوله روحاني ( د دین خلک) او غیر روحاني ( د دین او سیاست خلک) شوې، حتی دا په خپله د تبعیض یوه ښه بېلګه ده. زه ( لیکوال)، چې کله زده کړیال ومه لیدل مې، چې د عربي ادبیاتو له استاد سره د یوه لیوني په توګه سلوک کیده او د هغوی په حق کې به هر ډول سپکاوی او ریشخند روا ګڼل کیده، خو د فرانسوي او نورو ژبو د استادانو په وړاندې چا د معمولي سپکاوي حق او

جرات نه درلود. په دقیقه توګه د اســتادانو د حقوقو او امتیازاتو په برخه کې هم همدې تبعیض شتون درلود.

هو! دا هغه حقیقت دی، چې موږ یې په اوسمهال کې هم وینو. د شرعي علومو یا د عربي ادبیاتو استاد ته د فزیک ریاضي، کیمیا او طب د استادانو د حقوقو د نیمایي په اندازه هم نه ورکول کیږي. تر دې چې د حسابدارۍ یو مسول په ټولنه کې له یوه فقهي یا د قرآن له حافظ نه لوړ مقام لري.

## د سیکولریزم نښې او پایلې:

په سـیکولریستي نظام د اسلامي ښـوونیز او روزنیز نظام بدلون له خانه سره د اهـدافو، برنـامو او قوانینو پـه برخـه کې ډیرې نـاخوالې او نـاوړه پیغـامونـه درلودل؛ اســلامي امت پـه دې بدلون سره د خوارۍ، ذلت او بدبختۍ سره مخ شــو. ددې ناوړه پایلو څو بیلګې په لاندې ډول وړاندې کوو:

- د فرهنګیانو او روڼاندو یوه پراخه ډله تر لاس لاندې نیول، چې له اسلام سره یې هیڅ ډول اشنایي نه درلوده او تر دې، چې د اسلام له اساسي ارکانو څخه بې خبره دي.
- د دین او دنیا د عالمانو په نومونو د اسلامي امت د عالمانو او پوهانو ویشل.
- د دین او دنیا د عالمانو تر منځ د اختلافاتو رامنځته کیدل.
- له اسلامي ښوونیز او روزنیز نظام څخه د ځوانانو زړه توري کیدل.
- د فرهنګیانو او روڼاندو د هیلو او د اسلامي امت د ارمانونو تر منځ پراخه واټن رامنځته کیدل.

- د اسلام له روښانه تاریخ سره د نوي نسل اړیکې پرېکېول او هم د مسلمانانو علمي، فکري او فرهنګي میراث لرې غورځول.
- په دولتي او قانون جوړونکیو ادارو کې د سیکولرانو نفوذ.
- د خلکو له لوري د دین د بې ارزښته ښولو او پر مسلمانانو د ملنډو وهلو جرائت موندل.
- په اسلامي امت کې د حقارت او سپکاوي عقده پیدا کېدل، چې نور خلک یې ددې خوارۍ او ذلت لامل شوي دي.

**سیاست:**

سیکولران له تیرو دوو پړاونو ( د اسلامي هیوادونو په تبلیغاتي مراکزو او په ښوونیز او روزنیز نظام حاکمیدل) تر شا پرېښول او د اسلامي هیوادونو په حکومتي او قانون جوړونکیو څانګو برلاسي کیدل؛ نو طبعي ده، چې په اسلامي هیوادونو کې به هغه سیاست پلي کوي، چې د دوی په نظر، ایمان او عقیده برابر وي.

هو! هغوی په اسلامي هیوادونو کې داسې سیاست پلي کوي، چې له اسلامي شریعت سره هیڅ اړیکه نه لريْ. هغوی سیکولریستي سیاست، چې د جان جاک روسو، لامرتین، افلاطون، لیون او نورو لویدیځو راهبانو او سیاستپوهانو په رایو او نظریاتو ولاړ دی پلي کوي.

نو د دریمې نړۍ ( اسلامي هیوادونو) د داخلي او بهرني سیاست، ټول اړخونه، نظریات او پلي کیدل په ټوله مانا یو سیکولریستي او اروپایې سیاست ته و رته دي ، چې ټول نصوص، مواد او د تطبیق ډول یې له لویدیځو هیوا دونو څخه رالیږدول شوي دي. (حسبناالله ونعیم الوکیل)

## قضايي او تشريعي مراكز:

مسلمانان د تاريخ په اوږدو کې پرته له اسلامي شريعت، اسلامي قانون، چې سرچينه يې قرآن او سنت دي له بل هيڅ شريعت او قانون سره بلد نه وو او هم په هيڅ زمانه کې پرته له اوسمهاله د اسلامي قانون څخه پرته د بل قانون په پلي کيدو خوښ نه وو. په اوسني وخت کې وروسته له دې، چې مسلمانانو اسلامي شريعت څنګ ته کړی او پر ځای يې کافرانه سيکولريستي قوانين هغه قوانين، چې له غير اسلامي عقايدو او باورونو څخه سرچينه اخلي او له غير اسلامي ټولنو څخه دلته راليږدول شوی پلي کوي. موږ ددې شاهدان يو، چې دې بدلون څه ناوړه پايلې په اسلامي نړۍ کې منځ ته راوړي دي، اوسمهال نه عدالت پلي کيږي، نه امنيت تامين شو، نه د خلکو عزت خوندي دی، نه د خلکو دين او عقيدې ته درناوی کيږي او نه د خلکو مال او شتمني خوندي ده، هر لور ته ظلم او فساد دی، بې عدالتي او خيانت دی، ارتداد او ناامني ده. د خلکو نواميس لوټل کيږي، په امانت کې خيانت کيږي، اسلامي هيوادونه اشغال شوي او انسانان په بدبختۍ او غلامۍ کې ژوند کوي.

( لاحول ولاقوت الا بالله)

## هنر، فرهنګ او فكر:

د اسلام دين د فرهنګ او ادب يا شعر او نثر په وړاندې هيڅکله سنګر نه دی نيولی. د اسلام سپيڅلی دين هيڅکله هم د شاعرانو په وړاندې نه دی دريدلی، د هغوی دروني استعدادونه د خيالي او ښکليو تعبيراتو په څرګندولو نه دي خپلي ؛ بلکې برعکس شاعران، اديبان او فرهنګيان يې هڅولي ،هغوی ته يې له نوبل جايزې څخه په کراتو کراتو قيمتي ډالۍ

ورکړي دي. اسلام له شعر څخه د اسلام په دفاع او هم د اسلامي اساساتو په خپراوي کې د يوې وسلې او وسيلې په توګه ګټنه کړې ده. تر ټولو مهمه دا چې خپله حضرت محمد ﷺ شعر ته غوږ نيوه او خوند يې ترې اخيسته. په دې اړه په صحيح مسلم کې له حضرت شريد (رض) څخه روايت دی،هغه وايي: ((زه په څلوربول باندې د حضرت محمد ﷺ شاته ناست وم رسول الله ﷺ وفرمايل: د اميه بن ابي صلت کوم شعر دې ياد دی.؟ ورته مې وويل هو! راته يې وويل، چې ويې وايه، ما د اميه يو شعر حضرت محمدﷺ ته وواية. رسول الله ﷺ وويل: ادامه ورکړه، ما ورته د اميه يو بل شعر وواية. بيا يې وويل، چې ادامه ورکړه، ما هم ادامه ورکړه تر دې چې د اميه سل شعرونه مې ورته وويل.)) لنډه دا، چې اسلام د فرهنګ او هنر په برخه کې څه کړي هغه دا دي، چې په دې برخه کې يې استعدادونو ته د غوړيدو زمينه برابره کړې ده. اسلام د شعر له قوت او ځواک څخه د اسلامي امت د ديني او ټولنيزو ګټو د خونديتوب په برخه کې ګټنه کړې ده . همدارنګه کله ،چې سکولريرستان صحنې ته داخل شول هغوی شعر په خپل واک کې واخيست او په ډېره ناوړه بڼه يې له شعر څخه د سيکولريزم د موخو لپاره ګټنه وکړه. هغوی د شعر او ادب اړيکه له دين سره پرې کړه او د شاعرانو مهار يې ازاد پريښود، چې هر څه په هر ډول يې، چې زړه وغواړي ووايي او الهي شريعت او د اسلامي امت ديني او فرهنګي ارزښتونو ته هيڅ ژمنتيا ونه لري. هغوی شاعران او اديبان د (هنر د هنر لپاره) اصل ته چې جوتيږه يې موسس دی رابلي[25].

[25] د عبدالباسط بدر مذاهب الادب الغربي ٦٤ مخ

جوتیه په دې عقیده دی، چې نه شو کولی شعر په ښه او بد تقسیم کړو؛ بلکې یواځې کولی شو، چې په ښایسته او بدرنګ یې تقسیم کړو. هغوی له شعر او ادب څخه د اسلامي عقیدې، اخلاقو او فرهنګ د تخریب لپاره ګټنه کوي او هم له شعر او ادب څخه د اخلاقي مفاسدو، فحشا او بې بندوباریو د خپرولو لپاره کار اخلي.

**روزنیز پلاوي:**

له شک پرته هغه زده کړیالان، چې په اسلامي هیوادونو کې په زده کړو بوخت دي سره له دې چې په پوهنتونو او سیکولریستي علمي مرکزونو کې د سیکولر استادانو تر نظر لاندې، د هغوی د برنامو او مقرراتو په چوکاټ کې زده کړې کوي؛ مګر هغه ټولنه، چې دوی په کې ژوند کوي او هغه خلک، چې دوی ورسره هره ورځ مخ کیږي مسلمانه ټولنه او مسلمان خلک دي، تر اوسه د هغوی په وجود کې اسلام ته درناوی محسوسیږي. دا ډله زده کړیالان په بشپړ ډول د اسلام له قیده نه دي ازاد شوي او د اسلام احکام یې تر اوسه هیر کړي نه دي؛ ځکه، چې اسلامي ټولنه یې پر فکري جوړښت، کړنو او سلوک باندې اغېز لري. همدا لامل و، چې د سیکولریزم طراحانو دا حقیقت وموند او د روزنیزو پلاو د لیږلو میتود یې تر لاس لاندې ونیوو. هغوی مسلمان زده کړیالان په اروپایي پوهنتونو کې زده کړو ته هڅوي.

که څه هم د اسلامي هیوادونو ښوونیز نظامونه د لویدیځو هیوادونو له ښوونیزو نظامونو سره چندان توپیر نه لري؛ مګر مسلمان زده کړیالان په بشپړ ډول له اسلامي ټولنې سره په متفاوته ټولنه او له مسلمانانو سره په بشپړ ډول په فکري، فرهنګي او د ژوند په کړنلاره کې له متفاوته خلکو

سره ژوند کوي.دا کړنلاره له سیکولرانو سره هغه هدف ته په رسیدو کې، چې غواړي د مسلمانو زده کړیالانو اخلاق، فرهنګ او فکر ته بدلون ورکړي مرسته کوي.

وروسته له دې، چې ښوونیزه او روزنیزه دوره یې پای ته ورسیده او ښوونکي یې ترې په بشپړ ډول ډاډه شول، چې هغوی درسونه ښه یاد کړي او خپل ماموریت یې ښه درک کړی.دا زده کړیالان، چې څنګه خپل هیواد ته وګرځي په مهمو قانون جوړونکیو او نورو حکومتي ادارو کې ګمارل کیږي او دوی هم په ټول اخلاص سره د سیکولریزم د اصولو په خپراوي او د ا سلامي ارزښتونو په مسخه کولو بوختیږي.

بلې! همدوی دي، چې د اسلامي هیوادونو مهمې څوکۍ یې اشغال کړي، د ښوونیز او روزنیز نظامونه، رسنۍ او نور تاثیر اچوونکې برخې یې تر خپل واک لاندې راوستي او د هغوی اصلي مالکان، چې اسلام او قرآن کریم پیروان او اهل فقه او بصیرت دي هغوی له دې کلیدي بستونو څخه لرې کړي دي.

## پوښتنې:

د علمانیت کلیمه څه شی الهاموي او حقیقي مانا یې څه ده.؟

علي عبدالرزاق په خپل کتاب ( الاسلام و اصول الحکم) کې دعوه کړې، 01چې اسلامي شریعت د انساني اعمالو په اړه د احکامو ټولګه ده، چې له سیاست او حکومتوالۍ سره هیڅ اړیکه نه لري، ووایې، چې ددې ادعا خواب څه دی.؟

سیکولر ښوونیز او روزنیز نظام ډېرې ناوړه منفي پایلې درلودې له هغې څخه څلور ولیکئ.

اسلامي هیوادونه د وضعي قوانینو تر اجرا وروسته له کومو مشکلاتو سره مخ شول.؟

لاندې رایې او افکار وشنئ.

الف) شعر او ادب نه شو کولی، چې په ښه او بد وویشو.

ب) د حضرت محمدﷺ جهاد د فتوحاتو او هیواد پراختیا وه او بس.

# اتم درس

## د نژادي تعصباتو ژوندي کول او د نژادپالنې (ناسونالیزم) شعارونه ورکول:

د نژاد پالنې تعریف: له نژاد پالنې څخه موخه په خپل قوم ویاړ کول دي ،په دې باور، چې زما قوم یا نژاد تر ټولو غوره دی او همدا زموږ او نژاد د حکومت کولو حق او وړتیا لري.26 د نژاد پالنې د غوره بېلګې په توګه کولی شو د المان نازیان یاد کړو، چې هر چیرته یې له ځانه سره ( د غوره المان) شعار لیږداوه.ددې مفکورې تر ټولو ستر رهبر هټلر و، چې د نژاد پالنې د تحقق لپاره یې ډېرې هڅې وکړې او غوښتل یې، چې نړۍ د المان له ګټو قربان کړي.

کله، چې اسلام له پراخه تبلیغ سره صحنې ته داخل شو دقیقا دا داسې مهال و، چې د نژاد پالنې مفکورې او ناسونالیستي خوځښتونو انساني ټولنه ټوټه ټوټه کړې او د ټولنې د یووالي رسۍ یې شلوې وه، چې له امله یې خلک له بدبختیو او کړاونو سره لاس و ګریوان ول.مګر د اسلام په پراخه دعوت، د الله ﷻ په احسان، حضرت محمدﷺ د رهبرۍ او د اسلامي لارښوونو او مخلصو دعوتګرو د دعوت له برکته دا ټول ځنځیرونه او د نژاد پالنې قیدونه مات شول او اسلام یوه داسې ټولنه رامنځته کړه، چې په تاریخ یې بېلګه نه شو موندلی.داسې یوه ټولنه، چې په کې د نژاد پالنې فکر په ټوله مانا له منځه یوړل شو او خلک په اسلامي عقیده کې ویلي(ذوب) او ټول د یوه انسان په بڼه را څرګند شول.داسې ټولنه، چې

---

[26] الموسوعه المیسره فی الادیان و المذاهب المعاصر) مخ ۴۰۱

کې د نژاد، رنګ او ژبې شعارونه له منځه يوړل شول او پر ځای يې د وروولی او يووالي شعار حاکم شو، هيڅ انسان په بل انسان لوړوالی نه درلود يواځې د ايمان او نيک عمل برتري وه.په دې ترتيب ټول انسانان عربان، فارسيان، حبشيان، روميان، هنديان، چينايان، قبطيان، سپانويان، اندونيزيان او افغانان يو ملت شول. الله ﷻ يې يو،ل ارښود يې يو، قبله او کتاب يې يو ول .په دې ډول نژادونه او مليتونه يې هير کړل او ټولو يوه شي يانې اسلامي عقيدې ته ارزښت ورکړ او همدا يې د دوستی او دښمنی اساس وګرځاوه.

بلې! دا يو حقيقت دی هغه کسان، چې لا مو دوستان شوي نه وو او په دښمنی راسره اخته وو دا ډول منښته يې کړې وه.

فليپ وايې: ((له شک پرته اسلام د مسلمانانو تر منځ دوستي او محبت رامنځته کړی دی.اهداف يې يو کړي او نوی شعار يې ورته رامنځته کړی، چې په حقيقت کې دا د دوی ملي ارمانونو ته د رسيدو لپاره يوه په زړه پورې او لنډه لاره ده.کينه او رخه يې د دوی له منځه ويستې ده.هغه قومونه ،چې سره په خپلو کې ښکيل وو بيرته سره يو شول او د عربانو لپاره يې يو نوی خواک جوړ کړ)).27

ويترخت کشيش په خپل ګزارش کې چې په ۱۹۱۱ کال يې د لکهنو د تبشير کنفرانس ته جوړ کړی داسې ويلي ((بايد يادونه وکړم، چې اسلام که څه هم د قومونو او ملتونو دين دی، چې د تمدن او پرمختګ په لحاظ له موږ وروسته پاتې دی؛ خو بايد دا ومنو، چې هغوی (مسلمانان) د

27 الحرقه الفكريه ضد الاسلام،مخ ١٦٩

مسیحیانو په پرتله د نژادي او قومي شخړو په له منځه وړلو کې ډېرې لاسته راوړنې لري.))

ګوستاف لوبون وایي: ((دا مهال له سل میلیونه ډېر مسلمان وګړي په نړۍ کې شته. عربو جزیره، مصر، سوریه، کوچنۍ اسیا، د هند د لوی وچې لویه برخه، روسیې ، چین او ټولې افریقا اسلام د دین او عقیدې په توګه منلی دی. دې ټولو ملتونو قرآن کریم د ژوند د برنامې او قانون په توګه قبول کړی. عربي ژبه یواځې د دوی د اړیکې وسیله ده. د نړۍ له هر ګوټ نه باید حاجیان مکې مکرمې ته د حج لپاره لاړشي.د محمدﷺ پر ټولو پیروانو د امکان تر حده په عربي ژبه د قرآن کریم تلاوت لازم دی. عربي د نړۍ د نورو ژبو په پرتله ډېره رواج ده.مسلمانان سره له دې، چې له بېلابیلو قومونو او نژادونو څخه دي؛ خو تر منځ یې عجب یووالی شتون لري.داسې یو انسجام او یوځای والی، چې د بل هیڅ بیرغ اوشعار لاندې یې موجودول شوني نه دي.))28

هغه اصول او اساسات، چې مسلمانه ټولنه پرې ولاړه ده:

هغه نمونه یې ټولنه، چې اسلام یې بنسټ ایښی په ډېرو کلکو اصولو او بنسټونو ولاړه ده، چې په لنډ ډول یې لاندې یادونه کوو.

پر الله ﷻ ایمان او باور درلودل او د ژوند په ټولو اړخونو کې د الله ﷻ اوامرو او نواهیو ته تسلیمدل.

28 الحرکه الفکریه ضد الاسلامیه،مخ ۱٦۹.د یادونې ده،چې کوم ارقام،چې دې مستشرق د مسلماني ټولنې په اړه یاد کړي دا دده په وخت پورې اړه لري.نن ورځ په نړۍ کې د مسلمانانو شمېر له زر میلیونه څخه لوړ دی.(لیکوال) دا ارقام هم د بناغلي لیکوال په وخت او زمانې اړه لري کنه اوسمهال په نړۍ کې د مسلمانانو شمېر له یو میلیارد او اته سوه میلیونه په شاو خوا کې دی (ژباړن)

ددې اصل پر بنسټ د احساس او شعور رامنځته کول، چې د هر شي خالق الله ﷻ دی او ټول یې له یوه شي پیدا کړي او باید د قیامت په ورځ د الله ﷻ په وړاندې حاضر شو.

(د حج سورت ۵ ایات)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّنَ ٱلۡبَعۡثِ فَإِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ

ژباړه: پرده لام شوي، چې څوک ورسره دوستي وکړي؛ نو هغه به یې بې لارې کړي او د دوزخ د عذاب په لوري به یې بوځي.اې خلکو که د بیا ژوندون په اړه په شک کې یئ ؛ نو موږ خو له خاورې را پیدا کړئ، بیا له نطفې،

( حجرات سورت ۱۳)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ ﴿١٣﴾

ژباړه: اې خلکو! ما تاسې له سړي او ښځې څخه، چې (ادم او حوا) نومیږي پیدا کړي یاست.

ددې باور شتون، چې ټول انسانان د الله ﷻ بنده ګان دي او باید یوه ورځ هغه ته حساب او کتاب ورکړي.

(مریم سورت ۹۵ایات)

وَكُلُّهُمْ ءَاتِيهِ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ فَرْدًا ﴿٩٥﴾

ژباړه: او هريو به د قيامت په ورځ يوازې يوازې ورشي.

د ( حجرات سورت ۱۳ ايت) په اصل سره د انسانانو تر منځ د برترۍ د معيار ټاکنه.

اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ اَتْقٰكُمْ

ژباړه: په تاسې کې د الله ﷻ په وړاندې عزتمن هغه څوک دی، چې پرهېزګاره وي.

## نژاد پالنې د تفکر په خپراوي کې د دښمنانو کړنلارې:

کله، چې د اسلام دښمنانو په صليبي جنګونو کې د اسلامي ټولنې د له منځه وړلو په موخه حرکت وکړ، ناڅاپه د اسلامي وروروليٰ او د اسلامي امت د ديني يووالي له کلک ديوال سره مخ شول.هغوی دې پايلې ته ورسيدل، چې له دې ديوال څخه د تيريدو يواځنۍ لاره ددې ديوال نړول دي.همدا و، چې د نړۍ په هر ګوټ کې يې د نژاد پالنې او قوم پالنې شعارونه را ژوندي کړل.

په ترکيه کې يې د (طورانيت) نژاد پالنه را ژوندۍ کړه. هغوی ترکان دې ته وهڅول، چې ځانونه سيدان،د انسانيت سالاران او د تاريخ معجزه راوړونکي تصور کړي. عربان يې دې ته وهڅول، چې له لاسه تللی عظمت بيرته له ترکانو تر لاسه کړي ؛ځکه، چې عربان ځان اهل نبوت، د اسلام مرکز او خپله زمکه يې د نور او لارښوونې مرکز باله؛ که څه هم ددې خبرو په رښتينولۍ کې هيڅ شک نشته؛ مګر په حقيقت کې ددې شعارونو تر شاه لوی خطر پټ دی. له همدې امله شريف حسين له عثماني خلافته د

عربانو د بېلوالي مسله مطرح کړه او ددې هڅې د تعقيب په موخه يې په عربي ټولنه کې بېلابېل نهضتونه او خوځښتونه رامنځته کړل ،چې پر مټ يې د عربانو يووالی يو ځای والی له منځه يوسي. په مصر کې فرعونيت بيا را ژوندی شو.هغوی د هغه، سياسي احزابو، خوځښتونو په مټ، چې د نژاد پالنې په نوم جوړ شوی وو لاس په کار شول. د هغوی په ملاتړ جوړ شويو احزابو خلک له ژبې، وطن، تاريخ او ګډو ګټو له نوم څخه په ګټنې د نژادپالنې لور ته راوبلل. هغوی په دې برخه کې دين د خپلو برنامو له قاموس څخه وويست او دا حزبونه يې په ټوله مانا پياوړي کړل تر دې ، چې وتوانيدل، چې خپلو ډېری هيلو،م وخو او ارمانونو ته، چې په سر کې يې د اسلامي امت يووالی او انسجام و له منځه يوسي. هغوی د اسلامي امت په منځ کې داسې ډلې ټپلې جوړې کړې، چې اسلامي امت يې له داخل څخه وخوړ او ټوټه ټوټه يې کړ.

- **د احزابو او سازمانونو بېلګې:**

د عربو دولتونو اتحاديه، چې مستقيما د انګريزانو تر نظر لاندې جوړه شوه. هغوی ددې اتحاديې په جوړو سره په دې هڅه کې و، چې په ټولو عربو حاکميت پيدا کړي او هم د هغه اسلامپالو هڅو د مخنيوی وکړي، چې غوښتل يې بيرته اسلامي يووالي ورغوي.29

۲. د **بعث ګوند**: دا يو بشپړ نژادپاله ګوند وو. دا ګوند ،ميشل عفلق، چې لوی متعصب او کينه ګر انسان و په سوريه او عراق کې تاسيس کړ.

[29] حصوننا مهدده من داخلها د محمد محمد حسين مخ ۱۳۵ - ۲۳۳

۳. **د قحطاني سازمان:** ددې سازمان مشهور جوړوونکی خلیل حماده دی. دې سازمان په۱۹۰۹ز کال خپل موجودیت اعلان کړ. د یادونې ده، چې دا یواځې د نژادپاله ګوندونو څو بېلګې وې.دېرې نور ګوندونه هم شته، چې د نژادپالنې په اصولو د ښکیلاکګرو له لوري جوړ شوي دي.[30]

٤. **لرغونپيژندونکي ټولنې:** صلیبیانو د یادو ګوندونو او سازمانونو تر څنګ د لرغون پیژندونکو ټولنو په جوړولو هم لاس پورې کړی.یوه یهودي پانګوال د فراعنه اثارو د یوه موزیم او د لرغون پیژندنې د یوه پوهنتون په جوړولو لس میلیونه ډالر لګولي دي.

د جب په نوم یو ختیځپژوندونکی داسې وایې: ((په ربښتیا، چې په اسلامي هیوادونو کې د ویجاړۍ مهمه وسیله د ( لرغوني تمدن ژوندي کول) دي. دا پیښې په همالیه، ترکیه، مصر، ادونیزیا، عراق او ایران کې په بشپړ ډول د مشاهدې وړ دي. په اسلامي نړۍ کې ددې پدیدې شتون ممکن له اروپا سره د دښمنۍ اور ته لا لمن ووهي؛ خو باید په دې پوه شو، چې دا پدیده به په اسلامي نړۍ کې د نژادپالنې د روحیې د پیاوړتیا په برخه کې د پام وړ نقش ولوبوي.

په دې ترتیب د هغوی غوښتنې، هیلې او اهداف، چې په اسلامي نړۍ کې د نژادپالنې روحیه پیاوړي کول و تر سره او په پایله کې یې اسلامي امت تیت و پرک او داسلامي امت مسلمان بچیان له یو بل جدا شول.

---

[30] الموسوعة الميسرة فى الاديان و المذاهب المعاصرة ، مخ ۴۰۱-۴۰۲

## پوښتنې:

نژاد پالنه تعریف او د دیني ارشاداتو په رڼا کې یې تر نیوکې لاندې ونیسئ.

هغه اصول او اساسات، چې اسلامي ټولنه پرې ولاړه ده نمونه یې واخلئ او ووایې، چې اسلام څنګه وکولای شول، چې ددې اصولو پر مټ د نژادپالنې ریښې د تل لپاره وچې کړي؟

هغه قومونه او نژادونه، چې په ترکیه، سوریه او مصر کې یې ژوندي کړل نومونه یې واخلئ.؟

د لاندې سازمانونو او ګوندونو بنسټ ایښودونکي څوک و؟

د بعث ګوند.د عربي هیوادونو اتحادیه.د قحطاني سازمان.

۵. یاد شوي سازمانونه او ګوندونه په کومو کلونو کې تاسیس شوي دي؟

# نهم درس

## د قانون جوړونې او تصمیم نیونې په مراکزو حاکمیت

مسلمانان په دې کلک ایمان او باور لري، چې مطلق حاکمیت د الله ﷻ صفت دی. که تاسې د نړۍ په هر ګوټ کې له یوه مسلمان وپوښتئ، چې مطلق حاکمیت د چا دی، په صراحت به درته ووايي، چې مطلق حاکمیت یواځې او یواځې د الله ﷻ دی او بس. دا هغه حقیقت دی، چې د تاریخ په اوږدو کې مسلمانانو پرې ایمان لرلی او په همدې ایمان او باور خپل ژوند ته دوام ورکوي او همدا حقیقت یې د سیاسي، دیني او عقیدتي مسایلو اساس او بنسټ دی. الله ﷻ په دې اړه داسې فرمایلي دي: (نسا سورت. ٦٥ ایات)

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾

ژباړه: نو نه، ستا په رب قسم چې تر هغه یې ایمان نه دی راوړی، چې تا په خپلمنځیو شخړو کې حکم ونه ګرځوي، بیا ستا د پرېکړې په اړه په خپلو زړونو کې تنګوالی ونه مومي او په بشپړه توګه تسلیم نشي.

مسلمانان په دې باور دي، چې له اسلامي شریعت پرته د هر ډول قوانینو حاکمیت په ارتداد او منافقت کې شمېرل کیږي او دا د منافقینو له لویو نښو څخه یوه ده.

(د سورت نسا ٦١ ایات)

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا ﴿٦١﴾

ژباړه: آیا هغه دې ونه لیدل، چې ګمان کوي هم پر هغه څه ایمان لري، چې پر تا نازل شوي او هم پر هغه څه، چې تر تا د مخه نازل شوي؛ خو غواړي، چې د تحاکم لپاره طاغوت ته ورشي، حال دا چې ورته امر شوی، چې له هغه به انکار کوي او شیطان غواړي، چې په ژوري تېروتنې سره یې تېر باسي.

په دې ترتیب کله، چې د اسلام دښمنانو په اسلامي هیوادونو فکري او فرهنګي یرغل راوړ؛ نو دې حقیقت ته یې پام شو، چې مسلمانان په کلکه له الهي شریعت او اسلامي قوانینو پیروي کوي او په هیڅ ډول په دې نه دي راضي، چې وضعي قوانینو ته غاړه کېږدي.همدا و، چې له ډېر سوچ او فکر وروسته دې پایلې ته ورسیدل، چې تر هغې یې الهي شریعت او اسلامي قوانین د مسلمانانو له منځه نه وي ویستي د دوی د بریا بله هیڅ لار شتون نه لري.او دې هدف ته د رسیدو لپاره پرته له دې، چې د اسلامي هیوادونو په تشریعي او قانون جوړونکیو ادارو حاکمیت پیدا کړي بله هیڅ لار نشته؛ نو خپل ټول امکانات یې په کار واچول، چې په هر ډول وي باید دې هدف ته ورسیږي.البته پام مو وي، چې موخه یې یواځې د مسلمانانو له منځه د اسلامي شریعت ویستل نه وو؛ بلکې موخه یې دا هم وه، چې د اسلامي ژوند ټول نظامونه او برنامې د خپلو اهدافو په خدمت کې راولي، چې په دې وسیله هر هغه شی، چې په اسلام پورې تړاو لري لکه د قانون جوړونې سیستم، اقتصادي، اجتماعي، ښوونیز او روزنیز نظامونه

او نور د مسلمانانو د ټولنیز ژوند له پاڼې او هم د اسلامي هیوادونو د حکومتوالۍ له سیستم څخه په بشپړ ډول محوه کړي.

دا چې علوم، اسلامي معارف او شرعي احکام، چې علماو، پوهانو او ددې ملت د سلف صالحین له لوري له یوه نسل څخه بل نسل ته لیږدول شوي او د تاریخ په اوږدو کې یې د مسلمانانو ژوند د قرآن د پلوشو او نبوي سنتو په رڼا کې ترسیم کړی، دا علوم او شرعي احکام په پاڼو او لرغونو کتابونو کې محبوس (زنداني) شوي او له هغوی واخلې د فرهنګي میراث او لرغونو اثار په توګه ګڼنه کیږي. که کله هم په حقوقي، اقتصادي او سوداګریزو پوهنځیو کې تدریسیږي هم داسې بې روحه او بې ګټې تدریس یې ترسره کیږي، چې ټول ترې ناخوښه او بیزاره کیږي او د یوه داسې شي په توګه یې ښکاره کوي، چې ګویا د دنیا په ژوند کې ترې هیڅ ډول ګټنه نه کیږي.

## په ښوونیز او روزنیز نظام کې نفوذ او له هغې ګټنه:

په تیرو درسونو کې مو د ښوونیز او روزنیز نظام د اهمیت په اړه ګرانو لوستونکو ته د پام وړ معلومات وړاندې کړل. ومو ویل، چې ښوونیز او روزنیز نظام د هر ټولنې د بنسټ ډبره ده او هره ټولنه هڅه کوي، چې په مټ یې خپل حال او راتلونکی وټاکي. هر ملت په دې هڅه کې دی، چې له خپل ښوونیز او روزنیز نظام څخه ساتنه وکړي او د پرمختګ لپاره یې لاس په کار شي. مسلمانان په دې برخه کې دې ټکي ته په پام سره، چې اسلام د علم او پوهې دین دی او خپلو پیروانو ته د علم د حاصلولو لارښوونه او سپارښتنه کوي، له نورو ملتونو څخه د تل لپاره یو قدم وړاندې وو. له همدې امله کله، چې د لویدیځ له لوري د مسلمانانو په ضد فکري جنګ پیل شو، دهغوی یوه بنسټیزه موخه دا وه، چې د مسلمانانو ښوونیز او

روزنیز نظام په خپل واک کې ونیسي او په دې سره د ښکیلاګګرو پایښت او د لارې تداوم یې تضمین کړي.
دوی د مسلمانانو په ښوونیز او روزنیز نظام واک وموند، نوې درسي برنامې یې ولیکلې، له نویو استادانو، کتابونو او حتی نویو ژبو څخه یې د مسلمانانو په مدارسو کې ګټنه وکړه. تر دې، چې له دې برنامو اوددې برنامو د پلي کولو له ډول څخه د نظارت په موخه یې ځانګړې ادارې تاسیس کړې.
د پورته مطلب روښانه دلیل دا دی، چې په ټولو اسلامي هیوادونو کې د ښوونې او پالنې وزارتونه _ الاماشاءالله_ د خپلو برنامو د پرمختګ لپاره د امریکایې، فرانسوي، انګلیسي او ایټالوي پوهانو او تیوریستانو له نظریاتو څخه ګټنه کوي، چې ډېری یې یهودي او صهیونیستي مشاورین او د اسلام نور سرسخته دښمنان دي. په ټولو هغو قراردادونو او معاهدو کې، چې د اسلامي هیوادونو د روزنې او پالنې وزارتونو له لوري له غیر اسلامي هیوادونو سره کیږي دا قید په روښانه ډول تر سترګو کېږي، چې د اسلامي هیوادونو علمي او ښوونیزو ادارو ته به بهرني استادان او برنامې، چې د غیر اسلامي اصولو او افکارو په بنسټ جوړې شوي لیږل کیږي. دادی ګورو، چې ددې خاینانه قراردادونو له امله د اسلامي امت بچیان، د امت صالحین او د اسلام مخلصه بچیان له اسلامي ښوونې او روزنې لرې ساتل شوي او احیاناً که چېرې په دنده وهم ګومارل شي تر فشار لاندې به د انزوا په حالت کې وخت تیروي. په هیڅ مسله کې به د نظر د ورکولو حق ونه لري، تر دې، چې په ښکاره له قرآن، سنت او الهي شریعت د احکامو خلاف تصمیم نیونې پر مهال به هم د هیڅ ډول نیوکې حق ونه لري؛ خو

هغه استادان، چې له اروپايي هيوادونو څخه دلته راليږل شوي د مسلمانانو اولادونو ته په اروپايي ژبو زده کړه ورکوي.

په هر ترتيب ددې احتمال شته، چې د قرآن ژبه به په ټوله مانا د اسلامي هيوادونو له ښوونيز او روزنيز نظام څخه وويستل شي، چې په دې سره به اسلامي نړۍ د اړيکو يوه مهمه وسيله، چې ټوله اسلامي نړۍ ترې په خپلو کې ګټنه کوي له لاسه ورکړي او لويديځوال به خپلې اصلي موخې ته، چې په ټوله مانا په لويديځوال سبک د مسلمانانو د نوي نسل روزنه او د خپلو ښکيلاکګرو موخو د سمبالښت په موخه په خدمت ګمارنه ده ورسيږي. هغوی په دې برخه کې له ډېرو ميتودونو څخه کار اخلي، چې په لنډ ډول يې دلته يادونه کوو.

- د پرديو ژبو لمانځل او هغه درسي او تدريسي ژبې ګرځول:

هغوی خپلې ژبې د ټولو اسلامي هيوادونو _ الا مَاشاءالله_ پر ښوونيزو او روزنيزو نظامونو تپلي؛ يانې د ټولو اسلامي هيوادونو په اکاډميو او پوهنتونونو کې تدريس په انګريزي او يا فرانسوي ژبو ورکول کېږي. يواځې سوريه ده، چې په ټولو علمي څانګو لکه طب،انجينري او... او هم په غير علمي څانګو لکه تاريخ، جغرافيه او ادبياتو کې يې تدريسي ژبه عربي ده.البته د نورو هيوادونو لکه ليبيا، الجزاير، ايران، تونس او پاکستان هم په دې برخه کې خپله هڅه کړې؛ خو بسنه نه کوي او ددې کار دوام پياوړي عزم او ارادې ته اړتيا لري.

## • د فکري جنګ له موخو سره د ځينو درسي موادو بدلون:

**تاريخ:** په ښوونيز او روزنيز نظام کې تاريخ يو مهم درسي مواد دی. هغوی تاريخ په ټوله مانا د خپلو موخو سره سم تدريسوي؛ يانې د اسلام د تاريخ څېره بده ښايې او پر ټولو مثبتو اثارو او ګټورو لاسته راوړنو يې سترګې پټوي او په وړاندې يې د اروپا تاريخ د ځمکې په سر د بشر د تر ټولو لويې لاسته راوړنې په توګه خلوي.د بېلګې په توګه په ۱۷۹۸ کال د فرانسې له لورې د ناپلئون بناپارت په مشرۍ په مصر بريد د مسلمانانو زده کړيالانو لپاره د مصر د يو ستر برې په توګه خلوي او ددې حقيقت له بيان څخه، چې هغه په ټوله مانا يو صليبي بريد و او موخه يې د علم او پوهې د مرکز او د نړۍ د علماو د قبلې له منځه وړل و ځان ساتي.[31]

• د يو شمېر هغو شرعي نصوصو له منځه وړل، چې په کې د اسلام د دښمنانو له دسيسو پرده پورته شوې.

په دې برخه کې يوه تر ټولو ډېره خطرناکه دسيسه داده، چې امريکا هڅه کوي، هغه شرعي نصوص له منځه يوسي، چې په کې له يهودو سره د

---

31 په دقيق ډول په مصر د ناپليون بريد د فرانسې له لوی انقلاب څخه نهه کاله وروسته ترسره شوې.د فرانسې لوی انقلاب چې ۱۷۸۹ کال کې رامنځته شو،د فرانسې په مادي او مانيزژوند کې لوی بدلون راوست او د صنعت،چاپ او رسنيو په برخه کې د ستر بدلون لامل شو او د تبليغاتو يو نوی باب يې پرانيست. په دې بريد کې د فرانسې رسنيو د فکري او رواني جنګ په اجرا کې مهم نقش ولوباوه،ناپليون بناپارت له موقع نه په ګټنې سره ددې لپاره چې د مصر خلک په ځان رامات کړي په ځان يې ( اسلام مرستندوی) لقب کېښود او د فکري جنګ له بيلابيلو ميتودونو څخه يې ګټنه وکړه. ( فارسي ژباړن)

دښمني او د هغوی د اوصافو بیان شوي.د مصر هیواد د ډیوډ کمپ له خاینانه معاهدې وروسته ددې طرحې د منلو لپاره تیاری ونښود. له مصر وروسته یو شمېر نورو هیوادونو هم د مصر په پل پل کېښود، تر دې، چې د یهودو ددې موخې د ترلاسه کولو په برخه کې چټک ګامونه هم پورته کړي.

- **د جغرافیې د تدریس په وسیله په مسلمانانو کې د بېلتون رامنځته کول:**

یو مهم درسي مواد، چې د صلیبي موخو لپاره ترې ډېره ګټه کیږي هغه د جغرافیې مضمون دی. جغرافیه د اسلامي هیوادونو په مدرسو کې د مسلمانانو تر منځ د بیلتون د رامنځته کوو په موخه تدریسیږي. د بېلګې په توګه د مسلمانو هیوادونو تر منځ د پولو ټاکل په ټوله مانا یوه صلیبي پروسه ده او موږ هم ددې پر ځای، چې په وړاندې یې غبرګون وښایو، چې دا یوه تحمیلي چاره ده او په دیني او عقیدوي لحاظ ناروا عمل دی برعکس په شوق او ذوق سره یې د یوې شرعي او قانوني موضوع په توګه پې بحث کوو او د مسلمانو هیوادونو تر منځ د پولو په ساتنه ټینګار کوو او د وطنپالنې دا شعارونه، چې زموږ خاوره ،زموږ وطن، زموږ سرحدات...) د زده کړیالانو په مغزو کې کینوو په داسې حال کې، چې دا ټول شعارونه باطل او ناروا دي. په دې برخه کې ډېرې بېلګې شته، چې ددې لیکنې له حوصلې بهر دي؛ نو دلته په همدې څو بېلګو بسنه کوو. (حسبناالله ونعم الوکیل)

د داسې فرهنګي او روزنیزو بنسټونو او سازمانونو جوړول، چې صلیبي اهداف د ښوونیز او روزنیز نظام په لارښوونه توجیه کوي.

په دې برخه کې تر ټولو خطرناکه اداره د یونسکون ( دښوونې، روزنې او فرهنګ) سازمان دی. یونسکو په اصل کې د ملګرو ملتونو د سازمان (چې له اسلام سره یې له دښمنۍ انکار ناشونی دی) یوه څانګه ده. یونسکو په بشپړ ډول د لویدیځ موخو ته کار کوي.کله، چې ددې سازمان سرپرستي یوه مسلمان، چې مصطفی ابو نومیده او د سنیګال هیواد اوسیدونکی و په لاس کې واخیسته، غوښتل یې چې د یونسکو یوشمېر فعالیتونه داسلام او مسلمانانو په ګټه رهبري کړي، سمدلاسه له خپل موقف څخه لرې او پر ځای یې یو صلیبي، چې د اسپانیا استوګن وو په دنده وګوماره.
د یونسکو بل فعالیت د اسلامي پوهنتونو په برنامو کې لاسوهنه او د لویدیځوالو د نظریو او تحمیل کول دي.که کوم پوهنتون وغواړي، چې خپله فکري ازادي وساتي او د هغوی له برنامو پیروي ونه کړي، یونسکو هغه پوهنتون په رسمیت نه پیژني. البته په دې برخه کې یو شمېر سازمانونه، چې د اسلام په نامه کار کوي او په حقیقت کې د اسلامي سازمان د کنفرانس څانګې دي؛ خو د وخت په تیریدو سره هغه هم د یونسکو تر تاثیر لاندې راغلي او اوسمهال د تصمیم نیولو او د داسې برنامو په جوړولو کې، چې په اسلامي روحیه سنبالې او د مسلمان امت په خیر هیڅ ډول خپلواکي نه لري.

# لسم درس

## په رسنیو واک او ترې ګټنه:

ډېری سیاستوال او د ستراتیژیکو مطالعاتو کارپوهان رسنۍ د دولت څلورمه قوه بولي؛ یانې پر مقننې، قضایې او اجرایې قویې سربېره رسنۍ د څلورمې قوې په توګه شتون لري. ځینې پوهان او سیاسي مفکرین رسنۍ په حکومت کې لومړۍ او مهمه قوه ګڼي، ځینې بیا رسنۍ په حکومت کې ځواکمنه او چټکه قوه بولي؛ یانې که یو څوک رسنۍ په لاس کې ونیسي کولی شي، چې نور ځواکونه هم په ډېرې اسانۍ سره تر واک لاندې راولي او د خپلو موخو لپاره یې وکاروي.

له همدې امله موږ د رسنیو او تبلیغاتي وسایلو په اهمیت او د ټولنیزو رسنیو په ځواک او په ټولنه یې د تاثیر په اړه خبرې کوو. لویدیځوال د تبلیغاتو او رسنیو د ځواک په مټ خپل افکار په دریمه(اسلامي)نړۍ تحمیلوي. د اسلام بنسټیزې خبره بده څلوي، چې موخه یې له اسلام سره د لویدیځو ملتونو کرکه پیدا کول دي. باید په دې وپوهېږو، چې هغوی په لویدیځو هیوادونو کې یواځې د اسلام د څېرې په تخریبولو بسنه نه کوي؛ بلکې هڅه کوي، چې خپل زهرجن افکار او خپله اخلاقي ککړتیا د رسنیو له لارې اسلامي هیوادونو ته ولېږدوي.

دا باید ومنو، چې رسنۍ د فکري جنګ د نورو ابزارو لکه پوهنتونونو او مدرسو په پرتله په کراتو کراتو خطرناکې او موثرې دي؛ ځکه، چې مدرسې او پوهنتونونه د ټولنې د ځانګړي قشر؛ یانې خوانانو او زده کړیالانو د رجوع ځایونه دي؛ مګر ټولنیزې رسنۍ، تبلیغاتي ابزار او وسایل له کتابونو نیولې تر ورځپاڼو، مجلو، راډیو، تلویزون، سینما... د ټولنې ټول وګړي لکه زده

کړیالان، لوستي، نالوستي، واړه، زاړه، ښځه، نر، ښاري، کلیوالي، شتمن، بېوزله، فرهنګي او غیر فرهنګي ګوري.[32]

کله، چې رسنۍ تر دې بریده موثرې او مهمې دي؛ نو څوک یې چې په واک کې لري هغوی په ټوله مانا د یوې ټولنې د فکري او اخلاقي لوري په ټاکلو کې د واک او څواک خاوندان دي.دلته وینو، چې رسنۍ خلک له یوه فکر څخه د ملاتړ لپاره او یا له یوه فکر سره د مبارزې لپاره پرته له دې چې د حق او باطل په اړه یې فکر وکړي میدان ته را باسي.دا هغه څه دي، چې صلیبیان او یهودیان یې په اسانۍ سره په اسلامي نړۍ کې اجرا کوي.

هغوی ټولنیزې رسنۍ او تبلیغاتي وسایل په خپل واک کې اخیستي او د خپلو اصولو او ویجاړونکو برنامو لپاره ترې ګټنه کوي.

مسلمانان د تبلیغاتي وسایلو او ټولنیزو رسنیو په ځانګړي ډول د تلویزون او سینما د هغه خطرناکو پایلو او منفي تاثیراتو له امله، چې د مسلمانو ځوانانو، ښځو او ماشومانو په اخلاقو او افکار یې پرېښې کړېږي. هغوی په خپلو تلویزوني برنامو کې داسې ناوړه فیلمونو ته ځای ورکوي، چې اسلامي ټولنې بې بندوبارۍ او سرغړاوي ته هڅوي. هغوی په خپلو فیلمونو کې ګناه کول قهرماني او مجرم د قهرمان په توګه ځلوي. په مصر او ورته نورو هیوادونو کې مسلمانان له هغو فیلمونو او سریالونو څخه چې هغې کې ښځینه او نارینه لوبغاړي مسلمان ځوانان ګناه ته بلي او پر اسلامي ارزښتونو ملنډې وهي، ټولې اخلاقي پولې د هنر او تفریح په نوم

---

[32] نن سبا د اړیکو په علم کې د ټکنالوژیک پرمختګ له امله د فکري جنګ په واک کې ځانګړي امکانات ورکول شي. لکه راډیویي، تلویزوني او انټرنټي میاشتنۍ کڅوړې او بېلابېلې ویبپاڼې، همدارنګه د رسنیو پرمختګ ددې لامل شوی، چې فکري جنګ کې شمېر خلک تر خپل پوښښ لاندې ونیسي.

تر پښو لاندې کوي کړیږي. هغه مبتذل او ناوړه تصویرونه، چې هره ورځ په ورځپاڼو او مجلو کې خپریږي او هم تخریبوونکي افکار، چې ناوړه او د شریعت خلاف اعمال دي ښه او ښیګڼې او نیک اعمال د بدګڼو او ناوړه اعمالو په توګه ځرګندوي، چې په حقیقت کې دا ټول د فکري جنګ ابزار دي، چې د صلیبیانو او یهودیانو د موخو لپاره په کار اچول شوي.مګر له بدمرغه په مسلمانانو کې داسې څوک، چې په عقیدوي او اخلاقي لحاظ د تائید وړ او د دین او وطن خیر غوښتونکی وي او د رسنیو د مدیریت مسولیت په غاړه واخلي، ښې او سالمې برنامې ورته جوړې او اهل کارکوونکي ورته وګوماري ډېر کم پیدا کیږي، برعکس ټول هغه کسان، چې د مسلمانانو ټولنیزې رسنۍ رهبري کوي هماغه سیکولران، لائیکان او د دښمنانو د لاس الې او نانځکې دي، چې یواځې او یواځې د صلیبیانو موخو ته کار کوي او بس.

بلې! رسنۍ، چې باید د اسلامي امت استازې او ویاندې وي او د اسلامي امت د ویښتیا لپاره هڅه وکړي، اسلامي امت د دښمنانو له دسیسو او ناوړه برنامو خبر کړي؛ دا ډول رسنۍ په اسلامي هیوادونو کې ډېرې کمزورې دي. اوسنیو شرایطو ته په کتنه فعاله رسنۍ په اوس وخت کې د اسلامي امت لومړۍ اړتیا ده، چې باید د اسلامي خوځښتونو د پیاوړتیا او د فعالیتونو د تمثل او منعکس کولو لپاره شتون ولري.مسلمانان باید هڅه وکړي، چې خپله دا تشه زر تر زره ډکه کړي.

## پوښتنې:

1. د دريو تبليغاتي وسايلو نومونه واخلئ او وايې، چې څنګه رسنۍ له پوهنوتونو ډېرې خطرناکې دي.؟
2. د ټولنې له قشرونو څخه کوم قشر ډېر له خطر سره مخ دی.؟ او ولې.؟
3. ووايې، چې سينما او تلويزون ولې د نورو رسنيو په پرتله پياوړي او ډېر موثرې دي.؟

# یوولسم درس

# ددیني رهبرانو، مسلمانو او انقلابي شخصیتونو تخریب:

د اسلام د دښمنانو دا شیطاني دسیسه هم د هغوی د نورو هغوی په شان اوږده مخینه لري. د دعوت او اصلاح د تاریخ په اوږدو کې اشرافیانو او ماده پرستانو تل د دعوتګرانو او د ټولنې د اصلاح کوونکو په وړاندې پاڅون کړی. هیڅ داسې پیغمبر نشته، چې د الله ﷻ له لوري خلک د توحید دین ته د رابللو لپاره نازل شوی وي او په وړاندې یې اشرافیانو او د هماغه قوم خلکو پاڅون نه وي کړی او هغه یې تخریب کړی نه وي او د انبیا علیهم السلام په حق کې یې هر ډول دروغ او تهمتونه ویل روا نه وي بللي.د هغوی له دې کاره موخه دا وه، چې خلک د انبیاو علیهم السلام د مخلصانه دعوت څخه کرکه پیدا کړي. الله ﷻ له انبیاو سره د کفارو د دا ډول ناوړه چلند او دسیسو په اړه په قرآن کریم داسې فرمایلي دي: (ذاریات سورت ۵۲-۵۳)

كَذَٰلِكَ مَآ أَتَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا قَالُوا۟ سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ ﴿52﴾ أَتَوَاصَوْا۟ بِهِۦ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴿53﴾

ژباړه: همداسې هغه، چې تر دوی وړاندې ول هیڅ پیغمبر نه دی ورغلی مګر دا چې ویې ویل : یاکوډګر دی یا مجنون . آیا یوه بل ته د همدې سپارښتنه کړې؟! نه، بلکې دوی طغیان کوونکي وګړي دي.

په اسلامي امت د صلیبیانو د فکري جنګ یوه ځېله دا هم ده، چې د مسلمانانو دیني رهبران او انقلابي شخصیتونه تخریب او خلکو ته یې په اړه شکونه پیدا کړي.

هغوی، چې کله ولیدل، چې مسلمانان د خپلو دیني عالمانو، مخلصو داعیانو، رهبرانو او مجاهدینو تر څنګ ولاړ دي او له هغوی په هر حالت کې هر ډول ملاتړ کوي؛ نو د ډول ډول درغو، افتراو او تهمتونو په جوړولو یې پیل وکړ، چې خلک د خپلو دیني رهبرانو په وړاندې بده بینه او هغوی له خپل دعوت او خوځښت څخه زړه توري کړي. په دې اړه ډېرې بېلګې شته، چې د ټولو یادول به ددې کتاب له حوصلې وتلې وي، یواځې د یوې بېلګې په راوړلو بسنه کوو.

ستر مجاهد، لوی رهبر او سپېڅلی شهید عبدالله عزام رح هغه څوک دی، چې نړۍ یې له ټولې ښکلا سره پرېښوه او د خپل مال، ځان او اولاد په قرباني کولو سره یې جهاد ته راودانګل.په ژوند کې یې، چې هر څه لرل لکه، اولاد، کورنۍ، مال او ځان دا یې ټول د الله ﷻ په لار قربان کړل. له دې ټولو قربانیو سره بیا هم د ژوند تر وروستۍ شیبې پورې د اسلام د دښمنانو د زهرجنو دسیسو ښکار و او ډول ډول دروغ ور پورې تړل کیدل، چې دا د لویدیځ د لاس اله ده او د هغوی موخو ته کار کوي، تر دې چې الله ﷻ د شهادت لوړ مقام ور نصیب کړ. تر مرګ وروسته یې په اړه خلک پوه شول، چې هغه د الله ﷻ په وړاندې کوم مقام درلود او هم په څومره اخلاص یې خپله مبارزه کوله؛ ځکه دښمنان هیڅکله خپلو دوستانو، د لاس الو او خپلو خدمتګارانو ته زیان نه رسوي او هم شهادت یو داسې مقام

دی، چې پرته له مخلصو، رښتینو او باایمانه انسانانو څخه د بل چا نه نصیب کیږي.

زما له نږدې او باوري ملګرو څخه یوه راته وویل، چې د هغه یو ډېر مخلص او وفاداره دوست د شیخ عبدالله عزام په اړه سخت بدبین و او قسم به یې کوو، چې هغه د پردیو مزدور او د لاسه اله ده او د اسلام د دښمنانو لپاره کار کوي؛ خو کله چې شیخ عبدالله عزام شهید شو همدې شخص یې په جنازه کې له ګډون وروسته ویلي و، چې ما اوس ومنله، چې ښاغلی عبدالله عزام یو باایمانه، مجاهد او رښتیونې داعي وو.

هو! هغوی داسې یو لوی شخصیت د خلکو په منځ کې تخریباوه. باید دې ته مو پام وي که چیرې د اسلام دښمنان له دې لارې خپلې موخې ته ونه رسیږي، هغوی عملي لارې چارې تر لاس لاندې نیسي او اسلامي او انقلابي شخصیتونه زنداني کوي. لکه څنګه یې چې شیخ یاسین او رزمان ونیول. او که له دې لارې هم بریالي نه شول بیا وروستی لاره، چې هغه ترور او وینه تویول دي ټاکي او د مسلمانانو رهبران او انقلابي شخصیتونه ژوني. لکه څنګه یې چې امام حسن البنا، شیخ شهید عبدالله عزام، استاد غلام نیازی، شهید احمدزی او ډاکټر صبحی صالح (رح) یې شهیدان کړل.

دا ځای و چې مسلمان امتونه د دیني رهبرانو او انقلابي شخصیتونو د لاسه ورکولو له امله حیران پاتې شول. چا چې یې له حریمه دفاع کوله، له لاسه ورکړي حقوق یې ورته غوښتل او هغوی یې د دین او عقیدې بیدار ی ته رابلل هغه شخصیتونه اوس شتون نه لري.

هو! کله، چې مسلمانانو دیني، ټولنیز او فکري رهبران له لاسه ورکړل په بشپړ ډول یتیمان شول، حیران پاتې شول او د اسلام د دښمنانو په ګټه شعارونه ورکوي، د خپلې عقیدې او دین څخه ناخبره دي د خپلو ربښتینو خیرغوښتنونکیو( هغه مجاهدین، چې د هغوی د عزت او کرامت په خاطر او هم د دنیاوي او اخروي نیکمرغی په خاطر یې لاس په جهاد پورې کړی) په اړه شک او کرکه لري.

باید په دې وپوهیږو کله، چې د اسلام دښمنانو دا شیطاني اهداف تر لاسه کړل، له دې سره دیني حقایق او اسلامي شعایر هم په بشپړ ډول محوه کیږي. د اسلامي امت رهبري د داسې بې سواده او ناپوهه خلکو لاس ته لویږي، چې له هیڅ دیني مسلې څخه پوهه نه لري. له دوی څخه، چې کله پوښتنه وشي پرته له دیني علم او پوهې څخه فتوا ورکوي خان هم بې لارې کړي او نور هم.

# پوښتنې:

1. ووایې، چې د اسلام دښمنانو د انبیاو علیهم لسلام تخریب څنګه کاوه.؟

2. د مسلمانانو د دریو فکري او انقلابي شخصیتونو نومونه چې
ت. ەرسره اشنا یاست و ښئ او هم ووایې، چې د اسلام
هغوی څنګه تخریب کړل.؟

دښمنانو د تخریبي خوځښتونو منفي پایلې او تاثیرات
رو. ـ ښئ.

# دولسم درس

# په اسلامي هیوادونو کې د ساختګي او دروغجنو قیادتونو جوړول.

پورته عنوان په حقیقت کې د هغه بحث پایله ده، چې په یوولسم درس کې تیر شو؛ یانې کله، چې هغوی د ټولنې صحیح، حقیقي او مخلص قیادتونه تخریب او خلک یې ترې زړه توري کړل، اوس یې پر ځای جعلي، ساختګي او د دروغو قیادتونه جوړوي، چې د دوی افکار په اسلامي ټولنه کې خپاره او له موخو یې ملاتړ وکړي.

باید یادونه وکړم، چې په یادو قیادتونو کې خینې سیاسي، اقتصادي، نظامي، فرهنګي، روزنیز او دیني قیادتونه دي. مګر یو څه، چې ښکاره دي هغه دا دي، چې ددې ټولو قیادتونو مشران هغه څوک دي، چې د لویدیځو هیوادونو لکه امریکا، فرانس، انګلیس، المان او... او یا هم د مسیحي مبشرینو له پوهنتونونو، چې په اسلامي هیوادونو لکه د بیروت امریکایې پوهنتون او په قاهره کې له امریکایې پوهنتون څخه فارغ شوي دي. په هر حال دا هیڅ توپیر نه کوي، چې دا نوي رهبران په اروپا کې روزل شوي او که په اسلامي هیوادونو کې، کله، چې د یوه ښوونکي، د روزنیز کارپوه، هنرمند او یا هم د یوه نظامي شخص په توګه خپل هیواد ته ستنېږي، په دې ځای کې خپل ټول توان په دې ټکي متمرکز کوي، چې څنګه د خپلو اربابانو برنامې او سیاستونه په خپل هیواد کې پلي کړي. افکار او نظریات یې خپاره او له هیلو او اهدافو څخه یې ملاتړ وکړي. په دې برخه کې هم ډېرې بېلګې شته چې دلته یې یواځې په یوې هغې بسنه کوو: طه حسین

د همدې غربیانو په لاس روزل شوی شخص وو، هغوی روزنه او پالنه ورکړه، او وروسته له هغې، چې اماده شو داسې یو روح یې په کې بو کړو، چې له هغه یې لوی نابغه جوړ کړ.وروسته یې په وزارتونو او پوهنتونو کې په کلیدي څوکیو وګوماره تر دې، چې هغه یې د عربي ژبې او ادب د عمومي رییس په توګه وټاکه. دا ټول جوایز او ډالۍ هغه څه و، چې نوموړي ته یې د اسلام له اصولو او اساساتو څخه د انکار او هم په مصر او نورو اسلامي هیوادونو کې د غربي جوړونې تفکر د خپراوي په بدل کې ورکړې وو.

لنډه دا چې طه حسین په دې وتوانیدو، چې ډېر خلک جذب کړي، ډېر مسلمان ځوانان د هغه په افکارو غولیدل، چې تر اوسه یې د مسلمانانو په منځ کې خواخوږي او پلویان شتون لري.

څوک، چې د لویدیځوالو له پوهنتونونو فارغ شوي او هلته روزل شوي، هغوی دا اشخاص په ډېری اسلامي هیوادونو کې په کلیدي او مهم سیاسي بستونو ددې لپاره ګومارلي، چې د دوی طرحې او برنامې په اسانی سره پلي کړي.هغوی د پاکستان او افغانستان غوندې هیوادونو کې دا طرحې په عملي ډول تر لاس لاندې نیولي دي.

داود، ترکی، نجیب او ببرک کامل هغه څوک دي، چې د روسیې له لوري روزل شوي او په افغانستان کې یې په دې موخه واک ته رسولي، چې د افغانستان دین، فرهنګ، عقیده او هویت له منځه یوسي.

هغوی د میشل عفلق په شان خلک هم روزلي، چې د سوریې او عراق په شان هیوادونو ته یې ولیږي، چې په دې هیوادونو کې سازمانونه او ګوندونه لکه د بعث د عربي نژادپالنې ګوند تاسیس کړي. نجیب محفوظ هم د هغوی داخلي او محلي روزل شوی شخص و. هغه د عربي ژبې او ادب

څخه د یوه داسې وسیلې په توګه کار واخیست، چې د مسلمانانو عقیده او اخلاق پرې له منځه یوسي.لنډه دا چې نور هم ډېر اشخاص، چې نه دي توانیدلي د لویدیځ له دې لومې څخه ځان خوندي وساتي؛ خو یو کم شمېر اشخاص هم شته، چې الله ﷻ پې رحېمدلی او هغوی یې له دې لومې ساتلي لکه سید قطب او محمدعبدالله دراز (رح).

**پوښتنې:**

1. ددې درس موضوع ( د نويو قيادتونو جوړول) د پوولسم درس له موضوع( د قيادتونو تخريبولو) سره څه اړيکه لري.؟
2. د اسلامي هيوادونو د څلور رهبرانو يا رييسانو نومونه واخلئ، چې د لويديځوالو په لاس روزل شوي وياو ووايې، چې دا اشخاص د لويديځو او که د اسلامي هيوادونو په پوهنتونو کې روزل شوي..؟
3. ووايې، چې دا نوي رهبران څنګه په اسلامي هيوادونو کې د اسلام ددښمنانو سياستونه او کړنلارې عملي کوي.

# دیارلسم درس

## د مسلمانانو په ټولنیز نظام برید

اسلامي ټولنه په عقیدوي، فکري، فرهنګي او د فردي او ټولنیزو اړیکو په لحاظ تل له غیر اسلامي ټولنو څخه ممتازه وه او دا هغه څه و، چې د اسلام د دښمنانو په زړونو کې یې د کینې اور بلاوه او تل یې دې ته هڅول، چې د مسلمانانو د ژوند د کړنلارې د بدلون په موخه باید لاس په کار شي.

نو ددې پراخه برید انګیزه یواځې د مسلمانانو د ټولنیز ژوند د کړنلارې بدلون دی. هغوی ددې پراخه برید په ترڅ کې د مسلمانانو د ژوند اداب او رسومو ته بدلون ورکړ او پر ځای یې د ژوند په ټولو اړخو کې لکه، نظر، تفکر، لباس او هم په ټولنیز ډګر لکه واده، د واده لپاره د مرکې، کورنیو اړیکو او هم په تفریحي او ورزشي چارو کې غربي اداب، رسوم او فرهنګ رواج کړ.

دا دی ګورو، چې په اسلامي هیوادونو کې د واده لپاره د جینۍ غوښتنه (مرکه) په بشپړ ډول په لویدیځ دود ترسره کیږي. هغه هلک ته، چې جینۍ ورته غواړي مخکې له دې، چې کوم شرعي تړون د هلک او جینۍ تر منځ شوی وي، هر ځای او هر چېرته، چې وغواړي سره خلوت کولی شي.تر دې، چې اجازه ورکول کیږي په یوه خونه کې ورسره کښني. په ورځو او میاشتو پرته له دې، چې څوک محرم ورسره وي په سفر ځي.د واده مراسم، چې د مسلمانانو تر منځ ډېر درانه او سنګین مراسم و او ټول اسلامي او شرعي رسوم په کې په پام کې نیول کېدل، اوسمهال په داسې مراسمو بدل شوي، چې فسق وفساد او بې بندوباري په کې موجونه وهي.

مسلمانانو تر منځ کورنۍ اړیکې پاشل شوي او د خپلوۍ پړي شلیدلي، چې په پایله کې يې ادب، حیا او درناوی په بشپړ ډول د مسلمانانو له منځه تلل شوی دی.مګر ورزش، چې په اسلام کې د مسلمانانو تر منځ د مینې او محبت او بدني قوت او پیاوړتیا یوه غوره وسیله وه، چې په مټ به يې مسلمانانو خپل وجود پیاوړی کوو ترڅو په ښه ډول سره د الله ﷻ عبادات وکړای شي.همدارنګه ورزشکار هم په اسلام کې د الله ﷻ دوست او محبوب ګڼل شوی په یوه حدیث کې راځي: له حضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دی، چی رسول الله ﷺ فرمایلي: پیاوړی او ځواکمن مومن د الله ﷻ په وړاندې له کمزوري مومن څخه ارزښتمن دی او په هر یو کې یو خیر نغښتی دی.

مګر نن ورځ ددې پر ځای، چې له وزرش څخه د مسلمان موخه او انګیزه هغه مقام ته ځان رسول وي او یا دا چې ورزش د مسلماتانو تر منځ د مینې او محبت وسیله وي، برعکس وزرش له خپل اصلي تګلوري اوښتی، اسلامي موخې او انګیزې يې له لاسه ورکړي او د وخت د ضایع او د ګناه پر سرچینې بدل شوی دی.

نن سبا ورزش د یهودانو په یوه لومه بدل شوی، د ډېرى ځوانانو حتی د زړو سړیو او ښځو اخلاق او سلوک ددې ورزش له امله فاسد شوي. په دې برخه کې ډېر مال ضایع کیږي.که چېرې څیړنه وشي، ممکن معلومه شي، چې د ورزش په برخه کې کیدونکی لګښت څو ځله له هغه لګښته، چې د ښوونې او روزنې یا صنعت او تکنالوژۍ او یاهم په نظامي او تسلیحاتي برخه کې کیږي زیات دی. همدا لامل دی، چې د ورزش په برخه کې وړوکی قهرمان په ټولنه کې د قرآن او احادیثو د یوه استاد او یا

هم له یوه مجاهده، چې د مسلمانانو له عقیدې او داسلامي امت له حریمه دفاع کوي ډېر قدر او درناوی لري.

لنډه دا چې د مسلمانانو ټولنیز ژوند په ټولیز ډول یا تر ډېره ځایه د لویدیځ د فرهنګ او وزرش تر تاثیر لاندې دی.دین خپل ارزښت له لاسه ورکړی او ادب، درناوي، حیا او شرف ته هم هیڅ ډول ارزښت نه ورکول کیږي.( حسبناالله ونعم الوکیل)

# څوارلسم درس

## د ښځې ازادي (فمنيسم)[33]

له شک پرته د فکري جنګ ډېره خطرناکه او چټکه وسيله او هم ددې جنګ پياوړې او ډېره وژونکې وسله، چې په يواځې ځان يې د اسلامي ټولنې د بنسټونو د متزلزل کولو او په بشپړ ډول له منځه وړلو لپاره بسنه کوي، دا وسله د ښځو فاسدول او بې بندوباره کول او د هغوی د ازادۍ د مسلې مطرحول دي او هم ددې موضوع عنوانول، چې ښځه په اسلام کې مظلومه او محرومه ده او د يوه داسې معدن په توګه، چې هيڅ لاس نه وي وروړل شوی په کور کې زنداني ده.له فکري ازادۍ او نورو ټولنيزو ونډو او ګډون څخه بې برخې ده ؛ په داسې حال کې چې دا يو ډول دروغ او بې ځايه پروپاګند دی، چې صليبيان يې کوي، شپه او ورځ په دې هڅه کې دي ،چې هر ډول نيمګړتيا اسلام ته منسوب کړي.

حقيقت دا دی، چې دانسانيت په تاريخ کې هيڅ داسې دين، شريعت، نظام او ټولنه نه ده موندل شوې، چې د ښځې عزت او کرامت يې داسې

33 ددې موضوع اصل د ښځمنپالنې ( فمنيسم) ته چې په ۱۹٦۰ کلونو کې په لويديځ کې رامنځته شوی ورګرځي. (ژباړن) د فمنيسم غورځنګ د ښځو مطلقه ازادي،د ښځو اوسړيو لپاره په بيلابيلو ټولنيزو مسايلو کې غواړي.ددې فکر په بنسټ د ښځې اوسړي ترمنځ شخړه يو ثابت اصل دی دين، فرهنګ، خدای ،تاريخ، ادب او دودونو په وړاندې بغاوت د فمنيسم د فکر اصلي غوښتنې دي. د ښځې بشپړه ازادي او له د ناربنه له دنيا څخه بې پروايي او په جلسپالنه مطلق محوريت د هغوی هيله ده. د همجنسپالنې او د ښځې بشپړې ازادۍ موخې ته د رسيدو په موخه يې دا موضوع ډېره زياته تبليغ کړې ده. مثنی امين الکردستاني مخ ١٤ ( ژباړن).

خوندي کړی وي، لکه څنګه، چې د اسلام په دين کې خوندي دی. اسلام ښځې ته د هغې اصلي مقام او درنښت ورکړی او په پوره درناوی ورته قايل دی. اسلام ښځې ته د مالکيت او په هغې کې د واک د درلودو حق ورکړی دی. الله ﷻ داسې فرمايلي دي: (السا سورت ۳۲ ايات)

لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوا ۖ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ

ژباړه: نارينه وو ته د خپلو لاسته راوړونو څانګړې برخه ده او ښځو ته د خپلو لاسته راوړنو څانګړې برخه او له الله ﷻ د ده فضل وغواړئ.

اسلام لکه څنګه، چې نارينه ته د ميراث حق ورکړی همدا شان يې ښځې ته هم په ميراث کې حق ورکړی دی. الله ﷻ په (النسا سورت ۷ ايات) کې داسې فرمايي:

لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿٧﴾

ژباړه: نارينه و ته له هغه څه، چې مور پلار او خپلوان يې شاته پرېږدي څانګړې برخه ده او ښځينه و ته هم له هغه څه، چې مور پلار او خپلوان يې شاته پرېږدي څانګړې برخه ده، که دالږ وي يا ډېر، ټاکل شوې برخه ده.

همدارنګه اسلام ښځې ته د خپل واکمن( خليفه) د ټاکلو او يا د ردلو د رايې د څرګندولو حق ورکړی دی. کله، چې حضرت عبدالرحمن ابن عوف (رض) د دويم خليفه حضرت امير المومنين عمر ابن الخطاب (رض) له شهادت وروسته د شپږ کسيزه شورا د رئيس په توګه وټاکل شو. هغه په درې موخه په خلکو وګرځېدو، چې د خلکو رايه معلومه کړي ،چې څوک د خلافت وړ او

مناسب ګڼي، هغه په دې اړه له ښځو، سړيو، ځوانانو او کمکيو پوښتنې کولې او د خلکو کورونو ته به تللو، چې د خلکو ځرګندونې واوري.[34]

تر ټولو مهمه دا چې اسلام د تاريخ په اوږدو کې د ښځې په علم او پوهه باور درلودلی، د هغې حافظې او امانتدارۍ ته په ارزښت قايل شوی دی، ډېرې شخصي او کورني فقهي مسايل له ام المومنين عايشه صديقه (رض) او نورو سپېڅليو ميرمنو او د اصحاب کرامو له ښځو څخه روايت شوي دي.په دې بايد وپوهېږو، چې دا ښځې ته د اسلام د درناوي او احترام يوه برخه ده. ډېرې بېلګې شته، چې دلته په همدې يوه يې بسنه کوو او بېرته اصلي موضوع ته چې د (ښځې ازادي ده) ورګرځو. کله، چې د اسلام دښمنانو په اسلام کې د ښځې لوړ مقام او د هغې عزت او حرمت وليد؛ نو ختيزپيژندونکيو او د هغوی زده کړيالانو، چې د اسلامي شريعت په اړه په هيڅ نه پوهيدل لاس په کار شول او په دې برخه کې يې هر ډول دروغ او افتراوې په اسلام پورې وتړلې. هغوی دعوه وکړه، چې اسلام د ښځې په حق کې ظلم کړی. قرآن ښځې ته خانګړې پاملرنه نه لري. اسلام د ښځې او سړي حقوق په مساويانه ډول نه دي ادا کړي. اسلام په ځينو ځايونو لکه د شهادت ورکولو او ميراث په برخه ښځې د نارينه نيمايي بللې. اسلام سړي ته اجازه ورکړې، چې له څلورو ښځو سره ودونه وکړي؛ مګر ښځې ته هيڅ اجازه نشته، چې هممهاله له يوه څخه زياتو سړيو سره واده وکړي او...

[34] تاريخ الاسلام السياسي الديني والثقافي والاجتماعي) حسن ابراهيم حسن ١|٢٥٤١_ جوله تاريخيه في عصر الخلفا الراشدين محمد السيد الوكيل مخ ٣١٣ چاپ ١٤٠٨ هـ

څه مو، چې ولوستل دا د ختيزپېژندونکيو د ادعاو څو بېلګې وې او ډېر لويديځپاله مسلمانان يې تکراروي. هغوی د ښځې بې قيده ازادي، له ښځې د ملاتړ او د هغوی د عصب شويو حقوقو د بيرته ترلاسه کولو موضوع مطرح کوي.[35]

لومړی کس، چې ددې لويې فتنې د خپراوي لپاره يې بيرغ پورته کړو، هغه قاسم امين و. دا مصري ځوان، چې د فوق العاده استعدا خاوند و لويديځوالو له خوا په منګولو کې ونيول شو او د لوړ زده کړو لپاره يې فرانسې ته وليږه. له هغه ځايه د اسلام د تخريب د مهمې وسيلې، د لويديځ د ډنډورچي او د يهودانو او صليبيانو د يوه وفاداره غلام او خدمتګار په توګه خپل هيواد ته راستون شو.هغه، چې څنګه له فرانسې څخه راوګرځېدو لومړی کتاب يې ( تحرير المراه) په نوم چاپ کړو.دويم کتاب يې د ( المره الجديده) هم مصري ټولنې ته ډالۍ کړ.تر دې وروسته په کراره کراره مصري ټولنه د قاسم امين د افکارو تر اغېز لاندې راغله او افکارو يې په خلکو کې پلويان پيدا کړل.

لومړی ښځه، چې د قاسم امين بلنې ته يې مثبت ځواب ووايه هغه د ( هدی شعراوي) په نوم ښځه وه، هغې ټول اسلامي ارزښتونه او عربي دودونه شا ته وغورځول او د مسلمانې ښځې عزت او درناوی يې تر پښو لاندې کړ.هغه له محرم پرته په سفرونو تلله.له پرديو سړيو سره ملګرې

[35] مفتريات على الاسلام، احمد محمد جمال مخ ٦٧

شوه او په هغه کنفرانسونو او سیمینارونو کې، چې ښځې او نر په کې ګډ وو پرته له حجاب رامخ ته شوه.[36]

دې ته مو باید پام وي که څومره د باطل پلویان چغې ووهي، دروغجن دروغ ووایي، افترا کوونکي افتراوې وکړي، ښځه په اسلام کې هیڅکله هم مظلومه او بې برخې نه ده، چې څوک یې مرستې ته راودانګي. د ښځې د حقوقو په برخه کې هیڅ داسې نیمګړتیا نشته، چې نن یې څوک په ملاتړ راپورته شي. د هیڅ داسې ظلم بېلګه، چې ښځه ورسره د جاهلیت په زمانه او یا هم په اوسني وخت کې لاس و ګریوانه ده په اسلام کې نشته.[37]

---

36د استاد محمد قطب ( د واقعنا المعاصر) ۲۵۰_۲۹۵ مخونه.د محمد عبدالقادر هنادي ( د قلاع المسلمین مهدده من داخلها و خارجها) کتاب ۶۳_۶۴ مخونه.

37 هغه دلایلو او انګېزو، چې په لویدیځ کې د سیکولریزم د پیدایښت لپاره شتون درلود، دقیقا هماغه دلایل او انګېزې د ښځو د افراطي غورځنګونو د پیدایښت لپاره شتون لري، لنډه دا چې د لویدیځ په فرهنګ کې د ښځو افراط د ښځو له تفریطه سرچینه اخیستې ده.لاندې په لویدیځ کې د ښځو د سپکاوي څو بېلګې وړاندې کوم چې وګورو فمنیسم او هغه ادعاوې، چې تازې ښځې د هغه ظلم او ستم په وړاندې، چې په ښځینه جلس یې روا بولي حل پیدا کړي.د لویدیځ په فلسفه او فرهنګي میراث کې وینو چې ( افلاطون ۳۴۷_۴۲۴ ق م ) د یوې ښځې زوی وو د افسوس خای دی، چې هر وخت یې په خپله مور له دې امله، چې ښځه ده ملنډې وهلې. هغه په خپل کتاب ( جمهوریت) کې وایې ( ښځې زموږ جنګیالي باید زموږ په منځ کې د ټولو شریک وي) نیچه ( ۱۸۴۴_۱۹۰۰) وېلي: کله چې د ښځې تر خنګ تېرېږې قمچینه دې باید پورته نیولې وي.د لویدیځ په فرهنګي میراث کې د ښځو په وړاندې دومره افراطي سپکاوی ددې لامل شو،چې د فمنیسم غورځنګ رامنځ ته شي.

زه نه غواړم په دې اړه نور بحث وکړم؛ ځکه ټول پوهیږي، چې دا یوه جعلي او بې بنسټه موضوع ده. ددې موضوع د طرحې اصلي موخه د مسلمانانو د اخلاقي او اسلامي ارزښتونو له منځه وړل، د مسلمانانو په بې بندوبارۍ او فساد کې ښکیلول دي او هم غواړي، چې مسلمانې ښځې د وحشي او بې عفته خلکو په واک کې ولویږي.

---

د لویدیځ په دین کې هم د ښځې د سپکاوي افراطي بېلګې موندلی شو لکه: ۱:- د لومړي تېروتنې مسولیت، چې بشري یې له امله کړیږي د ښځې په غاړه دی. ۲:- واده رحمت او نیکي نه ده دا په ښځه د سړي تسلط او حاکمیت دی.

د یهودو په مذهب کې هم داسې راغلي، چې یو یهودي سړی هر سهار شکر کاږي. چې خدا ،بت پرست پیدا کړی او ښځه یې مور ورته نه ده ګرځولې یانې له ښځې یې نه دی پیدا کړی.د یهودانو په دین کې یو یهودي کولی شي خپلې لورګانې د غلامانو په څېر وپلوري.د سفرخروج په کتاب کې راغلي: کله، چې یو سړی خپله لور وپلوري لور یې د نورو غلامانو په څېر له کوره بهر نه شي وتلی.

مسیحیت هم په دې برخه کې له یهودیته غوره نه دی: د لومړي پولیس په لیک د کورتوس خلکو ته داسې ویل شوي: په دې دول نارینه چې د خدای د عظمت نښه ده باید خپل سر پټ نه کړي او ښځې باید خپل سره ځکه پټ کړي، چې ښځې د نارینه د عظمت نښه ده. ځکه، چې سړی له ښځې نه دی پیدا شوی؛ بلکې ښځه له سړي پیدا شوې ده.سړی د ښځې لپاره نه دی پیدا شوی؛ بلکې ښځه د سړي لپاره پیدا شوې ده نو ښځه باید خپل سر په یوې نښې یا ټوټې سره پټ کړي.(بحش ۱۱: ۷: ۱۱) دا سپکاوی اوس هم د لویدیځ په فرهنګ کې ثابت دی او پالل کېږي.بناوتر ( ۱۲۲۱_۱۲۷٤) چې یو کشیش دی وایې: کله مو چې یوه ښځه ولیده فکر ونه کړئ،چې بشر یا وحشي حیوان مو لیدلی ؛ځکه څه مو چې لیدلي هغه په خپله شیطان دی؛ کله، چې ښځه خبرې کوي تاسې د افعي ( یو ډول زهرجن افریقاي مار غږ دی) غږ اورئ. (فمنیسم مخ۲۵)

لنډه دا چې غواړي ښځه د یوه بې ارزښته او بې قیمته توکي په توګه د اوسني وخت د غلامانو د پلور بازار ته وړاندې کړي. څه مو چې وویل دا ددې دسیسې اساسي او اصلي موخې دي. که څه هم ځینې نورې موخې یې هم شته، چې په لنډ ډول ترې دلته یادونه کوم.

## • پردې (حجاب) له منځه وړل:

ډېر شرعي نصوص او ایاتونه شتون لري، چې مسلمانه ښځه د پردې او حجاب په درلودلو مکلفوي او پردیو سړیو ته د خپلې ښکلا له ښکاره کولو یې په کلکه منع کوي الله ﷻ په دې اړه داسې فرمايي: (احزاب سورت\٥٩ ایات)

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَـٰبِيبِهِنَّ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥٩﴾

ژباړه: او هغه چې مومنان او مومنانې له دې پرته ځوروي چې څه ( غلط کارونه ) یې کړې وي نو یقیناً چې د بهتان ځرګندي ګناه ( پېټی) یې پرشاه کړی.

یانې د شرعي حجاب اغوستل، په حقیقت کې هغه شعار او نښه ده، چې مسلمانه، مومنه او باعفته ښځه یې په وسیله له بې بندو باره ښځو څخه ممتازه او غوره ګرځولې ده.

لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايي: (نور سورت۳۱\۳۱ ايات)

وَقُل لِّلْمُؤْمِنَٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَٰرِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ ءَابَآئِهِنَّ أَوْ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَآئِهِنَّ أَوْ أَبْنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوْ نِسَآئِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيْرِ أُو۟لِى ٱلْإِرْبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ أَوِ ٱلطِّفْلِ ٱلَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا۟ عَلَىٰ عَوْرَٰتِ ٱلنِّسَآءِ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٣١﴾

ژباړه: او با ايمانه ښځو ته ووايه، چې د خپلو سترګو ( کنټل) راکم کړي، او خپل فروج وساتي او خپله ګاڼه څرګنده نه کړي، مګر هغه يې، چې څرګندوي او خپل ټيکرى دې په خپل ګريوان واچوي او خپله ګاڼه دې له خپلو مېړونو، خپلو پلرونو، د خپلومېړونو له پلرونو، خپلو زامنو، خپلو مېړونو له زامنو ، خپلو ورونو، وربرونو، خورييو، خپلو ښځو، خپلو وينځو هغو ترلاس لاندې سړيو، چې بې شهوته دي او له هغو ماشومانو پرته، چې د ښځو په عورت خبر نه دي، بل چاته نه څرګندوي، او خپلې پښې دې داسې

پر خمکه نه وهي، چې هغه ګانه یې معلومه شي، چې پټوي یې او ای مومنانو! ټول د الله ﷻ لوري ته رجوع او توبه وکړئ چې بریالي شئ.

په زړه پورې ده، چې سره له دومره شرعي نصوصو او الهي ایاتونو، چې د اسلامي حجاب د لزوم په اړه شتون لري؛ ښاغلی قاسم امین د هغه ایاتونو څخه منکر دی، چې په کې د ښځې لپاره د حجاب او پردې امر شوی، هغه اصلاً دا شی مني نه. هغه باور لري، چې مسلمانانو له نورو قومونو سره له یو ځای کیدو وروسته حجاب د یوه دود په توګه له هغوی تقلید کړی او وروسته یې د دین د یو جز په توګه معرفي کړی دی. د قاسم امین په باور د حجاب په اړه، چې په قرآن کې کوم احکام راغلي هغه یواځې د حضرت محمدﷺ د سپیڅلیو میرمنو پورې اړه لري او له نورو ښځو سره هیڅ تړاو نه پیدا کوي! لکه په خپل کتاب ( تحریرالمرا) کې یې لیکلي: په اسلام کې چې د کوم حجاب یادونه شوې هغه د پیغمبرﷺ په میرمنو پورې اړه لري او که چیرې په اسلامي شریعت کې یوه نصوص شتون درلود، چې په کې د هغه حجاب په اړه چې اوس د مسلمانانو تر منځ رواج دی یادونه شوې وه بیا به پر ما هم لازم وه، چې له خپل بحث او مناقشې څخه تیر شم او په مخالفت کې به مې یې یو حرف هم نه وو ویلی. مګر داسې نصوص نشته، چې د مسلمانانو تر منځ د اوسني مروج حجاب په اړه په کې څه راغلي وي. څه، چې شتون لري د هغه ادابو او رسومو برخه ده، چې له نورو قومونو سره د مسلمانانو تر یو ځای کیدو وروسته مسلمانانو غوره ګڼلي او د دین په توګه یې منلي دي.[38]

[3838] د محمد عبدالقادر هنادي (قلاع المسلمین مهدده من داخلها و خارجها) مخونه ٦٣_٦٤

قاسم امین په دې عقیده دی، چې حجاب د ښځې فطري ازادي او ښځه او خاوند له فرهنګي ژوند څخه بې برخې کوي. هغه په خپل یاد کتاب کې زیاتوي، ((چې د حجاب تاوان دا دی، چې ښځه له فطري ازادۍ بې برخې کوي. د روزنیز تکامل مخنیوی یې کوي. د ښځې او خاوند تر منځ په کورني ژوند کې د عملي او فرهنګي ژوند دمخنیوي لامل ګرځي.)) د قاسم امین[39] د همدې منفي او هدفمندو تبلیغاتو په تعقیب هدی شعراوي خپله ننداره په ۱۹۲۳ کال په روم کې د ښځو په یوه سیمینار کې تر ګډون وروسته خپل هیواد ته په راستنیدو سره اجرا کړه، هغې او ملګرې یې د ټولو خلکو په مخ کې خپلې چادریانې په ځمکه وغورځولې او تر پښو لاندې یې کړې. وروسته کراره کراره دا ډول نمایشي لوبو د ښځو په ټولیو کې، چې د سعد زغلول د میرمنې له لوري رهبري کېدې دوام پیدا کړ. تر هغې، چې یوه ورځ دا ښځې د نیل د ودانۍ مخې ته راټولې شوې او له سره یې څادرونه په ځمکه وغورځول او دا شعارونه یې ورکول: ښځه ازاده شوه. خپل څادرونه یې وسوځول. په دې ډول دا شومه پدیده په اسلامي ټولنه کې خپره شوه. نن سبا وینو، چې د اسلامي هیوادونو لکه مصر، مراکش، تونس او کویت کې د پوهنتونونو رئیسانو په خپلو پوهنتونونو کې د حجاب

[39] قاسم امین له کردي پلار او مصرۍ مور څخه په ۱۸۶۳ کال د مصر په قاهره کې زیږیدلی دی، ۱۸۸۱ تر ۱۸۸۵ کلونو تر منځ په فرانسه کې حقوق ولوست، لکه څنګه یې چې په خپلو خاطراتو کې لیکلي په ټوله تحصلي دوره کې له یوې فرانسوي جینۍ سره یې ملګرتیا وه، چې دده په افکارو کې یې لوی بدلون راوستي. هغه د زده کړو تر پایه په فرانسه کې له هغې جینۍ سره اړیکه درلوده. قاسم په ۱۹۰۸ کال وفات شوی، د هغه ( تحریر المرا) کتاب یو له هغه کتابونو څخه دی چې ډېر زیات فکري جنجالونه یې امنځ ته کړل. او ډېرې نیوکې پرې شوې دي.
د (عودت الحجاب) کتاب لیکوال محمد احمد اسماعیل وایي: د ۱۰۰ په شمېر کتابونو او مقالې د تحریر المرا په اړه لیکل شوې دي.
دا خبره مشهوره ده، چې قاسم امین له خپل مرګ نه دوه کاله وړاندې په ۱۹۰۶ کې له الظاهر مجلې سره په یوه مرکه کې له خپلو نظریاتو تیر شوی او د هغه د منفي پایلو له امله پښیمانه وو. د یادولو ده چې د قاسم امین میرمنې د ژوند تر پایه خپل حجاب لرې نه کړ.

د منع قانون تصويب کړی او پوهنتون ته د محجبه ښځو او انجونو له داخلیدو مخنیوی کوي.

- **د هلکانو او نجونو يو ځای والي ( اختلاط) ته هڅونه:**

له شک پرته د اسلام دين يو حقيقت خوښوونکی او واقعيت منوونکی دين دی. پوهيږي که هر څومره يوه ټولنه په اخلاقي او ايماني لحاظ لوړه شي بيا هم بايد راتلونکی يې په احکامو او ځانګړنو لارښوونو سره خوندي شي، چې له سقوط او فساد کې له ښکيلتيا څخه ساتل شوې وي.

دا ځای دی، چې د اسلام دين د فساد او فتنې د ريښو د وچولو او هم د شيطاني وسوسو د مخنيوي په موخه، چې شونې ده هر شيبه رامنځته شي او د ټولنې اداب او ټولنيز خلاق پايمال کړي د ښځو او سړيو له يوځای والي( اختلاط) يې کلک منع کړی. خو لوديديځپالي او هغه څوک، چې غواړي مسلمانه ټولنه هم د لويديځ د ټولنې په شان جوړه کړي او هيڅکله هم د اسلام له احکامو خوښ نه وو غواړي، چې مسلمانان د ښځو او نارينه و يو ځای والي ( اختلاط) ته رابولي.

هغوی پرته له دې، چې حيا او اسلامي اداب په پام کې ونيسي او يا اسلامي احکامو ته پاملرنه وکړي له خلکو غواړي، چې د ژوند په ټولو پړاونو کې له ښوونځي او مدرسې نيولې تر پوهنتونه ښځه او سړی، هلک او جينۍ پرته له کوم حجاب او پردې څخه له يو بل سره څنګ په څنګ و اوسي.دا هغه څه دي، چې موږ يې اوسمهال په ټولو اسلامي هيوادونو ـالاماشاالله ـ ګورو. په هر اسلامي هيواد کې داسې پوهنتونونه او مدرسې تر سترګو کيږي، چې په کې هلک او جينۍ پرته له کومې پردې په زده کړو بوخت دي. داسې دولتي ادارې شتون لري، چې په کې ښځې او سړي

پرته له کومې پردې په دندو بوخت دي. همدا ځای دی، چې اسلامي اخلاق او ارزښتونه مو له منځه تللي او د حیا او ادب پړي مو شلیدلي. اداري او دولتي مرکزونه مو د فساد او بې بندوبارۍ په اډو بدل شوي او په پایله کې یې اسلامي امت د بدبختۍ او ورکاوي پولي ته نږدې شوي دي.یو شاعر په دې اړه څومره ښه ویلي دي:

وانماالامم الاخلاق ما بقیت            فان هم ذهبت اخلاقهم ذهبوا

ژباړه: د ملتونو شتون په حقیقت کې له اخلاقو سره یې تړاو لري. که چېرې یې اخلاق له لاسه ورکړل خپله هم له منځه ځي.

## • له کوره د کار په موخه د ښځې وتل:

باید په دې پوه شو کله، چې اسلامي شریعت د ژوند او کورنۍ د اړتیا د لګښتونو مسولیت د نارینه په اوږو ایښې تر څنګه یې د ښځې مسولیت هم په ګوته کړی او هغه دا چې ښځه باید د سړي حیثیت او عزت وساتي. د خاوند په نه شتون کې د کورنۍ سرپرستي وکړي، اولادونه یې د اسلامي اصولو او اخلاقو په رڼا کې وروزي. په هغوی کې د عزت، زړورتیا او همت روح پو کړي.

بلې! د اسلام له نظره د ښځې د کار او فعالیت اصلي ځای د هغې کور دی.ښځه باید په کور کې د اولادونو په روزنه بوخته وي. د هغه اشخاصو روزنه دې وکړي، چې په نږدې راتلونکې کې به د الله ﷻ د دین ساتنه او اسلام څخه دفاع کوي او هم به د حکومت او سیاست دروند بار په اوږو اخلي او هیواد به د پرمختګ او تمدن په لوري رهبرۍ کوي.الله ﷻ په دې اړه داسې فرمایې: (احزاب سورت\۳۳ ایات)

وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى

ژباړه: او په خپلو کورونو کې کم تم شئ او د مخکني جاهلیت د دور ځرګندېدو په څېر مه ځرګندېږئ.

په دې باید پوه شو، چې اسلام د اړتیا پر مهال د شرعي عذر په شتون کې له کوره د ښځې په وتو هیڅ ډول بندیز نه دی لګولی؛ بلکې ددې اجازه یې ورکړې، چې په شرعي حجاب کې کولی شي د خپلو شرعي اړتیاو د پوره کېدو په موخه له کوره بهر لاړه شي. له هر ډول فتنه اچونې او د غریزې د تحرک څخه دې ځان وساتي. خپل زیورات دې په غاړه کې او په پرده کې دې له کوره ووځي.له پردیو خلکو سره له (اختلاط) او په لاره یا دکار په محل کې له یو ځای کېدو څخه دې په کلکه پرهیز وکړي. د ښځې کار هم باید د هغې طبعي، جسمي، عقلي او فکري جوړښت سره مناسب وي الله ﷻ په دې اړه داسې فرمایلي: (قصص\٢٣)

وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِنَ النَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِنْ دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا

ژباړه: او کله چې دمدین اوبو ته ورسېد، یوه ډله خلک یې پرې وموندل چې ( خپل څاروي یې) خړوبول او لدوی اخوا یې دوې ښځې ترسترګو شوې چې ( خپل څاروي یې ) ایسارول ، ( ورته ) ویې ویل: ستاسو څه حال (او مشکل ) دی؟

ممکن څوک اعتراض وکړي دا ایت خو د تېرو ادیانو او شرائعو په اړه دی؛ نو لازمه ده، چې د حضرت محمد ﷺ له سیرت څخه هم یوه بیلګه راوړم.

هوا کله ،چې به رسول اللهﷺ جهاد ته تللو د خپلو میرمنو تر منځ به یې پچه اچوله د هرې میرمنې نوم، چې به یې ووت همغه به یې له ځانه سره جهاد ته بیوله.اصحاب کرامو هم په دې برخه کې له رسول اللهﷺ پیروي کوله او ښځې به یې د اسلامي موازینو او شرعي اخلاقو او ادب په پام کې نیوو سره جهاد ته له ځانه سره بیولې. ښځو به هلته د ټپیانو د درملنې او پالنې مسولیت په غاړه درلود. نو ویلی شو، چې اسلام یو پراخ او منظم دین او قانون دی.له ځانګړو اصولو ضوابطو څخه برخمن دی.په دې کې هغه خلک، چې دا شرعي ضوابط تر پښو لاندې کړي او غواړي، چې ښځه له کوره ووځي، خپل اصل کار او مسولیت پرېږدي او له پردیو سړیو سره یو ځای شي.

لنډه دا چې کله ښځه له کوره ووته، اولادونه او خاوند یې پرېښود، په هغه امانت کې یې خیانت وکړ، چې ورته سپارل شوی و او بالاخره خپل اصلي مسولیت یې ضایع کړو.پوهېږې په کورنیو کې څه پیښې رامنځته شوې؟ کورونه وران شول، اولادونه یتیمان.بچیان ضایع شول.د ټولنې پایې ولړزېدې او ټولنه له ښځه په بشپړ ډول له منځه لاړه.په دې اړه یوه شاعر څه ښه ویلي دي:

ان التیم هوالذی تلقی له اما تخلت او ابا مشغولا

ژباړه: ربښتینی یتیم هغه څوک دی، چې مور یې له ځانه سره خلوت کوي او پلار یې د ځان لپاره بوخت وي.

په پای کې د یادونې ده، چې هغه وسایل او ابزار، چې په دې کتاب کې پرې بحث وشو، دا ټول وسایل له وړاندې څخه د دښمنانو د جوړې شوې طرحې د عملي کېدو لپاره اوس هم فعال دي.مګر دې ته مو پام وي، چې

د دښمنانو کړنلارې او برنامې د وخت، زمان او مکان له بدلونونو سره سمې بدلون مومي. په هر حال هغه څه، چې رښتیا او موږ یې باور لرو هغه دا دي، چې الله ﷻ خپل دین او قانون کامیاب او غالبوي او فرمايي: (ال عمران\١٨٦)

﴿لَتُبْلَوُنَّ فِي أَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا أَذًى كَثِيرًا ۚ وَإِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿١٨٦﴾﴾

ژباړه: حتماً به په خپل مال او ځان کې وازمویل شئ او هرو مرو به له هغو، چې تر تاسو د مخه کتاب ورکړی شوی او له هغو، چې مشرکان شوي ډېرې خورونې واورئ او که صبر او تقوی وکړئ نو دا له همتناکو کارونو څخه دي.

(بقره\٢١٧)

﴿وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا ۚ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۖ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢١٧﴾﴾

ژباړه: ...او فتنه تر قتل هم واړوي؛ که وتوانېږي، او له تاسو، چې هرڅوک له خپل دني واوړي او په داسې حال کې، چې کافر وي؛ نو د دوی عملونه په دنيا او اخرت کې تباه شول او دوی هغه دوزخيان دي، چې په هغه کې به تلپاته وي.

پوښتنې:

ایا ښځه په اسلام کې د ملکیت حق لري.په دلیل سره ځواب ووایې.

ایا ښځه په اسلام کې د خلیفه د انتخاب حق لري.؟ په دلیل سره ځواب ووایې.

د ښځې لپاره حجاب شرعي امر دی که وضعي؟په دلیل سره ځواب ووایې.

ایا د اړتیا پر مهال ښځې ته له کوره د وتو اجازه شته. په دلیل سره ځواب ووایې.

په شرعي لحاظ د ښځې د کار محل چیرته ټاکل شوی؟روښانه یې کړئ.

(د ښځو او سړیو اختلاط ته بلنه( د ښځې ازادي) دا عناوین څه مفهوم لري؟ ښه یې تشریح کړئ.

د شاعر له نظره اصلي یتیم څوک دی.

لومړی کس، چې په اسلامي هیوادونو کې یې د ښځې د ازادۍ موضوع مطرح کړه څوک و،د کومو کتابونو په لیکلو سره یې دا مفکوره پیاوړې کړه؟

یاده مفکوره ستاسې په هیواد کې څومره بریالۍ ده؟

پای

۱۳۹۴د چنګابښ ۱۰مه

خېل کور،قصبه چهاراسیاب،رسول خان مېنه، جلال آباد

